# د خلیل جبران شهکار لنډۍ کیسې



۱

دلنډۍ کیسې نړۍ

ژباړن : عوض الدین «صدیقي»

SIKARAAM

# د خلیل جبران شهکار لنډی کیسی

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989
SIKARAAM

ژباړن : عوض الدین «صدیقی»

بسم الله الرحمن الرحيم

١

دلنډۍ کیسې نړۍ

SIKARAAM

## د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم : د خلیل جبران شهکار لنډې کیسې

لیکـــوال : جبران خلیل جبران

ژبـــاړن : عوض الدین «صدیقي»

کـمـپـوزر : مصطفی کمپوزنگ سنټر (ډیزاینر عبدالوسیم «عزیز»)

د چاپ کال : ١٣٧٦ هـ ش- ١٩٩٧ م

بـیـه : لس روپۍ

PROPERTY OF ACKU 8072

# یادونه

خلیل جبران د ادبی نړۍ پیژندل شوی او منل شوی څیره ده، په (۱۸۸۳) کی زیږیدلی، په ملیت عرب، په مذهب عیسوی او اصلاً د بیروت دی د فلسفی، تاریخ، هنر او ادبیاتو برخه کی د زیاتی مطالعی او تجربی څښتن دی او د خپل (۴۸) کلن ژوند په بهیر کی په دی اړه زیات قیمتی آثار لیکلی چی د نړۍ په مشهورو ژبو ژباړل شوی، د ژور استعداد، ابتکار، حوصلی او نه ستړی کیدونکی جذبی څخه برخمن و خو عمر ورسره زیاته وفا ونکړه او په (۱۹۳۱) کی د زړه د ناروغی له امله له دی نړۍ سترگی پټی کړی.

جبران زیات شعرونه، ادبی ټوټی او لنډی کیسی لری، لیکنی یوائی د لیکنی له اړخه نه، د موضوع له اړخه هم ممتازی دی که یو ځای کی د شونډو، رخسار او زلفو خبری کوی، بل کی بیا د انسانی همدردی جذبی راویښوی، د ظلم او تیری پر خلاف د جهاد غږ کوی، د انسانی ژوند د پټو لاندی کولو کړیکه وباسی، د انسانیت لار په گوته کوی او د نیکی او بدی نتیجی منعکسوی.

د اوږدی مودی راهیسی می دا هیله وه چی د جبران کیسی وژباړم تر دی وراخوا د نړۍ د مشهورو کیسه لیکونکو د پیژندگلوی او آثارو ژباړی پروگرامونه می زړه کی جوړول خوښه یې ویلی چی «بنده په وس پردی» داردو پرته چی ماته گوره استفاده تری کولی شم نورو بهرنیو ژبو باندی زده نه پوهیږم او چی په اردو ژبه د جبران او نړۍ د نورو ادیبانو کیسی لاس ته راغلی هغو ته دعملی جامی وراغوستل می پیل کړی، د جبران کیسی ترچاپ او

انتخاب وروسته ستاسي مخې دی او که بخت راسره یاري وکړه او ستونزو نور ځان سره ګردلی کې وانځستم د نړۍ د نورو مشهور واد یبانو غوره کیسي به هم د «لنډۍ کیسې د نړۍ» تر سرلیک لاندی ستاسی مخې ته کیږدم خو د پښتو ژبې له ادیبانو، او پوهانو یوه هیله!! خپلی لارښوونی، تجربی او مشوری له ماونه سپموی ددی ترڅنګ چې ماسره یاری کوی مجلو او ورځپانو کې دی د کره کتنی باب پرانیزی او خبره دی د کوټو، پیتاو او دو په دوناستو له پس پسیو راوباسی ترڅو هم موږ خپلو اشتباهاتو ته متوجه کړی او هم د پښتو کیسی ته د پرمختګ لار پرانیستل شی.

د جبران دا کیسی ما د «خلیل جبران کې شاهکار افسانې» او «ګلبدن» له کتاب څخه غوره کړی لومړی اثر ملک اشفاق ترتیب کړی او ۱۹۹۳ کې د لاهور «فکشن هاوس» نشراتی موسسې خپور کړی، په دی کتاب کې د جبران (٤٢) لیکنی د افسانی تر عنوان لاندی خپری شوی خو زیاتره یې ادبی ټوټو او آزاد شعر ته ورته دی نه کیسو ته، څوځلی می دا کتاب ولوست او څوکیسی می ورڅخه چې کیسی هم وی او ښې هم غوره کړی، د «ګلبدن» اثر بیا (اقبال کاردار) ژباړلی او د «رابعه بک هاوس» نشراتی موسسی خپور کړی له دی اثر څخه ما د «ګلبدن» کیسه غوره کړه او په دی توګه د جبران د شهکار لنډو کیسو دا ټولګه برابره شوه.

د جبران د بې شمیره کیسو څخه د غوره کیسو انتخاب ګران کارو خو د خپل انتخاب سربیره ما د ځینوورونو مشوری هم په نظر کې نیولی په هر صورت څه چې غوره شوی ستاسی په لاس کې دی د ژباړی برخه کې د فروغګز صاحب د مرستی زیاته مننه کوم مصطفی سحر او عبدالوسیم «عزیز» ته کورودانی وایم چې د کتاب د کمپوز برخه کې ماسره زحمت وګاله.

عوض الدین «صدیقی».
پاکستان- پیښور.

SIKARAAM

# د محبوب راستنېدل

د شپې تر ځادر غوړېدو وړاندې د دښمن پوځیانو په داسې حال کې، چې تېترونه یې په تورو او نیزو غلبیل، غلبیل پراته و ماته وخوړه اوو تښتیدل او دفاتحینو لښکر دویاړ او خوښۍ په بدرګه په داسې حال کې، چې د آسونو پښې د دښتې په تیږو د ځتک په ځیر لګیدې او د خوښۍ او د سوبې ساز یې غږاوه بیرته راستون شو کله چې لښکر غرته ورسید لمر د غره له شا ځخه سر راپورته کړ د هغه په ځلیدونکې رڼایی کې لوړې ځوکې داسې ښکاریدې تا به ویل چې د خپل قوم او وګړو سره په غرور د ننګې ولاړې دي او په سیمه کې چې دچنارونو کومه ګڼه ګونه وه هغه داسې تر نظر راتله تا به ویل چې تیرو نسلونو دلښنان په تتر کې یو نه لرې کیدونکې داغ ثبت کړې، لښکر پر مخ روان و د لمر وړانګو د پوځیانو وسلې پرقولې او ټنګې له هغوی سره د سوبې او خوښې نغمه بدرګه کوله، کله چې د ټنګې وروستي برخې ته ورسیدل خاورینې غونډې باندې ولاړ آس رمباړې ودرول، پوځیان د پیښې د معلومولو په خاطر نیږدې ورغلل په وینو کې لیت پیت جسد یې ولید د لښکر مشر را مخې ته شو:

«توره یې ماته وښیې تر ځو یې پیژنم»

ځو پوځیان له آسونو کوز شول د جسد ځلور خواوې وپلټلې ځو[۱] دقیقې وروسته

SIKARAAM

یو پوځی د سر لښکر خواته مخ کړ او په لوړ غږ یې وویل:
« د هغه بی حرکته گوتو توره داسی کلکه نیولی چی تری راخلاصول گران ښکاری »
بل وویل:
« توره دوینو په نیام کی ده د هغی فولاد هم نه ښکاری »
دریم وویل:
« وینه د هغه لاس او د توری قبضی کی راغونډه او کلکه شوی او پنجی یی توری سره داسی نښتی ته بهوایی چی دواړه یو دی! »
سر لښکر له آس څخه را کوز شو د جسد خواته ور نږدی شو او ویی ویل:
« لږ یی سرراپورته کړی چی د لمر په رڼا کی یې څیره وگورم »
د سر لښکر امر سمدستی پر ځای کړی شو ، په څیره کی یی د ځوانمردی او تحمل نخښبی ښکاریدی ، د یوه ملی سر ښندونکی څیره ، چی په چوپه خوله یی د ځوانمردی کیسه کوله ، یوه غمگینه اوله خوشالی ډکه څیره ، هغه څیره چی د دښمن مقابله یی په کلکه او میړانی او د مرگ مقابله یی خندا سره وکړه ، د لبنانی جنگیالی څیره چی په همدی ورځ یی جگړی کی گډون وکړ ، په خپلو سترگو یی د سوبی نخښبی ولیدی خو د خپلو ملگرو سره د سوبی د سندری زمزمه کولو پوری ژوندی پاتی نشو ، چی له سر څخه یی دستمال ایسته کړای شو او د تکی زیړی څیری څخه یې د جگړی گرد او غبار پاک کړای شول پر سر لښکر غصی غلبه وکړه ، شاته شو او په درده ډک غږ یې وویل:
« اوه! دا خو ابن الصعبی دی! » .
پوځیانو هم اسویلو سره دا نوم بدرگه کړ او غلی شول ، داسی تا به وی فتحی او بری باندی خمار شو زړونو څخه نشه والوته او په دی خبره پوه شوه ددی ځوان مړینی چی کوم تاوان دوی ته رسولی هغه د فتحی له شرف او بریالیتوب

له عزت څخه زیات مهم دی پر ژبو یې مهرونه ولګیدل او د جسد شا او خوا د مرمرینو تیږو د بتانو په شان ودریدل.

د سر تیرو او جنګیالو پر زړونو باندی د مرګ همدا اغیزه وی ځکه ژړا او ویر د ښځو کار دی او چیغی د ماشومانو، توره په لاس جنګیالیو سره ددی چوپتیا پرته بل څه ښه نه ښکاری، هغه چوپتیا چی له وقار او جلال څخه ډکه وی او با همته زړونه داسی را لاندی کوی لکه د عقاب منګولی خپل ښکار، هغه چوپتیا چی له اوښکو او کریکو او چته وی او چی څومره اوچته وی په هماغه شان د مصیبت او غم بی رحمی زیاته وی..... هغه سکوت چی لوړی ارواوی د غرونو له څوکو د سمندر تل ته راټیل وهی .... هغه چوپتیا چی د توپان راتګ اعلانوی او د توپان راتګ څخه د هغه عکس العمل تونددوی.

سترګو جسد ځاره سوچ یې کاوه چی مرګ خپل لاس چیرته ایښی د ځوان کالي وایستل شول، پر تټر یی د توری تپونه داسی ښکاریدل تا به وی چی له ځګونو ډکه خوله وی او د شپی په چوپتیا کی دمیږنیو همتونو کیسه بیانوی، سر لښکر مخکی راغی او جسد ته ځیر شو، هغه زری دستمال باندی سترګی ولګیدی چې د ځوان پر مټ تړل شوی و تولو په غور سره د ستمال ولید او هغه لاس یی وپیژاند کوم چی دستمال وریښم یې جوړ کړی وه، هغه ګوتی وپیژندی کومو چی دا دستمال ګنډلی و، سر لښکر دستمال خپلو کالیو کی پټ کړ، مخ ته یی لاسونه ونیول او دوه، دری ګامه شاته لاړ، هغه لاس چی په خپلی میراني او قوت سره به یې د ښمنانو سرونه له تنو جلا کول اوس کمزوری شوی و، غصی پری غلبه کړی وه اوښکی پاکولی، پوهیدلی وچی دا دستمال د یوی محبوبی په لاسونو او ګوتو ددی ځوان پر مټ تړل شوی .... د هغه ځوان پر مټ چی په میړانه یې جګړی کی ګډون وکړ، ووژل شو او اوس د خپلو ملګرو په لاسونو د خپلی مینی خواته ورځی، د سر لښکر د فکر نیلی د مرګ

د مظالمو او د مینې د رمزونو مینځ کې چورلیده، د جسد شا او خوا دریدلو پوځیانو ځنې یوه وویل:

«راځئ! ددې ونې ډډ کې ورته قبر وکندو، ریښې به یې وینه څکي او ځانګي به یې له وجود څخه تغذیه کوي ځان به قوي او نه فنا کیدونکې کړي او دا ونه به په دې ځای کې د ځوان د میړانې او زړورتیا یو ژوندی انځور وګرځي!».

دوهم وویل:

«دې باید هلته ښخ کړو چیرته یې چې ځمکه له وینې رنګینه شوې توره به یې ښې اړخ ته کیږدو، نیزه به یې تر څنګ ښخه کړو آس به یې پر قبر ذبحه کړو او وسله به یې د غمرازۍ په خاطر پریږدو».

څلورم مخالفت وکړ:

«نه، نه!! د دښمنانو په وینو سره توره مه ښخوی په زړورتیا سره د مرګ مقابله کوونکې آس مه وژنئ او هغه وسله چې د جنګیالیو آسونو او کلکو متو سره یې عادت اخیستی دا سې ځای کې مه پریږدئ بلکې دا ټول شیان به یې خپلوانو ته ورورو دا د هغو برخه ده»

پنځم وویل:

«راځئ چې شا او خوا یې ودریږو او عیسوي لمونځ وکړو تر څو الله تعالی یې وبخښي او زموږ سوبې کې برکت واچوي!»

شپږم نظر ورکړ:

«د نیزو او ډالونو څخه به تابوت جوړ کړو او مخکې له دې چې خاوري پرې امبار کړو، په ولو به یې یو سر او د فتحې سندرې په زمزمه کولو سره به یې ټولې سیمې کې وګرځو تر څو د دښمن جسدونه وګوري او د ټپونو شونډې په خندا شي!!»

اووم وویل:

«راځې!! په آس يې سپور کړو نیزه یې غاړې کې زوړند کړو او د بریالي پوځ په بڼه یې ښار ته دننه کړو په دې خاطر چې تر هغې یې ځان مرګ ته ونه سپاره تر څو يې چې د دښمن ملا ماته نکړه»
اتم یوه نوې لار پیدا کړه:
«راځی! ددې غرونو دده کې یې خښ کړو، د تنګیو غږ به یې ملګرې شي او دویالو او آبشارونو ملایم غږ به یې دغم پورته کوونکې، او هلو کې به یې په دې ځنګل کې ځان آرام محسوس کړي چیرته چې د شپې ګام هم سپک او لطیف وي!»
نهم داوړاندیز رد کړ:
«نه! دلته یې نه پرېږدو! ځکه د ځنګل وحشت له رحم سره نا آشنا دې بلکې راځې! دې د کلي په هدیره کې خښ کړو هلته به یې د نیکونو ارواوې ملګرې شي د شپې په چوپتیا کې به ورسره پټ پټونې کوي او دې به هغوی ته د خپلو معرکو او عظمتونو کیسې بیانوي».
سر لښکر رامخې ته شو د هغوی تر څنګ ودرید او د لاس په اشاره یې غلې کړل:
«دې د جګړو په یادولو سره مه خپه کوي، مه پرېږدی دهغه داروا غوږونو ته چې زموږ تاسې پرسر ګرځي د تورو او نیزو خبرې ورسیږي! بلکې راځی!! په اطمینان او چوپتیا سره یې خپل هیواد ته ورسوو ځکه هلته به یوه هستې دده انتظار کوي.... یوه پیغله به یې راتلو ته سترګې په لار وي....... موږ ته پکار دې چې هغې ته یې ورسوو تر څو د ځیرې له کتو او مخ له ښکلولو یې محرومه پاتې نشي»
په اوښکو ډکو سترګو او لوړو سرونو پوځیانو د هغه جسد پورته کړ او دغمه ډکې چوپتیا سره روان شول، شاته ورپسې غم ځپلی آس و چې خلک یې ځان

خواته متوجه کول په رمباړو، رمباړو پر مخ روان و، تنګیو د هغه رمباړی داسی منعکسولی تابه وی چی زړه لری او د خپګان شدت احساسوی، سیمی کی د لمر وړانګی ورو ورو خوریدی، د فتحی جلوس، د مرګ د جلوس شاته روان و او تر دوی وړاندی مینی خپل ماته وزرونه راټول ول.

SIKARAAM

# دقبرونو کړیکې

-۱-

امیر دانصاف په کرسۍ ناست و، ښي او کیڼې خواته یې د سلطنت پوه کسانو ډډې وهلې وې، د پخو عمرونو او ځیرو څخه یې دعلم او پوهې نور وریده، شا- او خوایې پوځیانو توری پرقولې او نیزې اوچتې نیولې وې، مخامخ دلیدونکو ګڼه ګوڼه وه، ځنې داسې و چې دلیدو هیلې راکش کړي و او ځینې بیا دفیصلو په انتظار و، سرونه ځوړند، سترګې ټیټې او ساه نیولې و، داسې تا به وې دامیر په سترګو کې کوم قوت دی چې هغوی باندې ویره او ډار حاکم کړی او زړونو کې دهغه خواته دمیلان تخم کرلی، مجلس ختم او دفیصلو ساعت رانږدې شو، امیر لاس پورته کړ او په لوړغږ یې وویل: «...مجرمان یو، یو زما مخې ته و دروی او ووایې! دهغوی جرم او ګناه څه ده؟» دجیل دروازه پرانیستل شوه، تور دیوالونه داسې ښکاریدل لکه دیوه خونړي ځناور ستوني! څلورو خواوته دزنځیرونو او زولنو دشړنګار سره دبندیانو دویر او ماتم غږونه پورته شول، خلکو سترګې پورته کړې، ورمیږونه یې یوې بلې خوا واړول تا به وی چې دقبرونو څخه دمرګ دښکار دلیدو په خاطر راوتلي او دقانون څخه مخکې کیدل غواړي، دلږ ځنډ وروسته دوه پوځیان دیوه ځوان سره د عدالت کوټې ته را دننه شول، دمجرم ځیره دمتانت او صبر هنداره وه،

دمجرمینو ځای ته لور تیل واهه او پوځیان دوه گامه شاته شول، امیر څو دقیقې سترگې پکې ښخې کړې او وې پوښتل: «... ددې ځوان گناه څه ده؟ زما مخې ته داسې په لوړ سره ولاړ دی ته به وایې د عدالت کوټه کې نه، دویاړ کوم ځای کې ولاړ دی!».

دسلطنت دارکانو څخه یوه ځواب ورکړ «...دا قاتل دی، پرون ده دحکومت یو مسول پوځې هغه وخت وواژه چې دکلو په دوره وتلی و، هغه یې ځمکې باندې غورځولی و، سینې لاندې کړې و اوبیایې وژلی و او په کوم وخت کې چې ونیول شو په وینو ککړه توره یې لاس کې وه».

امیر له زیاتې غصې ولړزید دغضب او قهر غشې یې له سترگو په وریدو شول او په غصه یې وویل: «... دی بیرته هماغه تور تم ته بوځې، په زنځیرونو یې وتړې اوسبا یې پخپله توره سرغوڅ کړې، جسد یې ځنگل کې وغورځوی! ترڅوغوښه یې دمارغانو خواړه شي اوباد یې دخوسا جسد بوی خپلوانو او دوستانو ته ورسوی!!

ځوان یې دجیل خواته بوته دخلکو سترگو تعقیب کړ اوفضا دسړو اسویلو څخه ډکه شوه.

راشه!! ای دمضبوط جسم او ښایسته څیرې پیغلې!!

پوځیانو یوه نازک اندامه او ښایسته ښځه راونیوله او رامخکې شول، دهغې په څیرې کې دخپگان او نا امیدې نخښې وې، سترگې له اوښکو ډکې وې او ولو باندې د پښیمانتیا اوندامت بار پروت و امیر چې ولیده وېې پوښتل:

«... او ددې بدې ښځې جرم څه دی؟ زما مخې ته داسې دریدلې لکه دحقیقت ترڅنگ سیورې!»

یوه پوځې ځواب ورکړ: «... دایوه بدکاره ښځه ده، پرون شپه یې د ملگرې غیږ تودوله، میړه ولیده پولیس ته یې وسپارله اوملگرې یې تښتیدلی...»

امیر په غور دهغې خواته ولیدل. دقهر اوغصې څخه یې غاښونه وچیچل او

امر یې وکړ: «داد جیل تورو کوټنو ته د ننه کړی، ازغوباندی وغورځوی ترڅو خپل پالنګ ور په یاد شی کوم چې دی ناپاک کړ، په شاتو کی ورته دمرغونی اوبه ګډوی او پری څکی یې، ترڅو دهغو ښکلولو خوږوواله ور په یاد شی چې دخاوند پر ته بل سره مذهب او قانون دواړو کی حرام دی او سبا سهار یې لوڅه کړئ، ښارته یې وباسی او بیایې سنګساره کړی جسد یې همالته پریږدی ترڅو غوښې یې لیوان وخوری او هډوکی چینجی سوری سوری کړی».

ښځه دجیل په تیارو کی ورکه شوه په دی وخت کی لیدونکو دامیر پر عدالت او انصاف حیرانونکی خوښی هم څرګندوله او دښځی پرغم ځپلی څیری اوله درده ډکو لیدو افسوس هم....!

یوځی یو کمزوری بوډا رامخی ته کړ، هغه لړزیدونکو پښو باندی را روان چې عاجزی یې څلور خواته وکتل، له درده ډکو سترګو څخه یې خپګان، محتاجی اوبدبختی وریده، امیر چې دهغه خواته وکتل په حقارته ډکې لهجی یې پوښتنه وکړه: «.... او ددی ناپاک کس ګناه څه ده؟ داسی دریدلی لکه په ژوندیو کی مړی!».

یوه پوځی ځواب ورکړ: «داغل دی، پرون شپه یې له کلیسا غلا کړی خو معصومو راهبانو نیولی، دپلټلو په دوران کی دکلیسا لوښې هم ورڅخه پیداشوی...»

امیر دهغه خواته داسی وکتل لکه وږی تیوس چې دوزرماتی مرغی خواته ګوری، په لوړ غږ یې وویل: «.... دی دجیل تنګو اوتیارو زیرزمینیو ته ورـ واچوی، په فولادی زنځیرونو یې وتړی اوسبا سهار یې یوی لوړی ونی کی زوړند کړی، غاړه کی دوریښمنو پړی واچوی او چی ساه یې وختله بیا یې هم مړی زوړند پریږدی ترڅو چینجی یې بند، بند او تس نس کړی او باد یې په هوا کړی...».

غل یې زندان ته بوته او خلکو خپلو مینځو کی ګزمزی پیل کړل:

«دی بی ایمانه بوډا! دمقدسی کلیسا دلوښو دغلاکولو جرئت څنګه کړئ؟»
امیر دانصاف له کرسی راښکته او د پوځیانو مینځ، مینځ کی روان شو، دسلطنت غړی هم شاته ورپسی په حرکت شول، لیدونکي ورو، ورو خواره شول، او دبندیانو بی هیلی اسویلی او کړیکی فضاء کی داسی تاویدی لکه ددیوالونو سیوری!
څه چې باید شوی وی وشول خوزه همالته دریدلی پاتی شوم، دهغی هنداری په بڼه، چې دمتحرک شی مخی ته اینبودل شوی وی، ماهغو قوانینو باندی فکرکاوه کوم چې انسان دانسان لپاره جوړ کړی اوهغه حماقت ته می زړه پرسیدلی و چې نړی ورته عدل اوانصاف وایی، دژوند داسرارو پته مې لګوله، تردی چې ماغزه می خراب شول دفکر نیلی می داسی وشلیده لکه چې شفق وریځو کی پټ شی، له هغه ځایه لاړم زړه کی می ویل:
« واخښه دځمکی عنصرونه زیږښی، پسونه او وزی واښه پښو لاندی کوی اوخوری، لیوان بیا پسونه او وزی ښکار کوی اوګرګدن بیا لیوه وژنی، زمری بیا ګرګدن ښکار کوی اومرګ زمری له مینځه وړی.... آیا داسی کوم قوت هم شته، چې پر مرګ باندی غالب شی او دظلمونو دالړی په انصاف بدله کړی؟....... آیا کوم داسی قوت شته چې دنفرت له دی اسبابو ښی نتیجی لاس ته راوړی؟....... آیا کوم څوک شته چې دژوند داټول اجزا ځان سره ونغاړی، په خندا او خوښی یې ولوښوی او ځان ته یې جذب کړی لکه سمندر چې ټولی ویالی په نڅا اوسندرو جذبوی! آیا داسی کوم قوت شته؟ چې قاتل اومقتول، زناکار اوملګری، غل او دکلیسا هغه پادریان چې مال یې غلاشوې داسی عدالت کی ودروی چې دامیر له دی عدالت څخه ډیر لوړ او غوره وی....»

(۲)

په دوهمه ورځ زه له ښار څخه وتلی شنو سیمو ته لاړم، چې سیمی ته نږدی

شوم ومی لیدل دعقابونو، کارغانو او تپوسانو ډلی گرځی کله ځمکی ته راتیتی شی او کله دآسمان خواته پورته شی تو له فضا کی دهغوی د چیغو او د تیټ او جگ کیدو غږونه چورلیدل، دحقیقت دمعلومولو په خاطر دوه، دری گامه وړاندی لاړم ومی لیدل چې دیوه نارینه جسد ونی کی زوړند دی، دیوې ښځی لوځ جسد هغو تیږو مینځ کی پروت دی کومو باندی چې داسنگساره شوی او دیوه ځوان تنه خاورو او وینو کی لیت پیت پرته ده او سر یې ترځنگ گوښې غورځیدلی، ودریدم ددی صحنی ویری زما پرسترگو پرده وغوړوله، سترگی مې پورته کړی وینو کی ککړو جسدونو مینځ کی می دمرگ دسیوری پرته څه ونه لیدل... غوږ شوم دانسانی قانون ښکاریاندی مې د کارغانو دکاغ.. کاغ او دنیستی د کړیکی پرته څه وانو ریدل، دزړه دری توټی! چې تر پرونه دژوند غیږی کی وی، نن دمرگ منگولو ته لویدلی!.... دری کسان! چې په عامه اصطلاح یې د قانون څخه سرغړولی و او ړانده قانون په ډیری بې دردی خاوری کړل.

دری هستی! چې جهالت مجرم وبلل.... ځکه چې هغوی کمزوری و او قانون دمرگ غیږی ته وسپارل.... ځکه هغه قوی و.

یوه کس بل وواژه نړی وویل: «....: داظالم قاتل دی» خوچې امیر بیا هغه وواژه بیایې وویل: «امیر انصاف پالونکی دی»، یوه کس کلیسا کی غلا وکړه خلکو وویل: «داغل دی» خو چې امیر ژوند تری واخیست همدی خلکو وویل: «امیر داحترام وړ دی».

یوی ښځی دمیړه امانت کی خیانت وکړ هر واړه زاړه وویل: «دا رنډی ده» خو امیر چې بربنډه کړه، لوڅه یې بازارونو او کوڅو کی وگرځوله او دټولو وړاندی سنگساره کړه خلکو وویل: «امیر دشرافت تږته ده».

دوینی تویول حرام دی خو دامیر لپاره چا حلاله کړی، دمال غلا کول جرم دی خودژوند څخه دانسان محرومول چا دعظمت سبب او نخښه گرځولی – ښځه

چې دمیره امانت کې خیانت وکړي بدکار دی خو دهغی لوڅول چاښه کار بللی؟

مور دبدی مقابله دهغی څخه لوی بدی سره کوو او وایو دا قانون دی، مور فساد په فساد سره ختموو او چیغی وهو!! داناموس دی، مور پرجرم دغالب کیدو په خاطر نوی جرم کوو او نعری وهو! دا انصاف دی.

آیا امیر کله دخپل دښمن سر په توری نه دی غوڅ کړی؟ آیا هغه کله دلاس لاندی کس ځمکی په زور نه دی قبضه کړی؟ آیا کله کومی ښایسته ښځی دهغه په شهوانی جذبو کې توپان نه دی راپورته کړی؟ آیا ټول ژوند کې یې ځان له دی گناهونو ساتلی چې دهغه لپاره دقاتل وژل، دغله دار ته خیجول او زناکار سنگسارول جائز گرځیدلی؟ داڅوک و چې داعدام په خاطر یې غل ونی پوری زوړند کړ؟ آیا فرښتی راتیتی شوی وی یاهم هغه خلک وچې څه په لاس ورځی دمور دشیدو په شان یی خوری، داڅوک و چې دقاتل سریې غوڅ کړ؟ آیا له آسمان څخه پیغمبر (ص) نازل شوی و؟ یا هم هماغه پوځی وچې خلک وژنی او وینی داوبو په څیر څکی، داڅوک وچې زناکاره یی سنگساره کړه؟ آیاتوله شپه په عبادت بوخت کسان راوتلی و؟ یاهم هماغه کسان وچې ټل گناهونو کې ډوب وی اودشپی په تیارو کې لوبیږی.

قانون.... قانون څه دی؟

کوم وخت کې فرښتو انسانانو ته ویلی چې «کمزوری له ژوند څخه محروم کړی! گنهکار ووژنی او خطاکاران له پښو وغورځوی!!»

ماغزه مې همدی سوچونو سره لاس گریوان او جذبې می دی افکارو په مخه کړی وی، په همدی وخت کې مې دچاد پښو غږ واورید، ورو، ورو رانږدی کیده ومی ولیدل یوه ځوانه ښځه دویری ځلورو خواووته وگوری، دونو له ځنگل څخه راووځی او جسدونو ته ځان ورسوی، چې دځوان غوڅ شوی سر یې

ولید دزیاتی غصې څخه په لړزې شوه ، مخکې ورغله اوهغه یې په لړزیدلو لاسونو را او چت کړ، له سترګو یې اوښکې روانې شوې، د هغه ګېډه ویښته یې لاس کې ونیول اوداسې له درده ډکه ژړا یې پیل کړه چې دزړه له تل څخه یې راوتله کله چې دژړا او کړیکو او نا امیدی دیرغل مقابل کې مغلوبه شوه سمدستي یې په لاسونو دقبر کندل پیل کړل. دیوه اوږده قبر تر جوړولو وروسته یې دځوان جسد کش کړ او ورو یې غورځاوه په ډیره سختۍ یې سر راواخیست اودهغه ددواړو ولو مینځ کې یې کیښود ، قبر باندې خاورې راوغورځولې او توره یې قبر باندې ودروله، کله یې چې غوښتل روانه شي ور مخې ته شوم، زما په لیدو یې تکان وخوړ ، دزیاتي ویرې داسې ولړزیده چې پر ځمکې ولویده، ګرمې، ګرمې اوښکې له سترګو دباران په شان وریدې سوړ اسویلی وایست او وې ویل:

« که ته غواړې امیر ته زما شکایت کولی شې! زما لپاره دا ښه ده چې مړه شم او هغه چا سره یو ځای شم چې زه یې دبدنامي له منګولو خلاصه کړم، ولې دهغه جسد سپیو او وحشي ځناورو ته پرېږدم. . . »

ماورته وویل:

« مصیبت ځپلې خورې! ما ستا تر راتګ وړاندې پردې ځوان ویرکاوه، له مامه ویریږه! ماته ووایه! ده څنګه دبدنامي له منګولو ژغورلې یې ؟

له زیات درد څخه په سلګو شوه او وې ویل: « . . . امیر زموږ کلي ته یو مامور دمالیې راټولولو په خاطر رالیږلی و کله چې هغه ولیدم یوه ویرونکې خوښي اوځلا یې سترګوکې پیدا شوه، زما پر پلار یې ډیره درنه مالیه کیښوده، دومره درنه چې خان هم نه شوه ورکولی، دمالیې دنه پوره کیدو په بدل کې هغه زه راونیولم ترڅو دامیر محل ته مې ورسوي، ماپه ژړا ترې دترحم غوښتنه وکړه خو ویې نه منله، دپلار سپین ږیری توب مې ورته واسطه کړ خو زړه یې نرم نه شو ، مجبوره شوم چیغې مې کړې او دکلي له خلکو مې مرسته



SIKARAAM

وغوښته، دا ځوان چې زما نامزاد هم و راغی او زه یې دهغه ظالم له منګولو خلاصه کړم دامیر دمامور غصه له حده زیاته شوه او غوښتل یې هغه ووژنی خو ځوان پرې ور دمخه شو مخامخ دیوال کې زوړنده توره یې راواخیسته، مامور یې پر ځمکه وغورځاوه او په یوه لاس یې هغه له مینځه یووړ، میرانی هغه تیښتی ته اړ نه ایست، دعامو مجرمانو او قاتلانو دا کاروی چې تېښته کوی خو دادمیړانی او زړورتیا پیکر همالته دریدلی و تردی چې پوځی راغی او ویې نیوه.... »

زما خواته یې داسی راولیدل چې زما دزړه توټی یې والوزولی اوسینی کې دغم داور لمبو ته لمن ووهله، ګړندی ګامونه یې واخیستل اوله هغه ځایه لاړه، په فضا کی دهغی له درده ډک غږ او کریکی چورلیدی.

دلږ ځنډ وروسته ماولیدل یو ځوان چې په لستونی یې ځیره پټه کړی، دی خواته را روان دی د ښځې جسد ته چې راورسید خپل کوټ یې وایست اودهغی پر بربنډ وجود یې ورواچاوه بیا یی په توره قبرو کنده، ورو یې جسد پورته کړ او هلته یې خښ کړ په داسی حال کی چې له سترګو یې اوښکی لکه باران وریدی او ځان یې نشو کنترولولی، پر قبر یې خاوری را انبار کړی له شا او خوا بوټو ځخه یې ګلان راوشکول یوه ګیډی یی تری جوړه کړه او قبر باندی کیښوده، چې دتګ اراده یې وکړه ماودراوه او ورته ومی ویل: « دامیر دحکم ځخه دی سرغړونه وکړه او ترکانو لاندی شوی جسد دی دښکاری مرغیو له خوراک نه وژغوره... »

زما خواته یې ولیدل، سترګی داسی دډرد او غم ځخه ډرنی او سری وی چې پخپله یې دغم کینه بیانوله ، ژوره ساه یی واخیسته او په درده ډک غږ یی وویل:

« .... زه هماغه بد نصیب انسان یم دچا له وجی چې داسنګساره شوه، مور دهغی ورځې راهیسی یوبل غوښتل، چې ورکوتی و او کورونو کی مو لوبی

کولی، دعمر سره یو ځای زموږ مینه هم پخیده تردی چې دا زما ملکه و-
گرځیده او خدمت یې ما خپل ایمان باله، مینی دهغې خواته کش کولم او چې
ومی لیدل داروا هر څه می هغې ته وقف شوی سینی کی می ځای ورکړ، یوه
ورځ د ښار ښخه بهر تلی وم په همدې ورځ یې پلار هغه په زور داسی یو چاته
نامزد کړی وه چې دی کرکه تری درلوده کله چې بیرته راغلم اوله دی پیښی
خبر شوم ورځې مې تورو شپو باندی بدلې شوې او ژوند می یوه بدبختی او
عذاب وگرځید کوښښ می وکړ خپل جذبات ساړه او دزړه غوښتنی ووژنم
خومینه راباندی غالبه شوه او زه یې غلی او په پټه توگه داسی هغی ته
وروستم لکه یو بینا چې ړوند چیرته بیایې، دنیکه بخته ماته دهغی دنوره
ډکو سترگو او له نغموډ ک غږ داوریدو موقع په لاس راغله، ماولیدل چې هغه
یواځې ناسته ده او خپل قسمت باندی ژاړی ، خپلې هغی مینی باندی ژاړی
چې دسوکاله کید وراندی تولنیزو جهالتونو له مینځه یووړه لږ لری تری
کیناستم، چوپتیا زموږ خبری وی او سپیڅلتیا زموږ ساتونکی، خو افسوس!
یوساعت نه وتیر شوی چې خاوند یې راغی، زما په لیدو دهغه ددښمنی جذبه
راوینبه شوه، په وحشی لاسونو یې دنازک ورمیږ څخه ونیوله اومخکی یې
روانه کړه، چیغی کړی:

« .... ای خلکو! راشی!! رنډی اوملگری وگوری. . . !!! »

گاونډیان یې راورسیدل او ددوی تر خبریدو وروسته پولیسو هم ځان
راورساوه، ظالم میړه دبی رحمه پولیسو منگولو ته وروسپارله اوهغوی په
زور داسی بدحالت کی کش کړه چې دی ویښته شکول او کالی یې څیری کول
پاتې شوم زه، زمانیول خو پر ځای پریږده چا داونه پوښتل چې « ته څو ک
یې؟ »

ځوان پر خپلو کالیو څیره پټه کړه او دښار خواته بیرته روان شو او زه پخپل
ځای کی دریدلی وم په غور می داحالت لیده او ساړه اسویلی می ایستل، کله

به دهوا په څپو کې حرکت پیدا شو ونې کې زوړند ځوان به یې وخوراوه داسې تا به وی فضاء کې موجود و اروا و څخه غواړی چې له دار څخه مې راکوز کړی او دغیرت او مینې دشهیدانو ترڅنګ مې ویده کړی یو ساعت وروسته شلیدلیو کالیو کې یوه زړه ښځه راښکاره شوه زوړند مړی ته چې راورسیده ودریده چیغې کړی او تتر یې واهه، ونې ته وختله او پړی په خپلو غاښونو وشکاوه، جسد ځمکې ته راوغورځید، داسې لکه چې او بوته یوه ناولې ټوټه راوغورځی، ښځه له ونی راکوزه شوه اودهغو دوقبرونو ترڅنګ یې نوی قبر وکانده، جسد یې خښ کړ او تر خاورو وراچولو وروسته یې دوه لرګی راوړل، صلیب یې تری جوړ کړ اودقبر سر کې وتوښه، کله یې چې د تګ په نیت مخ واړاوه ما ودروله او تری ومې پوښتل:

« څه مصیبت دربانړې نازل شوی چې د یوه غله دخښولو په خاطر دلته راغلی ».

په اوښکو ډکو سترګو چې دزیات درد او ژړا څخه پرسیدلی وې زما خواته ولیدل او وی ویل:

« .... دازما سپیڅلی او ګران میړه دی، تر پرونه زما دغمونو ملګری او اولادونو غمخور و... دهغو اولادونو پلار چې مشر یې داو وکالو، کشر یې تیې پوری دی اوهمدا اوس دلوږی چیغې وهی..... داغل نه دی بزګر دی او دکلیسا ځمکې قولبه کولی، ددی کار په بدل کې به پادری دومره ورکول چې دماښام به وشول او سهار ته به یوه ګولی مړی هم نه پاتی کیده هغه ټوله ځوانی دکلیسا ځمکو کې تیره کړه، دخپلو وینو اومتو په زور یې دکلیسا بڼونه شنه وساتل او حاصل ته یې برابر کړل خوددی درانه کار بدل اوګټه ده ته داوه چې کله سپین ږیری شو ډیر لږ کار به ستړی کاوه، نو یو ناروغیو حملې پری وکړی او چې هغوی ولیدل کمزوری شوی له کلیسا یې وایسته « .... څه! کلیسا اوس تا ته ضرورت نلری، که زوی دی ځوان شو مونږ ته یې راولیږه ستا



SIKARAAM

دنده به وروسپارو. . . » پادریانوته یې زیاتې زارۍ وکړې خوچې وی لیدل هغوی باندې اغیزه نه کوی زه یې وروليږلم، ورغلم، دعيسى (ع) په نوم مې قسم ورکړ اود ترحم غوښتنه مې ترې وکړه، په پرښتو او دالله تعالی نیکو بنده گانو باندې مې ورته قسم ورکړ خو هغوی نه پر موږ رحم وکړ، نه هم زموږ پر ماشومانو، میره مې مجبور شو دمزدورۍ په نیت دښار خواته لاړشي، له هغه ځایه هم مایوسه راستون شو ځکه چې په ښکلو ماڼیو کې اوسیدونکو هم دخدمت لپاره ځوانان په کار و کله چې دڅلورو خواو څخه مایوسه او نا امیده شو دخیرات ټولول یې پیل کړل خلکو هغه دخیرات قابل هم ونه باله هر یوه به همدا ویل «دتا په شان تنبل او حرام خورته خیرات ورکول جائز ندي. . . . » ،

یوه شپه بیا داسې راغله چې لوږې او غریبۍ بیخي بې وسه کړو، ماشومانو دلوږې له لاسه ځانونه په ځمکه وهل، تې خورې ماشوم به مې تیونه رول خوچې شیدې به یې پکې پیدا نکړې بیا به یې وغ. . . وغ ژړل، ددې صحنې په لیدو زما دخاوند رنگ بدل شو او دشپې په چوپتیا کې یې دکلیسا هغې کوټې ته ځان وغورځاوه کومې کې چې پادرې دشرابو او غلې ذخیرې جوړې کړې وې، یوه بورۍ وړه یې په شا کړه او غوښتل یې راووځي چې پادرې پاڅید او هغه یې ونیوه ښه یې وواهه او کنځلې یې ورته وکړې چې سهار شو پولیسو ته یې وسپاره او ورته وی ویل:

« . . . . داغل دی، دکلیسا دسرو زرو لوښې یې غلا کړې و » پولیسو ونیوه او امیر دخپل حکم له مخې په دار وځړاوه ترڅو ټپوسان یې په غوښه خیټې مړې کړې یوا ځې په دې گناه چې ده غوښتل هغې غلې باندې دماشومانو خیټه مړه کړې کومه یې چې کلیسا کې دنوکرې په وخت راغونډه کړې وه. غریبه ښځه لاړه، دهغې ماتې گوډې خبرې یو تصویر وگرځید او داسې هرې خوا خور شو تابه وی چې دوریځو له چت سره هوا لوبې کوی.

زه دهمدې دریو قبرونو مینځ کې ولاړ وم، دهغه لړزیدونکي مجرم په شان،

چې دزړه درد یې خوله بنده کړې وې، له سترګو یې یو ځاځکی پر غمبوری راوڅاځی اوده غه دتولو جذبو ترجمان شی، ماځه باندی فکر کول غوښتل خوماغزه مې ورته چمتو نشول، زه ولاړوم اودقبرونو له خاورو دمظلو میت کړیکه پورته کیده لکه تنګیو کی خاص غږ وی..... او دخپل غیږ رارسولو په خاطر مې تر غوږ ګرځی راګرځی...... غلی ودریدلی وم.... او ساړه اسویلی مې ایستل.... که زما دساړو اسویلو شغلی پر شاوو خواو ونو لګیدی نو لړزیدلی به وی، ریښی به یې غوځی شوی وی، په حرکت به راغلی وی، په خپلو ځانګو به یې دامیر اودهغه دپوځ مقابله کړی وی او په خپلو تنو سره به یې دکلیسا دیوالونه پر پادریانو راغورځولی وی، ودریدلی وم اولیدل مې، زما لیدو سره هغوی باندی دشفقت اومهربانی خواږه اودغم او خپګان تریخواله وریده ........ دیوه ځوان پر قبر چې دیوی کمزوری اوبې مرستي کوونکی پیغلی عزت یې وساته اوهغه یې دلیوانو له منګولو خلاصه کړه خو ددی شرافت اومیړانی په بدل کی یې سر غوڅ شو پیغلی په دی خاطر توره پر قبر کی خښه کړه چې دظالم او جاهل حکومت په دوران کی دمیړانی دنتیجی انجام دیوه داستان په بڼه خلکو ته یادګار پاتی شی.....

دیوی ځوانی ښځی پر قبر، چې دجسمانی غوښتنو تر وینښتیا وړاندی، روحانی محبت اومینه یې خپله کړه اوسنګساره شوه، یواځی په دی خاطر چې زړه کی یې دمرګ تروخته دخپل مین دامانت ساتلو پرته هرڅه مسترد کړل، مین یې خاطر پر قبر دګلانو ګیډی کیښوده چی ترمړینی وړاندی هغو هستیو باندی رڼا یې واچوی، دکومو مینی چې دی قوم ته سپیځلتیا او امتیاز ورکړ، اومادیت ړانده او جهالت باندی اخته کړل ........ دهغه غم ځپلی غریب پر قبر چې په خپلو متو یې دکلیسا دځمکی او بڼونو خدمت کړی و، ستړی شوی و او پا دری په دی خاطر ځواب ورکړ چې دا متې ستړی شوی او دده په ځای له نورو قوی متو کار اخیست، مجبور شو او غوښتل یې

مزدوری وکړی او خپلو ماشومانو ته روزی وګټی خو چاله هغه کار اخیستل هم غوره ونه بلل، بیا یې ځان خیرات اخیستلو ته مجبور کړ خو دالله تعالی یوه بنده هم خیرات ورنکړ او چې له هری خوا مایوسه شو کوښښ یې وکړ دهغی غلی ځخه چې دزړه په وینو یې را ټوله کړی وه یو څه ځان ته راوباسی، دکلیسا پادریانو ونیوه او امیر ددار تختې ته وخیژاوه، میرمنې ځکه پرقبر صلیب جوړ کړ چې دشپې په چوپتیا کې ستوری دپادریانو پر ظلم شاهدان ونیسی.

لمز دشفق په پردوکی پټ شوی و داسې تابه وی چې دانسان دمصیبتونو په لیذو سترې شوی او زیاتو ظلمونو او تیریو له هرڅه غورځولی، ماښام دتیاری او چوپتیا دیوه دروند څادر په شان راروان و ، ماد آسمان خواته ولیدل، دقبرونو اودهغوی داسرارو او رمزونو خواته می لاس پورته کړ او په لوړ غږ می وویل:

« ای زړورتیا اومیړانی ! داستا توره ده چې خاوره کی ښخه شو ! »

« ای مینی ! داستاګل دی چې داور شغلو ځان سره رانغاړلی!! »

« او ای مسیح ناصری! داستا صلیب دی چې دشپې تیارو پټ کړی!! ».

SIKARAAM

PROPERTY OF ACKU 8072

# گلبدن

(۱)

لا په زانگو کې وه چې پلار یې له دې نړۍ سترگې پټې کړې او چې لس کلنه شوه د مور له مینې د کې غیږې څخه محرومه شوه بې پلاره او موره گلبدن نور د یوه غریب بزگرد رحم تر سیورې لاندې ورځې تیرولې، دا بزگر د جنوبي لبنان د ښایسته غرونو لمن کې اوسیده.

پلار، «گلبدن» ته د چارمغزو او ولو مینځ کې د یوې کوټنې او نیک نوم پرته څه نه وو پرې ایښې د پلار تر مړینې وروسته د مورد مینې په اسره ژوندې وه خو چې مور هم د بیلتون څپیره ورکړه دلومړي ځل لپاره یې بیچارگي او ناتواني حس کړه، اوس هغه یوه یتیمه او بې پلاره او موره «گلبدن» وه! د مور مړینې زړه کې داسې خلأ پیدا کړې وه چې کله هم نشوه ډکیدې، پراروأ یې ورته داسې ټپ لگولې و چې نشویې زغملې!، په دې پراخه نړۍ کې یواځې پاتې وه او ځان یې یو سر گردانه پردیسې باله! هره ورځ به یې غوا گانې شنو سیمو ته بولې، په داسې بڼه، چې ښایسته پښې له بوټونو او طلا یې ویښته له ټیکرې محروم و! غواگانې به شنو سیمو کې څریدې او دې به د مرغیو او ویالو سره نغمې بدرگه کولې! د غواگانو په مړیدو به خوشحالیده او چې پرگلانو

ګډيوونکي پرېږي او ګرځيدونکي بوراګان به يې وليدل مسکي، مسکي په وه، تياره ماښام به د غواګانو سره بيرته راستنيده او د بل وخت تر سرې دوړې خوړلو وروسته به ويده وه، خواره بو ـ س يې بستره او نازک اونرم لاس يې بالښت و، په ويده، ويده کيدو کې به دې فکر په مخه کړه «کاشکي!. ژوند يو ژور خوب وي چې نه ليدونکي خوب غو ځولي او نه هم ويښتيا غلبه پرې کولي شوي...!»

سهار وختي به بادار پاڅوله او په لړزيدلو لاسو به بيا کار ته روانه وه!

د غم او خپګان ورځې د زمانې په ګرد او غبار کې خښې شوي، «ګلبدن» د ګلاب د بوټي په شان ځوانه شوه! په زړه کې يې د مينې يوه چو په جذبه وټو کيده داسې عجيبه جذبه، چې په خپله هم ورسره نا آشنا وه، تا به وي چې د خپل ښايست څخه بې خبره ده!

موږ د ښارونو په غالمغال کې ژوند کوو، د غرونو د لمنو او شنو سيمو د اوسيدونکو په باب څه باندې نه پوهيږو..... د ښارې ژوند په لاندې باندې کيدونکي غيږ کې پراته يو او د کليوال ژوند د چوپتيا، سکون او ښکلا په اړه نه پوهيدل دا فسوسه ډ که دې! هغه کليوال ژوند چې د ګل فصل سره په موسکاوې او د ګرميو ورځو کې د محنت او عظمت سندرې وايي، ژمې کې د آرامتيا غيږ کې ويده وي او د برسات موسم کې د اميد سندرې شونډو باندې لاندې باندې کوي! د فطرت سره مټ په مټ پرمخ ځي! ربښتيا ده چې زموږ لمنې د جواهرو ډکې دي او له صندو قونومو سره او سپين څاخې خوتر کومه چې اطمينان، آراميتا، دولت او قناعت پورې اړه لري دا يواځې کليو کې د اوسيدونکو په برخه دي زموږ زړونه له آرامتيا او اراوې له اطمينان خالي دي..... موږ دګټو مريانو يو او هغوي د قناعت مجسمې! زموږ د ژوند له جام څخه ويره خپګان او حرص په څڅيدو دي او د هغوي د ژوند جام د آرامتيا له خوښيو ډ ک، موږ د دوکې او فريب مريان او د حرص او هوس په منګولو

کې نښتي يو.... او هغوی د اخلاص، صداقت او بې نيازي ځلي دي! دروغ زموږ بادار دی، او ښتيا د هغوی رب النوع!

«گلبدن» شپاړس کلنه شوې وه، د يوې چينې تر څنګ د زيړو پاڼو ليدو کې ډوبه وه، د هوا شرار يې اوريده چې د ونو او څانګو به داسې تيريده لکه څنګه چې مرګ زموږ له سرونو تيريږي، هغه مړاوی ګل ته يې ليدل چې له ژوند څخه محروم شوی و خو تخم يې د ځمکې غيږ کې پټ و او نوی ژوند ته سترګې په لار! ګلانو او بوټو ته يې ليدل او د ګرمی د غم ډک بيلتون احساس يې زړه تخناوه، ناڅاپي يې د آس د پښو غږ واورېد، ټکان يې و خوړ او چې مخ يې واړاوه، ليدل يې يو په آس سپور ددې خواته ورو، ورو راروان دی، په څيره کې يې د اطمينان نخښې وې، «ګلبدن» باندې سلام واچاوه او وی ويل:

«مالاره غلطه کړې مرسته را سره کولی شې؟

پاڅيده، داسې تا به وی يو کړه څانګه سمه شوه، ځواب يې ورکړ: «ماته پخپله د ساحل لارنه ده معلومه، انتظار وکړه، خپل بادار څخه پوښتم او زر به راشم... »

په مشکل يې دا خبرې وکړې او دې خبرويې په ښايست کې يو نوی رنګ ور زيات کړ چې د تګ اراده يې وکړه په لاره تلونکي پرديسي ودروله، ځواني يې په رګونو کې موجونه وهل او سترګې داسې ځليدې چې هغه حالت نشي بيانيدی.... «ګلبدن» ته يې وويل:

«نه...... نه....... تکليف مه کوه! ...... »

«ګلبدن» يې په غږ کې داسې قوت احساس کړ چې حيرانه يې کړه چيرته چې ولاړه وه همالته دريدلې پاتې شوه ....... له حيا ډکې وريځې پورته کړې، پرديسي ته يې ورولېدل او بيرته يې سترګې ټيټې کړې.... هغه سترګې پکې خنبې کړې وې... داسې ورليدل چې د شوق او پوښتنو نخښې پکې له ورايه ښکاريدې! موسکې وخو «ګلبدن» ددې موسکا پر معنی نه پوهيده...

برینډو، نازکو او نرمو پښو او پخنی سره کړی رخسارته یې ځیرو، ښایسته متو، سپینی غاړی او ځلیدونکو ویښتو ته یې حیران و... «گلبدن» د شرم او حیأ څخه غلی دریدلی وه نه یې حرکت کولی شو نه خبری!

په دی ماښام غواگانی یواځی بیرته راستنی شوی، بادار د «گلبدن» ورکیدو چورتی کړی و، په پته یې سیمه وپلټله، په کړیکو یې راویلله خو د «گلبدن» پته ونه لگیده! میرمن یې هم ټوله شپه وژړیده او سهار یې خپل خاوند ته دا ویرونکی خوب بیان کړ، شپې می چی سترگی پټی شوی و می لیدل چی «گلبدن» د یوه وحشی ځناور منگولو کی دی، ځناور یې خوری او دا یو شیبی کی هم په ژړا وی او آخندأ.

(۲)

د (۱۹۰۰ع) خبره ده، د منی ورځی وی، ما د رخصتی ورځی شمالی لبنان کی تیری کړی او بیرته بیروت ته راستون شوم، د پوهنتون تر پیل کیدو یوه اونی وړاندی د خپلو ملگرو سره وگرځیدم او د آزادی له هغی خوښی مو خوند واخیست چی ځوانی کی مینه ورسره کیږی، . . . . خو هغه ساعت به کله راشی چی فطرت مولا ښود. انسانیت مو مقدس کتاب، او ژوند مو ښوونځی وگرځی... ؟ ماته ووایې کله به هم زما دا هیله د خوښی مخ وگوری... !! د ځوانی د خوښی ډ ک مقصدونه به کله پوره شی... ؟ یقین کوی چی دا گړی به راورسیږی.... ؟ خو زموږ د روحانی ارتقأ تگ ډیر سست دی ځکه دی چی وایم ځوانی به کله هم خپلو مقصدونو سره هم غږی نشی!

یوه ورځ د بیروت گڼی گوڼی بازار کی گرځیدم، یو پنځه کلن ماشوم می ولید چی ډیره ښایسته گلان یې خرڅول، ماشوم ما باندی ډیر ښه ولگید او چی ماته یې وویل «محترمه! لږ گلان خو واخله.... ؟». دی غږ د ځان خواته کش کړم داسی راته ښکاره شوه چی دا غږ می کله اوریدلی، لهجه یې داسی وه، چی اروا یې ډیره ستړی شوی، متی نری او کمزوری وی او تنکی بدن یې د

گلانو پر څولی داسی خورو تابه وی چی د مړ اوی گلاب تنکی څانگی وی! له هغه می څو گلان واخیستل، اصل کی می خبری ورسره غوښتی تر څو ژوند باندی ځان پوه کړم، محسوسه می کړه چی زړه یې داسی ستیج دی چی د ژوندنه ختمیدونکی ډرامه پری پیل کیږی، زما نرمو او اغیزناکو خبرو د هغه وارخطایې لری کړه، ځان یې محفوظ وباله او مسکی شو، هغه د فقیرانو د هغه کاروان یو کس و چی هره ورځ ترخی خبری اوری او خوږو او مینه ناکو خبرو سره نا آشناوی! نوم می تری وپوښته نوم یې «فواد» وښوده او چی ومی پوښتل د مور نوم دی څه دی؟ ځواب یې راکړ:

«گلبدن»

او د پلاره پر نوم غلی شو! څیری کی خپگان راڅرگند شو، داسی ښکاریده چی له دی نوم او تکی سره نا آشنا دی، تری ومی پوښتل:

«مور دی چیرته دی؟»

هغه وویل:

«مور می کور کی ده خو ناروغه.....»

ناڅاپی «گلبدن» راپه زړه شوه، هغه «گلبدن»، چی د درده ډکه کیسه یې ماله یوه کلیوال ښځه اوریدلی وه، هغه «گلبدن» چی تر پرونه د یوی آزادی مرغی په شان الوته خو نن د ژوند په قفس کی د مرگ انتظار کوی....، هغه «گلبدن» چی تر پرونه د ژوند څانگه کی د ښایسته گلاب په شان وه او نن د مړ اوی گلاب په شان ډیران کی لویدلی، «فواد» ته مې وویل، ما خپلی مورته بوځه زه له هغی سره لیدل غواړم، ورو شانی مخکی روان شو، ماشاته ورپسی حرکت وکړ، له داسی تنگو او ناولیو کو څو تیر شو چی ټوله فضأ یې ناولی بوی نیولی وه، د هغو کورونو له څنگ څخه تیر شو چی مینځ کی د رسوایې او گناه غږونه چور لیدل.... د «فواد» شاته روان وم، د هغه جرئت ته مې شاباسی ورکاوه چی هره ورځ له گناه ډکو او د جرمونو زیږونکو کوڅوکی

تیریږي.... هغه له گناه ډک او جرمونو زیږونکي ښار چې خلک یې «د ماښام ناوي» او «تاج گوهر سلطان» په نومونو یا دوي، یوه زاړه کورته ورسیدو، «فواد» وویل دا د هغې کوردی، زړه باندې مې تیره کیښودهاو هغه پسې شاته کورته ور د ننه شوم، ساه مې نشوه اخیستلی، کوټه تیاری کې ډوبه وه، هوا بیخي پکې نه چلیده، یوه کونج کې مات کټ باندې «گلبدن» غزیدلې وه، سترگې پټې وې، مخ یې ددیوال خواته و داسې ښکاریده چې د ښارله ظلم او ستم څخه په تنگه شوې، «فواد» یې ورو پر مټ لاس کیښود، په ډیر مشکل یې وویل:

«مورې! دا محترم ستالیدوته راغلی... »

«گلبدن» مخ رواړاوه، په درد او خپگانه ډک غږ یې وویل:

«دلته د څه لپاره راغلی یې؟ څه غواړې؟ زما د ماشوم په شان پاتې قوت او ژوند څخه د خوند اخیستلو تمه لرې...؟ مهرباني وکړه له دې ځایه لاړشه، بازار له رنډیو ډک دی، د زړه اور بل چیرته سوړ کړه! زه ختمه شوې یم وجودمې مات، مات او اروا مې ستړې شوې، ماته اروأمې د مرگ پرلاسونو خرڅه شوې..... د زړه حرارت مې مړشوی، بل چیرته دې قسمت وازمویه.... بل وجود واخله او کومه بله اروأ د گناه په شرابو مړه کړه...! مهرباني وکړه بیرته لاړشه! دا ځای ستا شان سره نه ښایي..... »

د «گلبدن» له درده ډکو خبرو د هغې د غمه ډک داستان تکمیل کړ ماورته وویل: «گلبدن! غلط پوهیدلی یې، زه د اخیستونکي په حیث نه، د یوه ملگري په توگه راغلی یم، ستا په شان زه هم غم ځپلی یم! زما زړه هم دردیدلی، ستا گاونډی یم، د لبنان مقدسوولو ترڅنگ مې کور و، د هماغه ښایسته سیمې اوسیدونکی یم، چیرته چې تا ماشومتوب تیر کړی، ځوانی ته دې گام واخیست! گلبدن! مه ویریږه، زه ستا ملگری او غمخور یم!»

زما په خبرو یې یقین وکړ او وې منله ربښتیا یوه دردمند زړه سره د هغې

مخکې ولاړیم، په ډېر شوه او کیناسته..... داسې چې یو تازه ځانګه تنه توپان سره مخ شوې وي! مخ يې لاسونو باندې پټ کړ لکه چې د تیرو ورځو له یادونو په تیښته وه هغه یادونه چې یادول يې ورته ترخه وه.....! په قوت خوامید ځخه تشه لهجه يې خبرې پیل کړې:

«که ربښتیا د یوه غمخور په حیث راغلی يې، الله تعالی دې اجر درکړی! خو بیا هم در ځخه غواړم مهربانی وکړه له دې ځایه لاړ شه! ددې ځای موجودیت به دې د نورو په وړاندې ذلیل او رسوا کړي! که دلته دې څوک وګوري پوه شه چې بدنامي به دې د هوا سره جوخته خوره شي او تر ژونده به له هغې بدنامي خلاص نشې! ستا دردمند او له رحمه ډک زړه زما سپېځلتیا بیرته نشي راګرځولی، که زر ځله همدردي وکړې، ستا همدردي زما له ګناه ډک وجود نشي پاک کولی، ستا زړه سوی زما داروا ټپونه نشي جوړولی... ستا قوت او متې ماد مرګ له منګولو نشي ژغورلی، زه د هغه جذامي په شان یم چې هدیره کې ناست وي، زما خواته مه راځه، کنه نو ټولنه به دې ذلیل او رسوا کړي، دلته راتګ نه بخښیدونکې ګناه ده، ددې په بدل کې به د ټولنې ټول حقوق در ځخه واخلي او چاته به مخ نشې ښودلی! ځه! بیرته لاړ شه، او چیرته چې زما ماشومتوب او ځوانې تیره شوې هلته مې نوم په خوله وانخلې، که زما په اړه چا در ځخه وپوښتل ورته ووایه «ګلبدن» مړه شوې...!»

د زوې لاس يې ښکل کړ او په لړزیدلو شونډو يې وویل:

«زمانه به زما زوی ته په کرکه ګوري او خلک به وايي چې داد ګناه میوه د «ګلبدن» زوی دی، هغه رنډی وه! ډیر خلک به د هغه په اړه دا خبرې وکړي، په دې خاطر چې له لیدلو محروم دی، ځه لیدلی نشي.... په سرونو کې ماغزه نه، تیږې دي، نه پوهیږي، چې مور په سپېځلو او درده ډکو او ښکو سره پریمنځلې او د بدبختي کفاره يې ادا کړې، زه مړه کیږم او د کوڅې په ماشومانو کې به دې یتیم پریږدم، په دې بد ژوند کې به هغه یواځې پاتې شي،

داسي څه راسره نشته چې ورته پرېږدم او په ابدي خوب ویده شم! هو! یو له غمه ډک یاد چې د ویرونکې پښېمانتیا په بڼه به ترسترګو کېږي.... که دي بزدل او کم همته و، زمانه به یې تر پښو لاندې کړي او که زړور او انصاف کوونکی وي ژوند به یې وصف کې ترانې لولي، که ژوند ورسره ملګرتیا وکړه او ځوان شو، الله تعالی به د هغه ناپاک کس پر خلاف ورسره مرسته وکړي چې دی او دده مور یې د ذلت په دې سوري کې غورځولي... او که زر مړشي، د مرګ وروسته ژوند کې به ما خپل انتظار کې وګوري، چیرته چې هري خوا نور او راحت وي...؟

غلې شوه، ما ورته وویل:

«ګلبدن! سمه ده چې هدیرې کې ناسته یې، خو په جذام نه یې اخته! وخت د رذیلانو منګولو ته سپارلې یې، خو رذیله نه یې، منم چې ستا وجود ککړ او ناولی شوی خو د وجود ناولتیا د اروا سپېڅلتیا ته نشي ورننوتلی لکه څنګه چې سر په سر واورد ژوندي تخم نشي له مینځه وړلی، ګلبدن! د شک پرته چې مظلومه یې، او ظالم هغه رذیل دی که په نسلي اعتبار لوړ وي خو اخلاقي حیثیت یې ډېر کمزوری او پست دی، ته مظلومه یې او د انسان لپاره مظلومیت تر ظالم کېدو ښه دی!

ګلبدن! هغه ګل یې، چې د انسان په بڼه یوه حیوان خراب کړی یې، خو د ویرې خبرنه ده ستا خوشبوی چې د کونډو د کړیکو او محتاجو د اسویلو سره د آسمان خواته ځي د رحمت او انصاف سرچینه ده... صبر وکړه ګلبدن! خراب کړای شوی ګل یې، تر پښو لاندې کوونکی ښه نه....؟»

هغه غوږ وه، زما د تسکینه ډکو خبرو یې زېړه څېره روښانه کړه لکه څنګه چې د غروب په وخت کې د لمر وړانګې ورېځې روښانوي، اشاره یې وکړه چې ترڅنګ یې کېنم، پر کټ کیناستم، سترګې مې پکې خښې کړې وې او د هغې د مړاوې شوې اروا اسرار مې معلومول..... هغه وجود ته ځیروم، روښانه وه

چي د فنا شیبې رارسیدلي وي.... د هغې ځواني اومظلومي ښځې زیږې ژیړې تر خیرې ته مې کتل چې د فنا کیدو د پل غږ یې ما اوریده، چوپتیا وروسته یې خپل ټول قوت راغونډ کړ او خبرې پیل کړې، په داسې بڼه چې اوښکو یې د ژبې سره جوخت خبرې کولې او قوت یې د اسویلو سره ختمیده:

«زه مظلومه یم.... هو!.... هغه ځناور خیرلې یم چې هر انسان کې پټ دی، تر پښو لاندې شوی ګل یم، د چینې ترخنګ ناسته وم چې یو پردیسی په آس سپور راغی، په خاص مهربانۍ یې مخاطب کړم او دا راز یې راته ووایه چې د یره ښایسته یې، مینه درسره کوم او تر مرګه به مې مینه ژوندۍ وي، ویل یې ځنګل له وحشیانو ډک دی او دا سیمه د ځناورو ځای، ما باندې راتیټ شو، سینې ته یې جوخته کړم او مینه یې راسره وکړه! تردې وخته زه د ښکلولو خوند باندې نه پوهیدم ځکه بې پلاراو موره جینۍ وم، د ښکلولو خوند له ځانه پردې کړم، اس باندې سپره کړم او یوه ګوښې کورته یې بوتلم.... ډول، ډول سوغاتونه یې راته راوړل، د وریښمو کالي، خوشبوي، خوره ډوډۍ او اصل شراب، هر څه یې کول او غوښتل یې د ګناه ډک حرکتونه پټ کړي.... خپلې بدې غوښتنې او بدې هیلې به یې هغو شرابو کې پټولې چې ګبینیو باندې خواږه کړي و! او چې د هغه نفسي غوښتنې مې پوره کړې، پریې ښودم، زما په نس کې یې یوه بلیدونکې شعله پریښوده او ورک شو، چې رانغی، دې د بدنامۍ ډک ځای ته راغلم.... اف!.... څو ځلې مې وغوښتل مرې کې پرې واچوم او د ذلته ډک ژوند څخه ځان خلاص کړم! خو هر ځل زما لاس نیول شوي.... په دې خاطر چې زه یوازې نه وم، په ژوند کې مې د زړه ټوټه هم شریکه وه خو اوس هغه شیبې رارسیدلي د کومو چې د څو ورځو راهیسې ما انتظار کاوه، مهربان ملګرې مې رارسیدلي.... داجل فرښته! تر اوږده بیلتون وروسته راغلې او ماله ځان سره بیایې.... اوس به په اطمینان او آرامتیا سره ویده شم.... زما دا خوب به څوک خراب نکړای شي....»



SIKARAAM

اوږده چوپتیا خوره شوه! ما د هغې ځیرې ته ځیر، ځیر کتل ... د هغې پرځیرې د فنا سیورې تیریده او زر تر خاورولاندې کیدونکې وه! تر اوږدې چوپتیا وروسته «گلبدن» سترگې وغړولې او وروشانې وویل:

«ای پتیه انصاف کونکیه! ته زما د ماتې گوډې اروا کړیکه او تپې زړه چیغې اورې، له تا ځخه، هو! یواځې له تا ځخه غواړم چې خپل دې حقیر مخلوق باندې رحم وکړه! له تا غواړم ښې لاس باندې زما د زړه ټوټې سره مرسته وکړه او کین لاس باندې مې د اروا سوغات ومنه!

ای د آسمانانو مالکه! ستا نوم تل سپېڅلی دی، ستا داجل فرشته راغلی... ستا قانون، لکه ځنگه چې آسمان باندې چلیږي په هماغه شان ځمکې باندې هم حاکم دی! یاربه! زما گناوې وبخښه، خطاوې مې معاف کړه، ماگنهکارې ته د بخښنې لمن کې ځای راکړه...! په دې خاطره چې غفور او رحیم یې !! »

د «گلبدن» په وجود کې لړزه پیدا شوه، په شونډو یې وروا سویلی وایست ځیرې کې زیړ واله خور شو.... اروا یې داجل فرشتې سره پرواز وکړ! اوسترگې نه احساسیدونکې شی کې ځنې پاتې شوې!

سهار د «گلبدن» جسد یوه لرگین تابوت کې کینبودل شو، فقیرانو په ولو یوړ او د ښار ځخه لرې یوه پراخ ډگر کې خاوروته وسپاره...... مذهبي مشرانو د جنازې لمونځ کولو ځخه ډډه وکړه او خلکو اجازه ورنکړه چې مړې هدیرې کې خاورو ته وسپاري، لوی او پراخ ډگر کې ځوک د هغې جنازې سره نه و... د هغې د زوی او یوه ځوان پر ته، هغه ځوان چې د ژوند مصیبتونو د همدردې او مرستې سبق ورښودلی و!

# د نــاوي پــالنګ*

ناوي او شاه له ډولۍ راکوز شول، مخکې او شاته ورپسې د سندرو زمزمه کونکي وراځي. شا او خوا ځوانانو مستي کوله او پيغلو د خوښۍ سندرې ويلې، وراځي د شاه کورته ورسيده، کور په ګران بيه غاليو او ګروپونو ښايسته او خوش بويه شوي و، شاه پر يوه جګ تخت کيناست، او ميلمانه په بخملي کوچونو او له وريښمو جوړو شوو چوکيو، کوټه له ميلمنو ډکه شوه، مريانو د شرابو صراحي راوړه فضأ د شرابو د جامونو په ګړنګهار او خوږو سندرو سره شاعرانه شوه، د نشاط او خوښۍ ډلګي راغلي او په جادويي نغمو سره يې محفل بې خوده کړ، د ساز او سروره ډک غږونه، د خلکو د ژورو اسويلو، او ډولکيو د تبلو غږ سره يو ځای کيده او د خلکو سيني ګرمولي، تنکي پيغلي د نڅا لپاره پاڅيدې، د غږ د ټيټ او جګ کيدو سره د هغوی وجود داسې خوريده لکه د سهار رملايم شمال سره تنکي څانګي خوريږي، چې تاويه شوي زري لمنو به يې داسې څپې پيدا کړې تا به وی د سپوږمۍ وړانګې د سپينو وريځو سره لوبې کوي، سترګي خنبي شوي او سرونه پنبوکي ورته ولويدل، د آزادو ځوانانو اروا وی ورسره غاړه غړې وی او د هوسه ډکو ـ

* دا د شمالي لبنان يوه رينبتيني پيښه ده چې دنولسمې پيړۍ په وروسيتو کې پيښه شوي، ماته دا کيسه د سيمې يوی محترې ښځې کړی چې پخپله ددې کيسي لوبغاړې وه (جبران)

داگانو زړونه چاودېدل، د جامونو لاس په لاس کېدل لاګړندی شول، شرابیانو خپلې هیلې او غوښتنې شرابو کې ډوبې کړې، شور او غالمغال زیات شو، فکر او سوچ والوت، آزادي او بې باکي خپل توغ ودراوه ما غزه له کاره ولوېدل، زړونه بې کراره شول او ټول ماحول داسې شو لکه یو مات رباب، چې تارونه یې کوم نا آشنا لاس په زوره وهلو سره شکولي وي او داسې نغمې ترې پیدا کیږي چې هغو کې آهنګ هم وي او بې آهنګي هم، یوې خوا یوه مست ښایسته پیغلې سره د مینې راز بیاناوه او بل خوا یوه ځوان د خپلې مینې خوږې اوزړه وړونکې خبرې یوه، یوه ذهن کې تازه کولې، یوې خوا پاخه شرابي په یوه جام پسې بل جام په سر اړاوه او د سندرغاړو څخه یې د هغو سندرو بیا اورولو غوښتنه کوله چې دده د ځوانۍ ترجماني وي، بل خوایوې پیغلې هغه کس باندې ټکونه کول چې ددې پرته یې د هرې ښځې خواته په مینه کتل، په یوه کونج کې د پاخه عمر یوې ښځې د موسکا ډکو لیدو سره پیغلې څارلې، تر څو خپل کشرۍ زوی ته کومه ښه ناوې غوره کړي، هلته ډېرسې ترخننګ یوه واده شوې ښځه ناسته وه چې د خاوند بې هوشي او بې خبرۍ، ملګرې سره د ناستې موقع ورکړې وه، ټول محفل د شرابو او غزلو سمندر کې ډوب و عیاشانو ځانونه د مستیو موجونو ته سپارلي و او د نن او سباغم پرته مستیو کې ورک و، مستي جریان درلود او ښایسته ناوې د مستیو دې محفل ته په غمه ډکو سترګو داسې لیدل لکه یو خپه بندي چې د بندیخانې تیاره د یوالونو ته ګوري، شیبه په شیبه یې سترګې هغه خواته اوښتې چېرته چې یو شل کلن ځوان ددې مستیو څخه بې نیازه ناست و، د هغې ټپې مرغۍ په شان چې له خپل ځخه جلا شوې وي او یواځې ناسته وي..... لاسونو باندې ټټر وډباوه تابه وي چې ناکراره زړه کرار وي... کوټې کې نه احسا سېدونکې شی کې سترګې خښې کړې وي، تابه وي چې روح یې

له تن څخه جلا شوی او فضأ کی د تیارو شا او خوا ګرځی راګرځی، شپه پخه شوه، ټول مجلس شور او زوږ په مخه کړ، ماغزه د خمار په منګولوکی داسی ګیر شول چی ژبی ګونګی شوی، شاه... زوږ او بد شکله انسان، د نشی په حال کی پا څید او میلمنو باندی وګرځید، له دی موقع نه په استفادی سره ناوی یوه پیغله په اشاری راوبلله، هغه راغله او ددی ترخنګ کیناسته ناوی په ویری څلورو خواوته ولیدل داسی لکه چی کوم مهم راز هغی ته وایی پیغلی ته لاورنږدی شوه او وروشانی هغی ته وویل:

«په ملګرتیا قسم درکوم ای خوږی ملګری! له ما شو توب څخه زما او ستا زړونه سره نږدی و، په هغه څه سوګند درکوم! چی تاته ډیر ګران دی، هغو رازونو باندی سوګند درکوم چی ستا په سینه کی پراته دی، په هغی مینی سوګند درکوم، چی زما او ستا دواړو ارواوی ښکل کړی او هغه یې یوه وړانګه ګرځولی، د زړه په آرامتیا او درد سوګند درکوم، همدا اوس سلیم ته ورشه او ورته ووایه چی په پټه بڼ ته لاړ شی او د ولو ترخنګ زما انتظار وکړی، «سوسان» هغه ته زاری وکړه، تردی چی اقرار وکړی، تیری ورځی وربه زړه کړه، د مینی خبری ورته وکړه، ورته ووایه هغه یوه بد نصیبه دی، یوه بد قسمته دی او مخکی تردی چی تیار یې ځان سره و نغاړی، غواړی ستا په وړاندی تتر خیری کړی او ته یې و ګوری، ورته ووایه له زیات غم څخه د مرګ په منګولو کی دی او مخکی تردی چی د دوزخ شغلی غیږ کی ونیسی غواړی ستا د سترګو په نور زړه سوړ کړی، ورته ووایه غلط شوی او غواړی ستا په وړاندی خپلو ګناو باندی اقرار وکړی او له تا بخښنه وغواړی څه سوسان! زر لاړه شه، زما په خاطر له سلیم څخه و غواړه!! ورته ووایه د هغو خنزیرانو له ساتونکو مه ویریږه!! شرابو د هغوی پرغوږونو او سترګو پرده غوړولی».

سوسان د ناوی له څنګ څخه پاڅیده د سلیم ترخنګ کیناسته او ورو یې په

غوږ کې ورته د مینې پیغام ورساوه، د سوسان په څیره کې د مینې او اخلاص تخنیي ښکاره وې، سلیم سر خوځاوه او د هغې خبرې اوریدې کله چې د هغې خبرې خلاصې شوې سلیم د هغې خواته ولیدل، د هغه تیرې په شان چې د اوبو څخه ډکه پیاله وګورې او د نه رسیدو څخه یې زړه وسولیږي، په درانه غږ چې د ځمکې له تل څخه راوتلې ښکاریده هغه ځواب ورکړ:

«ښه! زه بې ته ځم او دولو ونو ترڅنګ به هغې ته منتظروم»

پاڅید او د بې خواته روان شو، لږ وروسته ناوې هم پاڅیده، او سلیم پسې، د نشې په مخه کړو نارینه او مستیو کې ډوبو ښځو تر شأ ورو ورو ووتله، بې ته ورسیده، شپې تور څادر غوړولی و، خپل تګ یې ګړندی کړ، او ځوځلې شاته ولیدل، د هغه ناکراره هوسې په شان، چې د ښکاري څخه ویریدلې وي او د خپل ځای خواته په منډه وي، دولو دونو خواته روانه وه، هلته سلیم ته منتظرو، چې ځان یې د مینې ترڅنګ ولید، ورجوخته شوه لاسونه یې د هغه غاړې ته وروا چول او خبرې پیل کړې، په کومې چتکې سره یې چې خبرې له خولې وتې په هماغه چتکې یې اوښکې له سترګو څڅیدې:

«واوره! زما ګرانه، په غوږواوره! زه په خپلې ناپوهې او زرګام اخیستلو خپه یم، تردې چې پښیمانتیاز ماڅیګر توټه، توټه کړ، سلیمه زه تا .... هو! زه یواځې تا غواړم او تر عمر به تاغواړم، خلکو زه وغولولم چې تازه هیره کړې یم او بل چاسره مینه کوې، سلیمه! خلکو ماته زیاتې خبرې کړې. په خپلو ژبو یې زما زړه په زهرو ککړ کړ، په نوکانو یې زما تټر وکنده او په دروغو یې زما اروا تسخیر کړه یوه شریف! ماته وویل:

ته ماته په کرکه ګورې، پرېښودلې دې یم او بل چا سره دې اړیکې پیدا کړې، پرمایې د مصیبتونو غررا امبار کړ، زه یې تیر ایستلم چې د هغه یوه خپل سره واده وکړم، دو که شوم! او ورسره راضي شوم خو سلیمه! زما مینه ستا پر ته بل

څوک نه دي او اوس، همدا اوس زما له سترګو پرده ايسته شوي د هغه کور څخه راتښتيدلی يم، تا ته راغلی يم او اراده مې کړې چې بيا کله هم ورونګرځم، ستا ترڅنګ راغلی يم چې خپل غيږ کې دې جذب کړم په نړۍ کې داسې قوت نشته چې بيرته مې د هغه کس تر څنګ کېنوي کوم چې د کرکې په عالم کې زما خاوند ګرځيدلی و، سليمه! ما هغه شاه پريښودلی او تاته راغلی يم، هغه ګلان مې پريښودلي او راغلی يم د کومو چې پادرۍ اميل جوړ کړ او زما غاړه کې واچاوه هغه قانون مې پريښودلی او راغلی يم چې رسم او رواج يې زما پښو ته زولنې اچولې وو! دا ټول ما هغه کورکې پريښودل چيرته چې مستي او بې خودي ځای نيولی دلته په دې خاطر راغلی يم چې تا سره چيرته لرې.... ډير لرې.... لاړشم د نړۍ هغې خواته لاړشو، د پيريانو کلي ته لاړشو، د مرګ منګولو ته ځان و سپارو، راشه سليمه! د شپې په چوپتيا کې له دې ځايه وتښتو، راشه! سمندرته ځان ورسوو داسې يوې کښتۍ کې کښېنو چې يوې نامعلومې سيمې ته موورسوي، سليمه! ژر کوه!! بايد ډير ژر د دښمنانو له سيمې ځان وباسو!!! وګوره سليمه!! دا د طلالښتې، دا ګران بيه غاړکۍ او ګوتۍ اودا ښه جواهرات، زمونږ دراتلونکې ژوند تضمين کوونکې دي چې دا خرڅ کړو د خانانو په شان ژوند پرې کولی شو...... اف الله ...... سليمه! خبرې ولې نه کوې؟زما خواته ولې نه ګورې؟ ما سره مينه ولې نه کوې؟

زما دزړه کريکه اورې ..... ستا يقين نه راځي چې ما خپل خاوند، مور او پلار پريښودل او دواده په کاليو کې راتښتيدلی يم؟ سليمه؟ سليمه خبرې وکړه!! راشه زر کوه!! دا شيبې د الماسو له توتو زياتې قيمتي او د شاهي تاج څخه زياتې ګران بيه دي!!! ».

ناوې خبرې کولې، د هغې په غږ کې يوه نغمه وه، د ژوند له خوږو زياته خوږه،

د مرگ له تر خو زیاته ترخه او د موجونو له شور څخه زیاته ژوره، داسې نغمه چې یأس او امید، خوند او الم، آرامتیا او تکلیف او د هغو جذبو او میلانونو مینځ کې یې حرکت کاوه کوم چې د ښځې په سینې کې پټ وي، خو ځوان آرام ولاړ و او دا هر څه یې اوریدل د هغه په زړه کې د ناموس او مینې جګړه وه....

مینه، چې ستونزې آسانوي او تیارې رڼا کوي او ناموس چې انسانان له غوښتنو او هیلو منعه کوي د لړځند وروسته، چې د چوپتیا او ویرې له وجې هغه وخت ته ورته و کوم کې چې قومونه د عروج او زوال مینځ کې زړه نا زړه ګام ږدي، ځوان سر پورته کړ، شرافت پر مینه غالب شوی و، «سلیم» په انتظار او ویرې په مخه کړې پیغلې کې سترګې خښې کړې او په نرمه لهجه یې وویل:

«څه! د خپل خاوند کور آباد کړه!! د الله تعالی خوښه به همدا وه، ټول خوبونه ویښتیا په اوبو لاهو کړل.... ژر څه او د خوښیو غیږ کې ویده شه! داسې ته شي پهره دار تا وګوري او نړۍ بیا ووایي چې دواده په شپه دې د خاوند امانت کې خیانت وکړ، داسې لکه څنګه چې دې د بیلتون په دوران کې خپل مین سره کړی و».

ناوې ولړزیده او داسې ناکراره شوه لکه څنګه چې د ګلدانې ګل د باد تندې څپې سره مړاوی شي په درده ډک غږ یې وویل: «تر هغې چې زما وجود کې ساه وي هغه کور ته بیرته نه ستنیږم له کومه ځایه چې زه د تل لپاره راوتلې یم ما هغه کور... د هغه کور هر څه..... داسې پریښودلي لکه څنګه چې یو پردیسی هغه ځای پریږدي کوم کې چې د پردیسي توب ورځې په یواځې ځان او بیچارګۍ سره تیرې کړې وي سلیمه! ما ته دوکه بازه او خیانت کاره مه وایه ځکه مینه، چې زما او ستا ارواې یو بل کې جذب کړې د کلیسا د پادري څخه زیاته قوي ده، راشه! لاس و نه ستا غاړې ته داسې در واچوم چې هیڅ قوت یې را ایسته نکړې شي تا داسې ځان ته راجوخت کړم چې مرګ مو هم له یو بل څخه جلا نکړای شي!».

ځوان په ډېر مشکل د هغې لاسونو له خپلې غاړې ایسته کړل، په کرکه او حقارته ډکه لهجه یې وویل:
«لرې شه! ما هیره کړې یې هو! ما هیره کړې یې او له تا کرکه کوم! خلکو دروغ نه دي ویلي بل چا باندې مین شوې یم وادې وریدل! څه درته وایم؟ درته وایم هیره کړې مې یې، تردې چې ما ستا وجود هم هیر کړی، له تا کرکه کوم، دومره چې د تاله شکل څخه هم بیزاره شوی یم پورته شه! ما پرېږده چې خپله لارونیسم! بیرته خپل خاوند ته ورشه او د هغه با وفا میرمن وګرځه!!»
ناوې په درده ډک غږ وویل:
«نه، نه! ستا پر خبرو یقین نشم کولی! له ماسره مینه کوې، ستا په سترګو کې مې د میني معنی موندلې او چې درته ګورم خپل مین ته ګورم، له ماسره مینه کړې! مینه کوې!! مینه کوې!!! بلکل داسې لکه څنګه یې چې زه له تاسره کوم، ته هغه کور یادوې زه له دې ځایه او ستا له غیږې پرته هیڅ چاته نه ورځم، دا مې پخه اراده ده، د همدې لپاره راغلې یم چې له تاسره کومې نامعلومې سیمې خواته لاړشم یا ماسره لاړشه او یا لاس پورته کړه او ماووژنه»
ځوان د مخکې څخه په لوړ غږ وویل:
«ما پرېږده کنه نو زه به هغه میلمانه راټول کړم چې ستا د واده په خوشحالې کې د ګډون لپاره راغلل شوي، هغوی ته به دا د ذلته ډکه منظر وښیم، یوازې دا نه زه به دلته هغه ښځه هم راوغواړم چې زما د زړه ملکه ده، هغه به تا پورې وخاندي، خپل بریالیتوب باندې به خوشحاله شي او ستا پرماتې به ملنډې ووهي».
لاس یې راکش کړ او هغه یې تېل وهله، ناوې وارخطا شوه، سترګو کې ځلا پیدا شوه او مینه، هیلې او کرېکې په غضب بدلې شوې د هغې غصې په ډول چې ماشوم یې په مخه کړې وي یا د هغه سمندر په ډول چې څپې یې توپاني

شي چيغه يې کړه:

« څوک به وي چې تر ما وروسته ستا په مينې سوکاله شي؟ زما د زړه پرته به څوک وي چې ستا له ښکلولو خوښۍ لاس ته راوړي؟

ورويې توره له تخرګه راوايستله او د برق په شان يې يو شړک سره د هغه په سينه کې ښخه کړه، راولويد داسې لکه داور له لمبې سره چې سپرغۍ رالويږي، ناوې پرې ورټيټه شوه له تورې د وينو څاڅکي څڅيدل. سليم د مرګ په سيورې کې سترګې پرانيستې، شونډو کې حرکت پيدا شو، ورو شانې ساه واخيسته او وې ويل:

«زما مينې! اوس زما تر څنګ راشه! زما ليلى! زما تر څنګ راشه!! ما کله هم مه پريږده ژوند له مرګ څخه او مرګ له مينې څخه زيات کمزوری دی واوره... واوره، زما ليلى!!! زه دې د هغو خنداګانو له عذابه او هغو خوښيو له ترخو خلاص کړم، زما سترګې هغه لاسونه ښکلوي کومو چې زما تول بنديزونه مات کړل، شونډې مې ښکل کړه دې شونډو دروغ وويل او د زړه خبره يې پټه کړه زما تپونه په هغو ګوتو چې پرويتو ککړې دي بند کړه ليلى! کله چې زما اروا پرواز وکړي توره مې تر څنګ کيږده او بيا هلته وليکه د حسد او نا اميدۍ د څپوله وجې ځان وژلی، زما ليلى! ما له تا سره مينه کوله ستا پرته زما لپاره بل څوک نه و خو ما د خپل زړه، شرافت او د ژوند قربانۍ له دې ښه وبلله چې د واده په شپه درسره وتښتم، زما د زړه ملکې! مخکې تر دې چې خلک راشي او زما جسدوګوري، ما ته يوه مچه راکړه.... ماسره مينه وکړه.... ماسره مينه وکړه.... زما ليلى!!»

سليم تپې لاس سينې باندې کيښود، دوه، درې جټکې ئې وخوړې او اروايې پرواز وکړ، ناوې سر پورته کړ او د کور خواته يې وليدل په درده ډک غږ يې چيغه کړه:

«راشي خلکو! راشي ناوي او شاه دلته دي، راشي! تاسو ته خپل پالنگ وښيم اوريدونکو! پورته شي!! مستيو په مخه کړيو!! که په خو د يي نو راشي!! راشي! د ميني د مرگ او ژوند د راز ليدو په خاطر چټکي وکړي!! »

د کور کونجونو کي گرنگار شوه، عياشي کي ډوب شرابيان حيران او وارخطا شول، څلور خواوته يي وليدل او فکر يي وکړ چي غوږونه دوکه ورکوي.

پاڅيدل، له دروازو ووتل او يوې بلې خوا يي پلټنې پيل کړې، چي ناوي يې د وژل شوي جسد تر څنگ وليده، لوڅي پښې په تيښته شول، يوه هم دا جرئت نه درلود چي مخکي ورشي او اصلي پيښه معلومه کړي، د ناوي په لاس کي توره وه او د جسد له سيني څخه د وينوداري رواني وي، ژبې بندي شوي او هک پک ودريدل ناوي د هغوي خواته پام شو، څيره يي له زياته قهره تکه سره شوه، په زوره يي پرې چيغه کړه:

«ودرېږئ! نږدې راشي!! له دي توري مه ويريږي، دا يوه پاکه وسله ده او ستاسو ناپاکو سينو کي نه ننبيږي، وگوري! دې ښايسته ځوان ته وگوري، شاهانه کالي يي اغوستي دا زما مينه ده او ما په دي خاطر وژلي چي زما مينه ده، دا زما خاوند دي او زه دده ناوې، ما زياته پلټنه وکړه په دې نړۍ کي، چي، ناروا او بې ځايه بنديزونو سره موتنگه، په جهالتونو سره مو تياره او حرص سره مو خرابه کړي دا سي پالنگ پيدا نکړ چي ما سره د غيږ په غيږ کيدو لايق وي، په دي خاطر ما غوره وبلله چي بلې د نيا ته لاړ شو، بې غيرتو! نږدې راشي! کيداي شي وگوري زموږ په څيرو کي د الله تعالی نور لوېه کوي او زموږ زړونو کي دا لوهيت نغمې غږيږي، چيرته دي هغه خلک؟ چاچي زما د ميني په اړه دروا غو تورونه لگول، ماته يي ويل:

هغه ته هيره کړي يي او ماسره مينه کوي، آيا هغه فتنه په دي پوهيده چي زموږ ترمنځ څه دول اړيکي دي؟، د کليسا پادري راولي هغه زه غولولم چيرته

دی هغه؟ هغه دوکه باز! چیرته دی؟ هغه دوزخی مار! تاسی ما د خپل مین واده ته رابللی وی نه د هغه بل کس خوښی ته، کوم چی بل چا زما لپاره غوره کړی و، زما په خبرونه پوهیږی...... ...... تاسی به اولادونو ته دا کیسه کوی چی دواده په شپه یې خپل مین ووا ژه، ما به یادوی، او گنهگارو شونډو باندی به پر ما لعنت اوروی خو ستاسو اولاد به ماستایی، راتلونکی به یقیناً چی دربښتیاو زما نه وی او ای بی وقوفه انسانه! ای هغه انسانه چی په دوکو، مال او دولت دی زه خپله ناوی جوړولم! ته ددی بد قسمته ډلی استازی یی، کوم چی تیاری کی رڼایی پلټی، له تیری د اوبو دراوتلو انتظار لری او په شگلنه کی د گل د غوړیدو هیله لری ته ددی هیواد اوسیدونکی یی، کوم چی ځان یې داسې جهالت ته سپارلی لکه څنگه چی څوک ټوله هستی تیاری ته وسپاری، ځه! تابخښم.... ستا ټولی کمزوری بخښم ځکه چی خوشحاله اروا د تلو په وخت د نړی ټول ذلتونه او حماقتونه بخښی، توره یې پورته کړه او د هغه تړی په شان چی په بیړه داوبو ډ ک گیلاس شونډو باندی لگوی، په ډیره میړانه یې سینه کی خښه کړه او د خپلی مین څنگ ته راپریوته...... د هغه نیالگی په شان د کوم ریښی چی تیزه چړه پری کړی او راولویږی، ښځو کی وارخطایی خوره شوه، د زیاتی ویری او درد یې ژړا پیل کړه او روانی شوی، ځینی بی هوشه شوی، نارینه وکی هم گډوډی جوړه شوه، دویری لړزیدلی او ورو ورو ټپیانو ته رانږدې شول ناوی د ځنکدن حالت کی وه او له سینی یی وینو داری وهلی، د هغو خواته یې ولیدل او وی ویل:

«ملامت کوونکو! ماته نږدی رانشی او نه هم زمونږ جسدونه له یوه بل جلا کړی کنه نو هغه مقدس اروا، به ستاسو ورمیږونه مات کړی چی زمونږ پرسرونو گرځی او تاسو به په ځمکه راوولی، زمونږ جسدونه پریږدی چی دوړی ځمکی یوه مړی شی، ځمکی ته موقع ورکړی چی مونږ خپلی سینی کی

وساتي په کوم ډول چي تخم د سپرلي تر راتګه له واوروساتي ».
د سليم جسد ته نوره هم ورنږدې شوه، شونډې يې د هغه پرشونډو کېښودلې او دا مات ګوډ الفاظ دوروستيو سلګيو سره د هغې له خولې راووتل:
«زما مينې! وګوره!! زما د زړه خاونده! وګوره!! حسودان څنګه زموږ څلورو خواو ته ولاړ دي، هغوی په څه ډول موږ ته ګورې واوره! د هغوی د غاښونو چيچل او بندونو د سوليدلو غږونه، واوره!! سليمه! تاتر ډېره زما د انتظار تکاليف وګالل، وګوره! اوس زه ستايم، زما مينې! موږ تر ډېره تياروکې هک حيران و، اوس ما ټول بندونه مات کړي او ټول زنځيرونه مې شلولي تر څو د لمرله وړانګو او رڼايي نوي ژوند لاس ته راوړ سليمه! وګوره، يو يوې يې کړه ټول خاپونه له مينځه تللي، هر څه زمونږ له ليدو پټ شوي اوس ماته ستا پرته بل څه نه ښکاري، هو! زما شونډې، سليمه! زما وروستي سلګې ومنه!! زما مينې، څو!! د مينې فرښته آلوتې او د نور حلقې تاوېږي راتاوېږي »
تر لاد سليم پرسينې کېښود، وينه يې د وينې سره يو ځای شوه، سرېې د هغه ورميږه کې ورولويد او سترګې يې د هغه په سترګو کې خښې پاتې شوې، خلک چوپ ولاړ و، څېرې يې زېړې او پښو کې لړزه پيدا شوه داسې چې تا به ويل د مرګ ويرې، د هغوی قوت او حرکت له مينځه وړی، د کليسا پادري ...... هغه چي نکاح يې لوسته؟!! او د ناوی غاړې ته يې د واده اميل ور-اچاوه مخکې راغي، د جسدونو خواته يې اشاره وکړه او په ډډ غږ يې وويل:
« د احترام وړ دي هغه لاسونه چې د ذلت او جرم د ختمولو په وينو ککړ شول د جسدونو خواته رامخې ته نشي او د نفرت وړ دي هغه سترګي چې ددوی پر مړينه پې د خپګان اوښکې توی کړي، شيطان ددوی ناپاکې ارواوې دوزخ ته وړي، پرېږدي چې دواړه جسدونه پراته وي! پر هغه ناپاکه ځمکه چې ددوی په وينو ککړه شوې، پرېږدي تر هغې پراته وي چې سپي يې غوښې وخوري او

بادیې هڅوکې په هوا کړی، خپلو ،خپلو کورونه ته ستانه شی! وتښتی! له دې بد بوی څخه، وتښتی!! دریدونکو! لرې شی !! زر لاړ شی، داسې نشې چې د دوزخ اور تا سو هم په مخه کړی، څوک دلته پاتې نشی کنه نو ذلیل او محروم به شی ددوی لپاره مقدس ځای پیدا کیدل ممکن نه دی..»

سوسان..... هغه پیغله چې سلیم ته یې د ناوی پیغام رسولی و مخکې راغله وریځې په اوښکو لمدې وی، د همت او میړانې په لهجه یې وویل:

«ړنده کافره! د هغوی د ساتنې لپاره دلته شته یم چې سهار شی دونو لاندی به قبرونه وکندم که بیلچه یا میتی زما له لاس څخه واخلې په خپلو گوتو به د ځمکې سینه چیری کړم که زما د گوتو مخه دې ونیوله په خپلو غاښونو باندی به دا کار وکړم، ځې! د عطرونو او خوش بوئ خوروونکی ځا ی څخه، سمدستی لاړ شی! خنزیر د عطر بوی څخه تښتی، غل د کور د مالک او سهار راتگ څخه ویریږی، ځې! خپلو تیارو ځایونو ته لاړ شی! د مینی د شهیدانو پر سرونو د فرشتو سندری، د خیرو او بدیو د کو غوږونو ته نه رسیږی»

خلک د کلیسا د پادری له مخې لرې شول او سوسان جسدونه سره ولاړه وه، داسې ښکاریده چې کونده مور د شپې په چوپتیا کې د خپلو زامنو ساتنه کوی او چې خلک لاړل سوسان په چیغو، چیغو په ژړا شوه

# توپان

-١-

یوسف فخري دېرش کلن و چې ددنیا او مافیها سره یې اړیکې وشلولې او دچوپ او زاهدانه ژوند دتیرولو په خاطر یې ماته گوډه خانقاه کې ژوند ته دوام ورکړ، دا کلیسا دشمالي لبنان د «قادیشیا» سیمې څنډو کې پرته وه، دشا او خوا کلیو خلکو د یوسف فخري په اړه ډول،ډول خبرې کولې، چابه وویل:

«هغه ډېر ښه او دشتمنۍ کورنی سړی دی، یوې پیغلې سره یې مینه کوله، دهغې دبې وفایي څخه یې زړه مات شو، ښار یې پرېښود اودهغې دهېرولو په خاطر یې گوښه کیناستل غوره کړل.... »

چابه بیا نظر ورکاوه:

«هغه دتصوراتو په دنیا کې نغښتی شاعردی او خپلو افکارو او جذباتو ته دشعر او نظم جامې وراغوستلو په خاطر یې له ټولنې لمن ټوله کړې.... »

چابه بیا قیاس کاوه:

«هغه یو صوفي دی، له دنیا او دهغو له لذتونو یې لمن ټوله کړې او یواځې

SIKARAAM

عبادت یې کافي بللی»

او چا به بیا په زغرده فیصله کوله:

«هغه لیونی دی»

خوزه؟...... زه په دې مسئله کې بیخي چوپ وم، پوهیدم دا روا په دننه کې یو داسې نازک راز هم شته چې د هغه معلومول د قیاس په وس کې نه دي خو دا هیله او تمه مې وه چې د دې عجیب او غریب انسان سره و گورم او خبرې ور سره و کړم په همدې خاطر ما دوه ځلې کوښښ وکړ تر څو د هغه لیدو ته ځان ورسوم، حقیقت یې معلوم او مقصد باندې ځان پوه کړم خود ځیر، ځیر کتلو او ځینو داسې خبرو پرته چې د هغو څخه یې د سخت زړیتوب، بې رحمۍ، سوړوالې او خود خواهۍ بوی راته ماځه لاس ته رانه وړل.

لومړی ځل مې چې ولید د صنوبر د ونو تر څنگ یې گامونه اخیستل په ډیر احترام او مینه مې ورته سلام وا چاوه خو هغه سروخوځاوه، کوم ځواب یې رانکړ او سمدستی له هغه ځایه لاړ.

دوهم ځل چې ورسره مخامخ شوم د خانقاه تر څنگ د انگورو د تاکونو لاندې ولاړ و، ورنږدې شوم او ترې ومې پوښتل:

«........ پرون ما ته د بل چا له خولې معلومه شوه چې دا خانقاه یوه «سریانی» عابد څوارلسمه پیړۍ کې جوړه کړې! تاسو په دې اړه څه معلومات لرئ؟»

په سخته لهجه یې ځواب راکړ:

«نه پوهیږم چې دا خانقاه چا جوړه کړې؟ او نه هم پرې پوهیدل غواړم!»

ما ته یې شا راواړوله او په طنزه ډکه لهجه یې وویل:

«په دې اړه ولې له خپل نیکه نه پوښتې؟ تر ټولو سپین ږیرې هم دی او د دې سیمې تاریخ هم ښه ورته معلوم دی!»

په خپل ما شومانه حرکت پښیمانه شوم او بیرته راوگرځیدم

تر دوکالو ددی کس ژوند زما په فکر او خیال کی ځای درلود او دا کلونه همداسی تیر شول.

-۲-

دمنی موسم و ماد یوسف فخری دخانقاه خواوشا غرونو او سیمو کی چگر واهه سخت باد، باران او توپان راغي او داسی لوبه یې راسره پیل کړه لکه یو طغیانی سمندر یې دهغې کشتی سره پیل کړې چې څپو سوری کړی وی او بادبان یې توپان راغورځولی وی ماد خانقاه لار ونیوله او زړه کی می وویل:
«د خلکو څخه د ځان ساتونکی دلیدو ښه موقع لاس ته راغله، توپان اوداړلدی اوڅیری جامی می دسفارش اومعذرت لپاره کفایت کوی»
په داسی حال کې چې درحم وړ وم خانقاه ته ورسیدم خولامی دروازه نه وه ټکولې هغه کس می مخامخ ولاړ ولید چې داوږدی مودی راهیسی دلیدو په تمه وم، په لاس کی یې یوه مرغی وه، سر یې ډیر بد ټپی او وینی شوی و او داسی پرپیده تابه وی چې دژوند وروستی سلگی یې دی، ترسلام اچولو وروسته می وویل:
«وبخښنی چې په دی حالت کې تاسی ته راغلم خو څه می کړی وی مجبور وم توپان ډیر تند و او کلي له دی ځایه لری....»
تندی یې تروش کړ، ماته یې په غور ولیدل او په حقارته ډکه لهجه یې وویل:
«دلته ډیر سوری شته که تا غوښتی وی هغو کی دی پناه اخیستلی شوه»
خبره یې ختمه شوه او پر مرغی یې داسی دمینې ډک لاس راکش کړ چې ما داسی صحنه په ژوند کی نه ولیدلی.... دامتضاد حال .... دارحم او داسخت زړیتوب..... دده داحرکت ماته ډیر حیرانونکی و تر ټولو حیرانونکی دا، چې ولې ماسره دومره سوړ برخورد کوی؟
زما خواته یې داسی ولیدل تابه وی خبری راڅخه غواړی او زما پر ذهنی خپگان پوهیدلی بیا یې وویل:

« توپان له خوسا غوښې ځان ته ډوډۍ نه برابروي بيا ته ولې دويري راوتښتيدې ؟ »
ماځواب ورکړ:
« داسمه ده چې توپان له تروشو او خوسا شيانو سره مينه نه کوي خو يخ شيان يې خوښيږي زما يقين دی که زه بيا دهغه لاس ته ور شم ما به يوه خندوره کپاړه وګڼي اوله ستوني به مې تيره کړي ».
ځيره يې لږه وغوړيده او وي ويل:
« که توپان تا يوه خوندوره کپاړه (مړی) وګڼي اوله ستوني دې تيره کړي داستا لپاره دومره لوی عزت دی چې په هيڅ صورت يې ور نه يې ».
ماځواب ورکړ:
« په همدې خاطر زه له توپان څخه راتښتيدلی يم اودلته راغلی يم ترڅو هغه عزت مې په برخه نشي دکوم چې زه ور نه يم... »
دموسکا دپټولو په خاطر يې زما خواته شا ء کړه ، دانګيټي ترڅنګ ايښودل شوي چوکۍ خواته يې اشاره وکړه او وي ويل:
« په دې چوکۍ کښينه او کالي وزبيښنه! »
مننه مې وکړه او دواړه کيناستو ، زه هغې چوکی باندې چې دانګيټي ترڅنګ ايښودل شوې وه او هغه دتيږو څخه جوړ شوي تختکي باندې ، خاورينې پيالۍ کې لاس ور دننه کړ ، ګوتې تيلو باندې غوړې کړې او دتپې مرغۍ پر وزرو او سرباندې يې ووهلې ، بيا يې زما خواته وليدل او وي ويل:
« توپان اوباد داغريبه مرغۍ تيل وهلې او پر غره رالويدلې... »
ماځواب ورکړ:
« په همدې ډول زه هم توپان ستا دروازې ته را وغورځولی يم او تر اوسه راته پته نشه چې زما مټ يې مات کړي او که سر يې راټپي کړی ؟ »
« څومره ښه به وي که دانسان فطرت دمرغيو په شان وي ! څومره ښه به وي که

توپان دانسان مټ ماتولی او سر ټیټی کولی ! خو بزدلی او ډار دانسان په طبیعت کې نغښتی ، توپان نوی تیز شوی چې هغه سوړو ، کونجونو او بړستنو کې پټیږي ».

دخبرو دجاری ساتلو په خاطر ما وویل:

« مرغیو ته هغه څه ور په برخه دی کوم چې انسان ته نه دی ، انسان دهغه قانون او هغو رواجونو سیوروکی ژوند کوی چې دځان لپاره یې تاکلی خو مرغی دهغه عام او تولنیز قانون لاندی ژوند کوی دکوم له مخی چې ځمکه دلمر خوا اوشا ګرځی ».

په سترګو کی ځلا پیدا شوه او د تندی ګونځی وغوړیدی ، ماداسی محسوسه کړه چې هغه زه خپل یوه شاګرد وګڼلم اووی ویل:

« شاباس! ژوندی دی وی!! څه چې ته وایې که همدا دی عقیده وی نو بیا انسانان پریږده ، دهغوی ناقصو قوانینو او رواجونو ته لغته ورکړه اودمرغیو په شان داسی ځای کی ژوند غوره کړه چې دالله تعالی دحضور پرته بل هیڅ هم نه وی ».

SIKARAAM

ما ځواب ورکړ:

« څه چې زه وایم پر هغو عقیده هم لرم »

هغه لاس پورته کړ او په تنده لهجه یې وویل:

« عقیده جلا شی دی او هغی باندی عمل جلا ، زیات داسی خلک شته چې خبرې د سمندر په شان کوی خو ژوند یې دخوسا ډنډ زیات حیثیت نلری ، هغوی خپل سرونه دغرونو له څوکو هم لوړ بولی خوارواوی دسوړو په تیارو کی ویدی وی ».

دخبری تر ختمیدو وروسته یې ما ته دخبرو موقع رانکړه ، پاڅید ، مرغی یې دورسیځ ترڅنګ زوړند یوه زاړه کوټ باندی کینوله ، له شا او خوا یې واښه ، خځلې او بوس راغونډ کړل انګیټی ته یې وروا چول او وی ویل:

«بوټونه وباسه او پښې وچې کړه، رطوبت د انسان لپاره ډیر مضر دی، خپل کالي ښه وزيښه او مه شرمیږه».

زه اورته نور هم ورنږدې شوم، زما دلمدو کاليو څخه تاوخاته او هغه د خانقاه په دروازې کې ولاړو، ویرونکي فضا ته یې غورسره کتل، دلې ځنډ وروسته مې ترې وپوښتل:

«په دې خانقاه کې تا زيات وخت تیر کړی!»

پرته ددې چې ماته متوجه شي ځواب یې راکړ:

«زه دې خانقاه ته هغه وخت راغلم چې دا ځمکه خالي او ورانه وه او سمندرونو باندې تیاره راخوره وه».

چوپ شوم او زړه کې مې وویل:

«دا څومره عجیب او غریب انسان دی دده پیژندل څومره ګران دی؟ خو دده سره خبرې او داروا په اسرارو یې پوهیدل ضروري دي، صبر کوم، تردې چې دا نامهرباني او غضب یې په مهرباني اورحم بدل شي.

-۳-

شپې خپل تور وزر وغوړاوه، توپان او وربښت دومره شدت غوره کړ چې ماوپتیله ژوند فنا کوي اود ځمکې له مخ څخه د ژوندیو، خلیو او بوټو دپاکولو په خاطر په جوش راغلی. د یوسف فخري نفرت اوکرکه په انس او ملګرتیا بدله شوه، پاڅید او دوه څراغونه یې بل کړل، تردې وروسته یې دشرابو څخه ډک یوجام اوشکور زما مخې ته کیښود، په شکاره کې ډوډۍ، پنیر، دزیتون غوړي او لږ څه وچه میوه وه، ماته مخامخ کیناست او په مهربانۍ یې راته وویل:

«ماسره چې د خوړلو څه وستامخې ته پراته دي راشه، ماسره پکې ځان شریک کړه!!»

دشپې ډوډۍ موپه آرامي سره وخوړه دباد شغار اوباران ټکار مې اوریده هرې

کېږي (مړي) سره به مې د یوسف فخري څېرې ته لیدل ترڅو دهغه رواني حالت، ذهني کیفیت او وجداني میلانونه معلوم کړم، له دستر خوان څخه پاڅید دانګیټي (بخاري) څخه یې دچای خوټولو چاینک راواخیست او دوه پیالو کې یې قهوه واچوله، بیا یې د سګرټ ډبې خلاص کړ ماته یې رامخې ته کړ او په نرمه لهجه یې وویل:

«واخله! سګرټ وڅکوه!!»

ما یو سګرټ واخیست، په بل لاس کې مې دچایو پیاله وه، په دې وخت کې چې ما څه ولیدل تردې دمخه مې دهغې یقین نه کاوه، چې دسګرټ څخه مې څو کشه او دچایو څخه مې درې، څلور غوړپه وکړل هغه سرو خوراوه، ماوې که افکارو باندې مې وپوهید وی ویل:

«حیران به وې چې څنګه دې خانقاه کې شراب، سګرټ او قهوه شته، یوازې دانه ښایې ډوډې، سامان او بستري ته هم حیران شوی وې، تا نه تورن کوم څکه ته هم دهغو خلکو څخه یو یې چې دانسانانو لرې والي دژوند دټولو څوندونو او عامو خوشحالیو څخه لرې والي سره لازمي بولي».

ما ځواب ورکړ:

«هو! دازما عقیده ده دالله تعالی دعبادت په خاطر دښار څخه د مخ اړولو معنی داده چې یوازې او زاهدانه ژوند وشي او ددنیا هر لذت او خوښي ته شا کړي».

هغه وویل:

«دالله تعالی مخلوق سره داوسیدو دوران کې هم ما عبادت کاوه دعبادت لپاره یوازې توب او کونج ته ناستې ضروري نه دي، ما دالله تعالی دعبادت په خاطر نړۍ نه دي پرې ایښې ځکه هغه یوازې دپلار، مور کورکې نه، هر ځای کې موجود دي، زه په دې خاطر له خلکو ګوښه شوی یم چې زما اخلاق او افکار دهغوی داخلاقو او افکارو څخه جلا او بیل وه، ما تمدن ته په دې خاطر

لغته ورکړه چې زما په نظر هغه يوه زړه، فاسده، قوي او غټه ونه وه، د کومې رېښې چې د ځمکې په تيارو کې خوري شوي او څانگې له آسمان سره خبرې کوي خو گل يې حرص، بداخلاقي، جرم او گناه ده او ميوه يې آفت، بدبختي او غم، ځينو مصلحو وغوښتل چې هغه پيوند کړي او د دې ونې طبيعت بدل کړي خو بريالي نشو او هغوي د خپگان، مظلوميت او ناکامې حال کې مړه شول. . . . »

چوکۍ ته يې تکيه وکړه او غبرگ يې له مخکې هم اوچت شو داسې تابه وي چې د خپلو خبرو له اغېزې خوشحالېږي، خبرې جاري وساتلې او وې ويل:

« نه! ما د عبادت لپاره گوښه کيناستل نه دي غوره کړي په دې خاطر چې عبادت . . . . . . . د زړه ترانه ده . . . . . . . د چيغو مينځ کې هم الله تعالی ته رسيږي او رهبانيت . . . . . . . . چې دوهم نوم يې ځان مجبور ول او د غوښتنو وژنه ده. . . . يوه مسئله ده چې زما په مذهب کې ورته ځای نشته الله تعالی جسم د روح د عبادت ځای گرځولی او پرمونږ فرض ده چې د هغه ساتنه وکړو . . . نه! زما ملگريه!! ما د زهد او عبادت لپاره گوښه کيناستل نه دي غوره کړي بلکې په دې خاطر مې گوښه کيناستل غوره کړي چې ما د خلکو د قوانينو، ښوونو، رسم، رواج، د هغوي د افکارو او مصيبتونو څخه تيښته غوښته، ما په دې خاطر يواځې توب غوره وباله چې د هغو خلکو منحوسې څېرې ونگورم کوم چې خپله اروا خرڅوي او په هغو پيسو داسې شي اخلي چې ارزش يې له دې کم وي، ما په دې خاطر گوښه کيناستلو ته ترجيح ورکړه چې نه مې غوښتل هغو ښځو سره وگورم چې پرديو سره سترگې جنگوي په مخ کې يې موسکاوې خو په زړه کې يواځې يو . . . . . . . بس يو هدف وي، ما په دې خاطر له خلکو لرې والي غوره کړ تر څو د هغو نيمه فيلسوفانو له ناستې ځان خلاص کړم چې په خوب کې د علم سيورې گورې او فکر کوي چې په دې دنيا کې لوړ مقام لرې او چې په وېښه حقيقت وگورې داسې فکر کوي چې د

حقیقت عام او کامل جوهریې تر لاسه کړي، ما ګوښه کیناستل په دې خاطر مناسب وبلل چې زه د دې جاهلانو له حرص څخه وویریدم کوم چې ښه اخلاق کمزوري، بخښنه بزدلي او غرور دلوی والې یو ډول بولي.

څکه مې د لته ژوند کول غوره وبلل چې اروا مې د هغو پانګه والو سره د ژوند له وجې ستړي شوې وه کوم چې فکر کوي لمر، میاشت او ستوري د هغوی له خزانو راخیژي او د دوی جیبونو کې ډوبیږي، د هغو مشرانو مې زړه موړ شو چې د قوم له هیلو سره لوبې کوي او د خلکو سترګې په زرین غبار او غوړونه خوږو الفاظو سره ډکوي او د هغو پادریانو څخه په تنګ شوی وم کوم چې خلک هغو خبروته رابولي چې خپله عمل نه پرې کوي او هغه شیان تر غوږ چې له ځانه یې نشي غوښتی.

ما په دې خاطر یوازې توب د ژوند مرکز غوره کړ چې تر او سه ما ته د انسان له لاسه داسې څه نه دي را کړ شوي د کوم قیمت چې ما د زړه په وینو نه وي ادا کړي.

ما ته په دې خاطر د یوازې ناستې غوښتنه پیدا شوه چې یوازې توب د اروا، فکر او زړه لپاره یو ژوند دی.

په دې خاطر ما په دې ورانو ځنګلونو کې د ځان لپاره کور جوړ کړ چې هغه کې د لمر رڼایي، د ګلانو خوشبویي او ویالو سندرې دي.

ما غرونو کې څکه ژوند غوره کړ چې هغه کې د پسرلي او شوق وینبتیا، د منی ترنم پالنه او ژمی اراده موجوده ده.

غلې شو، ساه یې واخیسته داسې تا به وې چې د روند باریې له خپل سر څخه راکوز کړې سترګې عجیب او غریبو طلسمي ورانګو سره روښانه شوې او څیره کې یې د عزت نفس اراده او د قوت موجونه په لوبو شول.

تر ډیره وخته مې د هغه څیرې ته کتل، په دې زیات خوشحاله وم د کومو پټو خبرو معلومولو تمنامې چې زړه کې وه هغه همدا اوس زما مخې ته وې، ورته

مخاطب شوم او ومی ویل:

«تاسو چی څه وویل، بیخی پر ځای اوسم دی خو تاسی ته معلومه نه ده چی د تولنی د ناروغیو او تکلیفونو کوم تشخیص چی تاسی کړی د هغی څخه ماته روښانه شوه چی تاسی یو پوه ډاکتر یاستی او یوه ډاکتر ته نه ښایي چی د ناروغ د شفا او مړینی وړاندی له علاج لاس واخلی، نړی ستاسی په شان خلکو ته ضرورت لری او دا به له انصاف څخه لری وی که تاسی تولنی ته د گټی رسونی قوت ولری او له هغی لمن راټوله کړی... »

تر ډیره یې ماته په غورو لیدل بیا یې په خپگان او تندی لهجی سره وویل:

«...... د ژوند له پیل څخه د طبیبانو دا هیله وی چی ناروغ ته نجات ورکړی په همدی نیت ځینو ځان سره سامان را اخیستی وی او ځینو دواگانی، خو افسوس چی هر یو یې په ارمانه ډک حالت کی له دنیا سترگی پټی کړی، کاش!! د زمانی کړلیچونو په را د مخه کړی ناروغ خپل خو سابستر او خپلو ټپونو باندی اکتفأ وکړی خو داسی نه ده! هغه له خپل څادر څخه لاس راوباسی او د هغه طبیب ستونی ته یې وراچوی چی دده د علاج لپاره راغلی خو کومه خبر چی ما په غصه کوی او وینه زما په رگونو کی په شغلو بد لوی هغه داده چی دا ناورغ لومړی طبیب وژنی او بیا پښیمانه وی،......... »

ما ځواب ورکړ:

«محترمه! نړی کی د یخنی موسم په ختمیدو دی او تر دې وروسته ښایسته پسرلی راروان دی هغه کی به بیا گلان د بڼونو ښایست او ویالی د سیمو خوږ غږ وی.... »

یو سوړ اسویلی یې وایست تنده یې تروه کړه او په غمجنه لهجه یې وویل:

«کاش! ماته معلومه وی چی الله تعالی د انسان ژوند ...... له دی زما مطلب دا زمانه ده، تولو اړونده شیانو سره ...... په دی موسمونو ویشلی دی، چی د خپل تگ او تسلسل په اعتبار دعامو موسمونو سره ورته والی

لري؟ آيا د زرګونو کلنو تر تيريدو وروسته دځمکې پرمخ داسې انساني دله پيدا شوې چې د اروا د سپيڅلتيا پراصولوژوند وکړي؟ آيا داسې زمانه به راشي چې انسان ته عزت او لوړوالي په لاس ورشي او هغه دورځې له رڼايي او شپې له تيارو څخه ونه ويريږي او هغه ښه او خوندو اخلي؟

ايا دا خوب به کله رښتيا شي؟........ آيا دا خوب په هغه وخت رښتيا شي کله چې ځمکه د انسان له غوښې ډکه لوړه او د هغه له وينې ډکه تنده سړه کړي؟»

ودريد، ښي لاس يې د آسمان خواته پورته کړ تابه وي چې ددې دنيا پرته، يوې بلې دنيا خواته اشاره کوي او وايي:

«دا دير لرې خوب دی او دا خانقاه د خوبونو ځای نه دی ځکه چې زه ددی انګړ او کونجونو هر شی باندی په يقيني توګه پوهيږم يواځې دانه دی ددی سيمې او غرونو هرې ذرې او کاڼي باندې پوه يم دا حقيقت د يقين تر حده منم چې شته يم او زما د وجود په ژورو کې لوږه هم شته او تنده هم، ما ته حق دانيودلی چې زه د ژوند خواږو او ښکلا کې له هغو ظرفونو کار واخلم کوم چې ما په خپل لاس جوړ کړي، همدا وجه ده چې ما د انسان ميلمستياو او دسترخوانونو ته لغته ورکړې، دلته راغلی يم او تل به دلته هوسيږم...»

د کوټې په مينځ کې ګرځيده، ما د هغه پرخبرو، سببونو او عواملو غور کاوه، ماوې څه باعث شوې چې د انساني ټولنې تصوير يې د ده ته داسې ښودلی آخر مې ورته وويل او هغه ودريد:

«زه ستا د افکارو او اهدافو احترام کوم او زړه کې مې ستا فکر لپاره د احترام او عزت ځای شته، خوماته روښانه ده...، د افسوس ځای دی..... چې ستا ګوښه کيناستلو سره، دې بدقسمته قوم داسې څوک له لاسه ورکړې چې هغوی ته د ګتې رسولو او د هغوی د ويښولو توان لري».

سرېې وخوز اوه او ځواب يې راکړ:

«دا قوم هم د نورو قومونو په شان دی ځکه چې انسان یوه فطرت سره زیږي او که هغوی کی کوم توپیر شته، یواځې د بهرنیو مظاهرو دی، پر همدی بنسټ د شرقي قومونو بدبختي، په اصل کی د تولي نړۍ بدبختي ده کوم څه چې ته د غرب پرمختګ بولې، هغه د غرور سیوری دی اوبس! دوکه، دوکه دی که ته هره جامه ورواغوندې، که سپینو زرو کی پټه کړې او یا د زرو اوبه ورکړې، که دوربینمو کالي ورواغوندې، که ماشیو او محلونو کی واوسیږي بیا هم دروغ نه ربنتیا کیږي، او که اورګاډو کی کیني او یا په الوتکو کی هواته سفر وکړي بیا هم خیانت، په امانت نه بدلیږي، مریتوب ..... د ژوند مریتوب دماضي مریتوب د اصولو، روشونو او کالیو مریتوب، د نارینه مریتوب هر وخت مریتوب وی که د هغې څیری ته بل رنګ ورکړي او یاي کالي بدل کړي هو! مریتوب! هر حال کی مریتوب وی که هغه هر څومره ځان خپلواک بولي، نه! زما مهربانه! نه غرب له شرق څخه پر مختللی او نه شرق له غرب څخه زیات وروسته پاتې دی، دی دواړو کی کوم توپیرنشته، ددی پرته کوم چې د لیوانو د ډولونو مینځ کی وی، ما د تولني ډول، ډول حالتونه لیدلي، د هغې تر شأماته هغه ازلي انصاف خوښونکی تر نظر راغلی کوم چې بدبختي، ړوندوالي او جهالت یوی درجې کی شمیری یو قوم ته پر بل قوم برتري نه ورکوی او نه داسی کوی چې یوه ډله پر یږدی بلې ډلې باندی ظلم وکړي»

زه د شک تر حده حیران شوم او ومې ویل:

«ددی معنی دا شوه چې تمدن او د هغه دا تول ډولونه باطل دی»

په جذباتي لهجه یې ځواب راکړ:

«هو! باطل دی، د تمدن او د هغه ډولو نه باطل دی داتول اکتشافات او اختراعات څه دی؟ د هغو تاوانونو پرته چې عقلونو ته د دروغو تسلاً ورکوی، په داسی حال کی چې هغه د وارخطایي او خپګان ژورو کی ډوب وی او دا د فاصلو لنډوالي، د غرونو او سیمو یو شان ګرځیدل او فضأ باندی غلبه

څه ده؟ د هغو ساختگي ګلانو پر ته چې نه سترګې پرې ارامیږي نه دزړه لپاره غذا جوړیږي او نه ارواوې لوړوڅو کو ته رسوي هو! د انسان دا ټول کارونه، دا ټول هدفونه او بریالیتوبونه، دا ټولې جګړې او هیلې باطلې دي، هو! دنړۍ هر څه باطل دي او د ژوند ټولو مصروفیاتو کې د یوه شي پر ته بل هیڅ شي د اروا د مینې او شوق مستحق نه دي.......... هو! یواځې یو شي».

ما ترې وپوښتل:

«ولې؟ محترمه! هغه څه دي؟»

تر یوې دقیقې بلکل غلې و بیایې ټېر باندې لاس کېښود او سترګې پټې کړې، په څیره کې یې ځلا پیدا شوه او په لړ زیدلي خواږه غږیې وویل:

«هغه د اروا وینبتیا ده هغه یو تصوردی چې د انسان پر احساساتو ناڅاپې حمله کوي او د هغه سترګې غړوي ضمیر د هستي له شعلویوه شعله ده، ناڅاپې د اروا په دننه کې لمبې وهي او هغه خلې او بوتې ایره، ایره کوي کوم چې د اروا ځلورو خواو څخه راتاو شوي وې وزروهي او هواته الوځي، هغه یوه جذبه ده چې د انسان پرزړه نازلیږي او هغه حیرانتیا کې ډوب ودریږي هر هغه څه د حقیقت خلاف بولي چې د هغه مخالف وي، هر هغه شي څخه کرکه کوي چې ده سره ملګرتیا نه کوي او د هر هغه شي خلاف د بغاوت توغ پورته کوي چې دده پررموزو او اسرارونه پوهیږي، هغه یو پټ لاس دي، کوم چې زما له سترګو یې پرده لرې کړه، هغه وخت چې ما د خپلوانو، ملګرو او هیوادوالو سره ګډ ټولنیز ژوند کاوه او زه حیران او وار خطا شوم زړه کې مې وویل:

«دا کوم خلک چې زما خواته ګوري حیثیت یې څه دي؟ زه هغوی څه ډول پیژنم او هغوی سره مې چیرته لیدلي؟ ولې هغوی سره ژوند کوم، او ولې هغوی سره ناسته پاسته او خبرې کوم؟ زه هغوی کې پردیسي یم که دوی دې کلي کې پردي دي؟».

د لږ وخت لپاره غلی شو تا به وی چې د تیرو وختونو یاد یې په حافظې کې هغه تصویرونه را ژوندی کړل د کومو ویل چې ده ته خوندنه ورکوی. بیا یې لاس رااوږد کړ او غوږ کې راته وویل:

«دا دی هغه کیفیت او حالت کوم چې ځوکاله وړاندی ما باندی حمله وکړه ما دنیا ته شاکړه او ذوینښ ژوند، فکر، جذبې اوچوپتیا ځخه د ګتې اخیستلو په خاطر دی وران ځنګل ته راغلم»

د شپې تیاری  ته یې سترګې ځیری کړی، د خانقاه د دروازې خواته روان شو، هلته چې ورسید بیا په خبرو شو تا به وی چې توپان ته مخاطب شوی:

«دا یوه ویښتیا ده چې دارواو په ژورو کې پیدا کیږی، ځوک چې پری پوهیږی په خبروکی یې نه ظاهروی او ځو ک چې نه پری پوهیږی ترقیامته یې پته نشی لګولی».

-٤-

د فکر د جنګولو او د توپان د کړیکو او نعرو سره دهم غږی کیدو یو اوږد ساعت تیر شو یو سف فخری به کله کوټې کې چکرواهه او کله به دروازې کې ودرید او ګډه وډه فضا به یې په غورخارله خوږه غلی ناست وم، د هغه روحانی ځپی می محسوسولی او د هغه خبری می حافظې کې تازه کولی، د هغه د ژوند ګوښه والی، لذتونو او تکلیفونو باندی مې فکر کاوه کوم چې ده ژوند کې پټ دی، د شپې دوهمه برخه چې ختمه شوه ما ته رانږدې شو او تردیره یې ماته لیدل، تا به وی په خپلې حافظې کې د هغه کس نخښې ساتې چاته یې چې د ګوښه کیناستلو راز ښودلی، بلاخره یې په آرامه لهجه وویل:

«زه په دی وخت کې توپان کې ګرځم دا مې عادت دی، درواخله! سګریت، د قهوې او چاې پیاله، که شرابو ته دی زړه وشو په هغه صراحی کې شته، ګوره! بړستن او بستره هغه کونج کې دی که خوب درغی آرام ویده شه»

کوړیتی، کوړیتی تور بالاپوش یې واغوست او په خندایې وویل:

«امیدواره یم چی سهار به د تګ په وخت د خانقاه دروازه پوري کړي ځکه چی زه سبا ورځ د صنوبرو ځنګلو کی تیروم».
د دروازی خوا ته لاړ، پداورد کوتک یې لاس کی واخیست او وی ویل:
«که خانقاه سره نږدې سیمو کی بیا توپان راګیر کړي په راتګ کی ځنډمه کوه. زه هیله مندیم چی ته به د توپان څخه ویره نه، مینه زده کړی . . . . . ښه! شپه دی په خیر!»
څټک ګامونه یې واخیستل له دی ځایه لاړ زه د خانقاه په دروازی کی ودریدم تر څو وګورم چیرته ځي، تیاری زما له سترګو پناه کړ خو تر ډیره وخته یې د ګامونو غږ زما غوږته راته، چی سهار شو توپان نه و، وریځی ورکی شوی وی، د غرونو شاواوخوا څوکی د لمر په رڼایې کی ځلیدی، ما د خانقاه دروازی ته قفل ورواچاوه او د خپلی اروا د معنوی ویښتیا سره یو ځای بیرته راروان شوم هغه ویښتیا چی یوسف فخري په زیات جدیت سره ښودله. خو کله چی د خلکو داوسیدنی ځای ته راورسیدم، خلک می په ګرځیدوکی ولیدل او د هغوی غږونه می تر غوږ شول ودریدم او زړه کی می وویل:
«د شک پرته چی داروا ویښتیا د انسان لپاره ضروری ده بلکی همدا د هستی هدف دی، خو آیا تمدن په خپلو بیلابیلو لباسونو او کالیو سره د اروا دویښتیا یوه ذریعه نه ده؟ مورډ موجوده حقایقو څخه ولی منکرېږو په داسی حال کی چی د هغوی څخه استفاده د هغوی د موجودیت کامل دلیل دی او کیدای شي موجوده تمدن زوال موندونکی وی خو دا د ارتقأ پوری ګرځیدلی.
تردی وروسته ما بیا کله هم یوسف فخري ونه لید ځکه چی د منی په وروستیو ورځو کی د ژوند ضرورتونو د شمالی لبنان څخه لری سیمی تلوته مجبور کړم چیرته چی توپان تازومار او ګوښه کیناستل د جنون او لیونتوب یو ډول و.

# د مړو په کلي کې

پرون .... زه د ښار له غالمغال او ګڼې ګوڼې ووتم اراده مې وه چې شنو سيمو کې ګکر ووهم يوه لوړ غره ته، چې فطرت ښايسته کالي وراغوستي وورسيدم، همالته تم شوم ښار د ټولو لوړو بلډنګونو او ښايسته بنګلو سره دفاپريکو مرداړولوګيو کې ډوب تر نظر راته، همالته کيناستم او د انسان عملي ژوند ځارل مې پيل کړل، ماته د انسان ژوند ټول «تکليف» ښکاره شو، په زړه کې مې فيصله وکړه چې نور د انسان په دې تصنعي ژوند غوږنه کوم، مخ مې هغو شنو سيمو خواته کړ چې د الله تعالي د عظمت ښکارندوي و، ومې ليدل چې ددې شنو سيمو مينځ کې يوه هديره ده د هغې مرمرين قبرونه د سروې د ونو څخه زيات ګڼ و، هلته...... د مړو او ژونديو کلي مينځ کې... ماددي کلي د پرله پسې هڅو او حرکت او د هغه پر خوري شوي چوپتيا او آرامتيا باندې فکر کاوه، يوې خوا اميدونه و او نا اميدي، مينه وه او کرکه، اميرو او غريب، عقيده وه او بې عقيده توب، همدې فکرونو کې ډوب وم چې يوې لوي ورو، ورو تلونکې ډلې ته مې پام شو مخکې ترې ساز او موسيقي وه چې دغم ډکو نغمو يې فضأ کې خپګان خوراوه، دا يو ډيره لويه ډله وه چې پکې د عظمت او قدرت سالار هم شامل و. د يوه غټ رئيس جنازه

وه.... د يوه مړي هډوکي و، چې شاته، شاته وړپسې ژوندیو ژړل، کړیکې کولې، فریادیې کاوه او خپل ویر اوماتم سره یې ټوله فضأ غمجنه کړې وه، راروان و، جنازه هدیرې ته راورسیده، د کلیسا پادر یانو د مړي د مغفرت لپاره دعا وې وکړې، سرنې چیانو یوې خواته شول او د غم سازیې وغږ اوه، تر دوې وروسته خطیب رامخې ته شو او په ډیره روانه ژبه یې مړي باندې خبرې او ماتم وکړ، بیا شاعرانو خپلې مرثیې ولوستې چې هغو کې د سوز ترڅنګ نور لطافتونه هم و، دا ټول مراسم تر ډیر څنډ وروسته پای ته ورسیدل، او خلک ورو، ورو له قبر څخه لرې شول کوم باندې چې انجینرانو او قبرکندونکو یوه بل څخه د مخکې کیدو کوښښ کاوه او هنرمندو لاسونو باندې جوړ شوې هارېرې پروت و، خلک د ښار خواته بیرته لاړل، ماله لرې دا هرڅه لیدل او هغو باندې مې غور کاوه.

لمر ښه اوچت او د غرونو او ونو سیورې اوږده شوې و، فطرت د نور د لباس ایستل پیل کړل، ماسترګې پورته کړې او ومې لیدل، دو کسانو یو لرګین تابوت پرولو رانیولې او راروان دې، شاته وړپسې یوه ښځه وه، چې شلیدلې کالې یې اغوستې و، غیږه کې شودې او ماشوم وڅنګ ته یې یوسپې روان و چې کله به یې ددې خواته لیدل او کله هم د تابوت خواته، دا د یوه غریب جنازه وه شاته وړپسې کونده میرمن وه چې د غم او خپګان اوښکې څڅولې، یو یې ماشوم و چې د مور ژړا به یې ولیده ژړل به یې، او یو یې هم وفادار سپې و چې د تګ څخه یې د غم او خپګان پته لګیده، هدیرې ته ورسیدل او تابوت یې یوه قبرته ورکوز کړ دا قبر د مرمرینو قبرونو ډیر لرې یوه کونج کې و وروسته دا نسراره ډکې چوپتیا سره بیرته لاړل، سپې د لرې څخه د خپل بادار وروستې تم ځای ته لیدل، تردې چې ټول ونوکې ورک شول، په دې وخت کې ما د ښار

خواته ولیدل او زړه کی می وویل:

«دا د دولتمندو او زورورو لپاره دی!»

بیا د هدیری خواته می ولیدل او ومی ویل:

«او دا هم د دولتندو او زورورو لپاره!! نو بیا ای معبوده! د کمزوریو او غریبانو هیواد چیرته دی؟»

د وریځو خواته مې پام شو غاړی یې د لمر په ښایسته وړانګو سره طلای شوی وی. له زړه ځخه مې غږ ره شو:

«هلته..........!»

SIKARAAM

# باغي ارواوي

د شمالي لبنان په یوه کلي کی «شیخ عباس» داسي اوسیده لکه د خلکو مینځ کي بادشاه، د کلي د کورونو مینځ کی د هغه کور داسي ښکاریده لکه د تیتي ځواني خلکو مینځ کی چي د لومړي ونی ځوک ولاړوی، کله به چي «شیخ عباس» ددي بزگرانو مینځ کی کیناست او خبری به یې کولي هغوی به داسي سرونه ورته خورول تا به وی چي عقلونه یې دده واک کی دی او چي کله به هغه په غصه شو بزگران به له ویری لړزیدل او چي وروبه یې لیدل داسي به یې ښبي سپکولي لکه ځنگه چي د مني باد له ونو وچي پاني په هوا کوی، او که بیا به یې ځوک په ځپیړه وواهه هغه به غلي ودریدلي و او داسي به یې گڼله چي دا ځپیړه داسمانه پري نازله شوی ځکه به یې د سترگو پورته کولو جرئت هم نه کاوه او فکر یې کاوه که دا نظر کي ونیسم چي د ځپیړي وار چاراباندی کړی نو بیا کفر ته داخلیږم او که هغه به بیا چاته وخندید ټولو به بیا هغه کس ته مبارکي ورکوله چي شیخ له تا خوښ دی، «شیخ عباس» ته دا خلک په دی خاطر نه وتسیلم چي هغه قوی و او دوی کمزوری، بلکی دا ددی نتیجه وه چي هغوی مفلس و او ده ته احتیاج، په کومو ځمکو کی به چي دوی کرکیله کوله او کومو کورونو کی به چي اوسیدل هغه د شیخ ملکیت گرځیدلی و، شیخ ته



SIKARAAM

دا جائیداد داسې له پلرونو او نیکونو پاتې و لکه دې بزگرانو ته غربت هغوی به د شیخ تر شارني لاندې کرکیله کوله او فصلونه به يې ریبل، خو ددې دزانده کار په بدل کې به يې دومره غله هم لاس ته نه راوړه چې له فقر څخه يې وباسي، زیاتره به د موسم او فصل تر تیریدنې ورانديدو ددې ته احتیاج و، یو، یو به هغه ته ورتلل په ژړا او زاریو به يې د هغه څخه یو دینار یا یوه توکری غنم قرض کول شیخ به د هغوی غوښتنه به ورین تندی منله ځکه پوهیده چې د غنمو موسم کې د یوه دینار څخه دوه دیناره او یوې توکرې څخه دوه توکرې جوړیږي او په دې توگه په ټول د شیخ قرضداری کیدل د خپلو مشکلاتو د حل په خاطر هغه ته مجبور و، د هغه له غصې او قهره ویریدل د حکم بنده گان وو ژمې دواوړ په وزیدو او یخنی راتلو سره راورسید، د منې په موسم کې دونو ټولې پاڼې توی شوي وې، د «شیخ عباس» گوډامونه له غلې او منگي له شرابو ډک و، کورکې ناستو او ددې پرته چې د انگیتیو شاته کینې او تیر شوې ورځې یادې کړي بل څه کار يې نه و، د دسمبر میاشت تیره شوه، کال وروستي سلگۍ وکړې او ساه يې ورکړه، شپه شوه او د هغې له گیډې نوی کال په زیږیدوو، د ورځې رڼايي د شپې په تیارو کې ورکه شوه، یخه هوا په چلیدو شوه غرونو له څو کوښې واوره الوزوله، لاندې راغورځوله تر څو کندې پرې ډکې کړي د تیرې ورځې اوښنې شپې واورې د ځمکې مخ سپین پوښلی و. د کورونو له ورسیو راوتونکې رڼايي هم کم رنگه وه، د بزگرانو پرزړه ویرې منگولې ولگولې، حیوانات کونجونو ته ننوتل، د تندو بادونو ویرونکې غږونه په ژورو کې تاویدل داسې ښکاریده تا به وې چې د غرونو څوکې یو بل سره لگیږي، میده، میده کیږي او دا لوگې جوړوي، په دې ویرونکې او خطرناکې شپې کې یو یوویشت کلن ځوان د «قزحیا» له کلیسا د «شیخ عباس» کلې خواته روان و، د «قزحیا» کلیسا د لبنان پیژندل شوی او مالدار کلیسا دد د حاصلاتو شمیر يې له زرگولو دینارو هم زیات ښودل کیږي، هلته

د کلیسا پیژندل شوی پادریان هوسیږی، «قزحیا» د سریانی ژبی یو تکی دی او معنی یې ده د ژوند جنت، یخنی ځوان باندی سخته اغیزه کړی وه، لوږی او یخنی یې قوت ختم کړی و، تور کالی یې له واوری ډک شوی و او داسی ښکاریده تا به وی کفن یې اغوستی، چی مخکی به یې گام واخیست د یخنی څپیږه به یې پرمخ ولگیده او بیرته به یې په شاکړ، داسی تابه وی د مرگ خواته یې بیایې، گام په گام لویده، بیرته به پاڅید او غوښتل به یې مخکی لاړشی، سخت لړزیده او مرموزو عناصرو سره د مقابلی توان یې له لاسه ورکړی و حالت یې هغه حیوان ته ورته ؤ چی سیند لاهو کړی وی او څپی یې ژور وخواته کش کوی، ځوان روان و او مرگ یې هم ملگری، تر هغی چی توان یې ختم شو، وینه یې رگونو کی غوټه شوه او واورو باندی ولوید، وجود ځواب ورکړی و خوغږیې ایستلی شو، ویرونکی غږ ...... له یوه داسی ستونی راوته چی مرگ تر سینی لاندی کړی و، یو داسی غږ چی د تیاروژورو تل ته د ډوبیدو په لور روان و، یو داسی غږ چی ختمیدو سره یې د ژوند وروستی کړیکه ختمیده.

د همدی کلی په شمالی برخه کی «دراحیل» په نوم یوه ښځه د خپلی لور «مریم» سره اوسیده، «مریم» عمر له اتلس کالوزیات نه و «راحیل» د «شمعان» میرمن وه چی پنځه کاله وړاندی ځنگل کی مړموندلی شوی و او ترننه یې د وژنی علت او قاتل معلوم نشو، «راحیل» د نورو کونډو په څیر د خپل لاس په جوړ وشوشیانو روزی گټله، د فصلونو دریبلو وخت کی ډکي راغونډول او ژمی کی به یې بیا خلکو ته کالی گنډل او پیسی به یې لاس ته راوړی، لوریې «مریم» ډیر ښایسته وه، د کور کارونو کی به یې مور سره زیاته مرسته کوله او زیاته شریفه او پاکه پیغله وه په همدی ویرونکی شپی کی «راحیل» او لور یې د انگیټی ترڅنگ ناستی وی، د اور سکروټی د یخنی له شدت څخه په ایروبدلیدی، پرسرونو یې یو تت څراغ بل و چی

زیړرنګی کمزوري وړانګي تري راوتي، شپه نیمه شوې وه، دواړو د باد شور اوریده، باد د توپان په شان موجونه پیدا کړي و، پیغلې به کله نا کله ورسي خلاصه کړه او شا او خوا به یې ولیدل، د ویرونکو غږونو څخه به وویریده او بیا به خپل ځای کې کیناسته، چې په وروستي ځل یې دا کار وکړ تکان یې وخوړ، د مور خواته یې ولیدل او وې ویل: «مور جانې».

مور تري وپوښتل: «څه دې لوري؟».

«مور جانې! تاوانوریدل څوک چیغې وهي».

«راحیل» سر ورمخې ته کړ، ځیره شوه د اوریدو کوښښ یې وکړ بیا یې خپلې لورته ځواب ورکړ «نه! زه خو د هوا له ویرونکو چیغو پرته څه نه اورم»

«ما یو عجیب غږ واورید هغه له هوا زیات زور ور او له توپان د یر ویرونکی و».

پیغلې دې خبرې سره ورسي خلاصه کړه، غوږ شوه او بیا یې وویل:

«موري! هغه له درده ډ ک غږ ما بیا واورید»

«راحیل» پورته شوه، د ورسي تر څنګ راغله او وې ویل:

«ما هم دا غږ واورید، څه دروازه خلاصه کړه بهر ووځو او وګورو دا له درده ډ ک غږ د چادی، ګوره، ورسي بنده کړه تر څو څراغ مړ نشي»،

«راحیل» زر څادر تاوکړ او دروازه یې خلاصه کړه، «مریم» ورته په دروازې کې ودریده او باد یې اوږده اوږده ویښته یوې بلې خوا غورځول- «راحیل» تیز ګامونه اخیستل یو ځای کې ودریده او چیغې کړي:

«څوک یی؟ دا چا چیغې وهلې؟ څوک کریکې وهي؟»

چا ځواب ورنکړ څوګامه یې وړاندې واخیستل، یوې بلې خوایې ولیدل، څیره یې د باد له یخو موجونو پټه کړه، ناڅاپه یې واوري باندې د پښو خاپونو ته پام شو کوم چې باد ورکول «راحیل» د پښو همدا خاپې تعقیب کړل او مخکې لاړه، آخر هغه ځای ته ورسیده چیرته چې یو کس واورې باندې پروت و، زر،

زړه یې واوره تری لری کړه، د زړه ضربان یې ولید، زړه یې درزیده، بیا یې د کور خواته مخ کړ او په لوړ غږ یې چیغه کړه: «مریمې! زړکوه ..... زړکوه، رامنډه کړه ما هغه پیدا کړ .......»

«مریمه» له کوره راووته او د مور د پښو په خاپوړو تګ ته دوام ورکړ د څو دقیقو وروسته مورته ورورسیده، هغې هم یو ځوان واورې باندې پروت ولید، «راحیل» ځوان له دواړو لاسونو راپورته کړ او وې ویل:

«مریمې! دا ژوندی دی، لاس کړه ویې نیسه چې کورته یې یوسو»

دواړو ځوان پورته کړ، باد واوره پرې وروبشته پښې واورې کې خښیدې خو د ټولو مشکلاتو سره سره یې ځوان کورته ورساوه او هغه یې د انګیټې تر څنګ څملاوه، «راحیل» لاسونه او پښې وریاندې چاپې کول او «مریمې» د هغه لمده ویښته او سرې ګوتې زبیښلې، څو دقیقې وروسته ځوان ځان و خوزاوه، چې سترګو یې حرکت وکړ د ژوند امیدې پیدا شو «مریمې» چې د هغه څخه لمده بوټونه او لوند څادر ایسته کړ ټکان یې وخوړ او وې ویل:

«ګوره مورې ..... ګوره دا کوم راهب ښکاری ...... کالی یې راهبانو ته دی....»

«عجیبه خبر دی په داسې شپه خو راهبان له کلیسانه وځی خو دی څه مجبور کړی چې په داسې توپانی شپه کې له کلیسا وتلی»

بخاری ته یې وچ لرګی ورواچول «مریمې» ورته وویل: «مورې! ګوره ډیره تلری.... راهبان خواږه دی ډیری لری»

«راحیل» د ځوان خواته ولیدل او وې ویل:

«که راهب وی یا غل، موږ له د څه اخلو ..... انسان دی او موږ د پښو د خاپو له لاری پیدا کړی»

پاڅیده د الماری خواته لاړه هغه یې خلاصه کړه د شرابو کوزړی راواخیستنه، پیالی کې یې شراب واچول او مریمې ته یې وویل:

SIKARAAM

«سرېږي سم کړه، زه يې خولې ته شراب ورا چوم . . . بيا يې وجود يې گرم شي»
«مريمې» د هغه سر پورته کړ «راحيل» د ځوان شونډو سره پياله ولگوله چې
لږ شراب د ځوان ستونې ته ورغلل هغه وزو، ورو سترگې خلاصې کړې او شا
او خوا يې په ستو مانه نظر له سترگو تير کړل بيا يې په ډډ غږ وويل:
«الله تعالى دې برکت در کړي»
«راحيل» د هغه پر اوږو لاس کېښود او وې ويل:
«ځان ته د خبرو تکليف مه ورکوه، غلې شه، تر هغې چې ته ښه شې، وروره!
بالښت ته ډډه ولگوه، ځانگيتې ته رانږدې کړه او آرام وکړه».
ځوان بالښت ته ډډه ولگوله، په دې وخت کې «راحيل» هغه ته د شرابو بله
پياله ورکړه، بيا يې د «مريمې» خواته وليدل او وې ويل:
«تنده او سرېږي اور ته رانږدې کړه»
«مريم» يې سر بخارۍ ته نږدې کړ او بيا يې په مينې د ځوان خواته وليدل تا به
وې غمرازې ورسره کوي، «راحيل» دوه ډوډۍ او د اوبو ډکه پياله ورته
راوړه، له ډوډۍ سره څه ميوه هم وه، بيا د ځوان ترڅنگ کيناسته او خولې کې
يې په داسې بڼه ډوډۍ ورکوله لکه څنگه چې يوه مور خپل ماشوم ته ورکوي
ځوان چې لږه ډوډۍ وخوړه، بيدار شو، ځان يې وخوراوه او کيناست، د هغه په
څيره کې د اور لمبو ځلا پيدا کړه او سترگو کې هم نور پيدا شو، سرېږي پورته کړ
او وې ويل:
«زړه سوې او سخت زړيتوب د انسان په زړه کې داسې سره نښتې لکه په دې
توپاني شپه کې عناصر څو رحمت پر سخت زړيتوب غالب کيږي ځکه هغه
مقدس دې او د دې شپې ويرونکي حالت به ختم او سهار به شي».
غلې شو او د لږ څنډ وروسته يې وويل:
«د انسان لاس د ذلت خواته تيل وهلم او انساني لاس زه د سختې بې رحمې
او سخت زړې څخه خلاص کړم».

« راحیل » د همدردی نه ډک غږ سره تری وپوښتل:
« وروره! تا باندی څه شوی وه؟ په دی توپانی شپه دی راهب خانه ولی پریښوده په داسی شپه کی خو لیوان هم سوړو ته ننوځی او عقابونه تیږو کی پناه اخلی »
د ځوان په سترګو کی اوښکی راغلی، اوښکی یې سترګو کی ورکی کړی او ځواب یې ورکړ:
« د حیواناتو او مرغیو لپاره دا ټول سم دی خو د انسان لپاره دی نړی کی د آرامی ځای چیرته دی ؟! »
« راحیل » چې داواوریدل ژور فکر کی ډوبه شوه او هغه څه باندی د پوهیدو هڅه یې کوله چی ځوان ورته ویلی و څو دقیقی وروسته یې بیا وویل:
« راهب خانی کی زیاتی لوی کوټی شته، د زرو ذخیری شته د مالونو، غلو او شرابو څخه ډکه ده په دی توپانی شپه کی څه ته له هغه ځایه وتلو ته مجبور کړی؟ »
« ما دا ټول شیان پریښودل او له راهب خانی په زور وایستل شوم »
« راحیل » له هغه وپوښتل:
« راهب خانی کی راهب د هغه پوځی په شان وی کوم چی د جګړی ډګر کی وی، ما اوریدلی هغه کس راهب نشی جوړیدی چی خپل خواهشونه تریښولاندی نکړی، له تاپو ښتم چی د « قزحیا » د راهب خانی مشر تا ته څه امر وکړ چی ته داسی یوه توپان کی له کلیسا راوتلو ته مجبور شوی؟....
ځوان ځواب ورکړ:
« مشر راهب هغه راهب نشی زغملی چی ړوند، ګونګ او د هغه په اشارو ګډیدونکی نه وی زه یې په دی خاطر له هغه ځایه وایستلم چی داسی نه وم بلکی هر څه می لیدلی او اوریدلی شول »
« راحیل » او « مریم » ځوان ته ځیر، ځیر کتل او « راحیل » بیا تری وپوښتل:

«هغه انسان چې ليدلی او اوريدلی شي په داسې توپانې شپه کې بهروځي چې سترګې ړندوي او غوږونه کاڼه کوي»
ځوان اوږده ساه واخيسته او په ډډ غږ يې وويل:
«زه يې له راهب خانې وايستلم.......... وايې ايستلم»
«مريمې» د افسوسه ډکې لهجې سره همدا خبرې تکرار کړې، ځوان سر پورته کړ، د ښځو ورانديې د حقيقت ويلو باندې پښېمانه شو، وويريد، له ما کرکه ونکړي خو ليدل يې چې په څيروکې د نفرت نخښې نه وې. خپلې خبرې جاري وساتلې او وې ويل:
«هو! زه يې له راهب خانې وايستلم، ځکه چې ما په خپلو لاسونو خپل قبرنه کنده، زړه مې د مکر او دوکې ډک ژوند څخه په تنګ شوی و، د فقيرانو او مسکينانو د مال له خوړلو متنفر شوی وم او خپلې روح منع کړی يم چې د داسې قوم له خيرات لذت واخلم کوم چې ناپوه او بې وسه دي. له راهب خانې يې وايستلم ځکه چې وجود مې په دې پراخو کوټو کې آرامتيا ونه موندله کومې چې د ځتينو کوټو د اوسيدونکو په وينو جوړې شوې، ما ته ضمير د هغې ډوډۍ د خوړلو اجازه رانکړه د کومې وړه چې د يتيمانو او کونډو په اوښکو لمدېږي زما ژبې هغه عبادت قبول نکړ کوم چې مشر راهب يې د ايماندارو او ديندارو په نوم خرڅوي ځکه يې د جذام د بيمار په شان وايستلم!!»
ځوان غلی شو او د «مريمې» او «راحيل» څيروته يې ځيروکتل، «راحيل» ترې وپوښتل: «وروره! ستا مور پلار چېرته دي..... هغوی ژوندي دي؟»
ځوان ځواب ورکړ:
«زه نه مور لرم نه پلار، نه هم کومه خور او ورور او نه هم د اوسيدلو ځای........»
«راحيل» د هغه له خبرو متاثره شوه او اسويلی وايست، «مريمې» مخ د ديوال خواته واړاوه تر څو خپلې اوښکې پټې کړي ځوان د ژوند د داستان او-

ـ رولو په نیت خبری جاری وساتلی:

«اووه کلن وم چی مور، پلار می مړه شول، د کلی پادری د «قزحیا» راهب خانی ته راوستلم، راهب چی ولیدم خوشحال شو، ماته یې د غواګانو د څرولو دنده وسپارله او بیا چی پنځلس کلن شوم ماته یې دالوی تور کالی راواغوستل او راته وی ویل پر الله تعالیٰ او مقدساتو یې سوګند وخوړه او اقرار وکړه چی ځان به فقر، بنده ګی او عفت ته وقف کوې، تردی وړاندی چی د فقر، بنده ګی او عفت پر معنی ځان پوه کړم، تردی وړاندی چی هغه تنګه لاروګورم کومی باندی چی ما بیایې، د هغه ټکی مې تکرار کړل نو ځمی خلیل و او کله چی راهب شوم تر هغې زاوروسته یې ما باندی د مبارک ورور نوم کیښود خوزه یې خپل وروروته ګرځولم، هغه به غوښه او ښه ډوډی خوړله او ماته به یې وچه ډوډی او د بل وخت څخه پاتی شوی سابه راکول پخپله به یې د ښی ذایقی شراب څکل او ما باندی به یې د اوښکو ډکی او به څکلی، پخپله به نرمو بسترو باندی ویده کیده او زه به یې د تیږو پزغولی څملولم، زه کی مې ویل چی کله راهب شم او کله به دده په مقدسو، خواږو او خوږوکی شامل شم هغه وخت به کله راشی چی زړه مې د خوږو خوږو مور او د ډول، ډول شرابو پیښمانه شی او روح مې مشر راهب ونه ځوروی، هیلی مې پوره نه شوی ځکه هغه د غواګانو څرولو او تیږو ټکولو لپاره تاکلی وم، ما دا ټول کارونه یوازی د ډوډی په خاطر کول ځکه د راهب خانی پرته بل کور په نظر نه راته، چیرته مې شپه سبا کړی او خیته مې مړه کړی وی ... هغه ماته ښوونه کړی وه چی ددوی د ښوونو پرته هر څه کفر دی»

خلیل ځان سم کړ «راحیل» او «مریم» غلی ناستی وی او د هغه خبری اوریدی، «خلیل» بیا خبری پیل کړی:

«کوم خدای (ج) چی له ما مور او پلار واخیستل، زه یې یتیم کړم او راهب خانی ته یې ولیږلم هماغه خدا (ج) ته دا منظوره نه وه چی زه ټول عمر د ړندو په شان

تیاروسو روکی تیر کړم زما غوږونه او سترګی یې وغړولی او نور باندی منوری کړی ....... »

«راحیل» تری وپوښتل:

«ددی نور پرته بل نور هم شته؟ او ممکنه ده چی له دی حقیقت سره آشنا شو»

«خلیل» وویل:

«ریښتونی نور هماغه دی کوم چی د انسان په دننه کی ځلیږی او یو د بل د زړه له اسرارو خبروی خو حقیقت د ستورو په شان دی چی تل د ظلمت د پردو له شا راښکاره کیږی د نړی د نورو ښایسته څیزونو په شان ښکاره نه دی بلکی هغه کس یې لاس ته راوړی شی چی باطل ته شا کړی> حقیقت یو مخفی میلان دی چی زموږ ورځنی ژوند ته خوښی وربخښی..

خلیل په ځواب کی ورته وویل:

«هغه د باطل اعتقادات دی چی انسان بدی ورځی سره مخ کوی او دروغ دی هغه عواطف چی سختی زیږوی ځکه د انسان لپاره واجب ده چی د ځمکی پرسر نیکمرغی لاس ته راوړی او د نیکمرغی لاروپلتی، چاچی په دی ژوند کی فرشتی ونه لیدی، راتلونکی ژوند کی هم نشی لیدلی دا هغه ازلی حقیقت دی کوم چی ما د عیسی (ع) له ښوونو زده کړی او دا هغه نور دی چی زما په دننه کی وځلید او ماته یې د راهب خانی تیاری وښودی چی د هغو له پراخو تیارو او ژورو څخه راوتلو کی زما د ژوند ختمیدل هم د امکانه لری نه وه دا هغه پټ رازدی چی ماته دی ځنګل کشف کړ چیرته به چی زه دونو سیورو ته ناست وم ژړل به می او کړیکی به می کولی، یوه ورځ چی زه د آسمانی شرابو پر نشی مست شوم په لوړی حوصلی د راهبانو خواته ورغلم او هغو راهبانو ته می چی بڼ کی د مرموزو حیواناتو په شان ناست و خپل نظر څرګند کړ، هغوی ته می د مقدس کتاب هغه آیاتو نه ولوستل کوم چی د هغوی ګمراهی او کفریې روښانه کاوه ما هغوی ته وویل: موږ ولی ګوښی ژوند کړو د

غریبانو او فقیرانو له خیرات څخه ولې ګټه اخلو؟ ولې د هغوی پردودی ژوندکوو، دی دودی کی خو د هغوی د سترګو اوښکی او تندی خولی ګډی دی، ولی اوزګار ناست یو او عیش او عشرت کوو؟، آیا عیسی (ع) د میږو مینځ کی لیوان زیږولی یو، ولی!؟ داد کومی روزنی اغیزه ده چی تاسی د میږومینځ کی د لیوانو په شان ژوند کوی؟ ولی له انسان څخه لری تښتی، الله تعالی خو تاسی هم انسانان خلق کړی یې، که تاسی د ژوند کاروان کی لوړه درجه لری نو ورشی هغوی ته او که هغوی د لومړی درجی څښتنان دی نو بیاورشی له هغوی یې زده کړی دا څومره عجیبه خبرده چی د فقر استازی یاستی خود آمرینو په شان ژوند کوی د مقدس انجیل دعویداران یې خو له انجیل سر غړوی، د سپڅلتیا دعوا کوی خو پرلمنو یې شهوانی جذبو داغ لګیدلی ښیی چی خپل خواهشات مو ښو لاندی کړی خو خپله اروا فنا کوی، راشی چی ددی راهب خانی پراخی ځمکی مسکینانو باندی وویشو او هغه مال چی موږ تری اخیستی د هغوی جوب کی واچوو، راشی هغه خلک اصلاح کړو د چا په خیرات چی موږ عیشونه کوو ولی د مجرمانو او بدو انسانانو سره همدر دی کوو آیا هغوی ددی ملونځ کونکو څخه لوړ دی چی دلته عبادت کوی».

«خلیل» ودرید، د «راحیل» او «مریمی» خواته یې ولیدل، هغوی د بتانو په شان چوپ واودده خبری په غور اوریدی بیا یې وویل:

«ما راهبانو ته دا خبری وکړی، هغوی واوریدی او په څیروکی د حیرانتیا نخښی راښکاره شوی، یقین یې نه کاوه چی زما په شان یو ځوان به د هغوی مقابل کی ودریږی او داسی خبری به وکړی. کله چی زما خبری خلاصی شوی د هغوی یو تن مخکی راغی، غاښونه یې وچیچل اووی ویل:

«ای کمزوریه انسانه! ته زموږ په وړاندی دداسی خبرو جرئت کوی؟»

دوهم مخکی راغی او په کرکه یې وویل «تا دا حکمت له غواګانو او خنزیرانو

زده کړي ؟ »

د زیم رامخې ته شو اووې ویل: « کافره خبیثه! اوس به د دې خبرو انجام وګورې »

زما له مخې داسې پورته شول لکه چې کومه ګندګي وم، ځنې مشر راهب ته د شکایت لپاره ورغلل، ماښام یې وغوښتم، او په بې رحمۍ یې زما د یوې میاشتې د بند حکم صادره کړ، راهب کړسنده خندا کوله او نورو راهبانو په زور د جیل تورو کوټو ته تیل وهلم یوه میاشت د قبر په شان کوټه کې وم هلته را ته معلومه نشوه چې ورځ کله پیل کیږي او شپه کله ختمیږي، د راهبانو د تګ راتګ پرته د څه غږ مې نه اوریده، میاشت تیره شوه، له جیل ځخه را بهر شوم او راهبانو کله چې زما د وجود کمزورې او پوستکې زیړ واله ولید فکر یې وکړ چې د لوږې، تندې او عذاب له وجې به مې نظریات په طبعي مرګ مړه شوي وي او هغه جذبه چې الله تعالی زما په زړه کې راژوندې کړې وژل شوې به وي، شپې ورځې تیریدې او زه خپل نفس سره جهاد باندې بوخت وم څه وکړم؟ چې دا راهب نور وګوري او د ژوند نعمه واوري خوزه ناکام شوم ځکه کومه تیاره پرده چې داوږدې مودې راهیسې د هغه پرسترګو پرته وه هغه په څو ورځو کې نشوه پورته کیدلې او د هغه په غوږونو کې چې د غفلت کوم مالوچ ایښودلی شوي و هغه تیره ګرځیدلې و او په نرمو ګوتو د هغو راایستل ګران و ».

« خلیل » بیا غلی شو، د چوپتیا مینځ کې « مریم » سترګې پورته کړې او د خپلې مور خواته یې ولیدل داسې تا به وې چې دې خبرو ته یې متوجه کوي، بیا یې د « خلیل » خواته ولیدل او وې ویل:

« آیا تا بیا د راهبانو په وړاندې داسې خبرې وکړې د کومو له وجې چې هغوی ته په داسې ویر ونکې شپه کې بهر راوایستلې په داسې شپه خو انسان پر دښمن هم مهربانیږي »

«خلیل» ځواب ورکړ:

«نن ماښام چې وریځې راغلې او فضاګې یې جګړه پیل کړه د راهبانو څخه جلا شوم او کیناستم هغوی د انګار ترڅنګ ناست و، کیسې یې کولې او خندل یې، ما «انجیل» خلاص کړ د هغو آیتونو لوستل مې پیل کړل چې د نفسي میلان په اړه دي هغوی زما پر جلاوالي خندل، ځنې پاڅیدل ترڅنګ مې راغلل زما خواته یې ګوتې نیولې او خندل یې ما له هغوی سره هیڅ خبره ونکړه، «انجیل» مې بند کړ، آخر یوه په ریشخند وویل:

«ای لویه اصلاح کوونکیه! څه لولې؟»

ما د هغه خواته ولیدل، کتاب مې پرانست او په لوړ غږ مې ددې آیتونو لوستل پیل کړل: «هغه، هغه تولې ته چې دده د اعتماد په خاطر راوتلې وه وویل! دراتلونکې غضب څخه وویریږي او د توبې خوړه میوه پیدا کړې تاسو زړو نو کې وایې چې مونږ د حضرت ابراهیم (ع) او لادیو خوزه تاسوته وایم چې الله تعالی له دې تیږې هم د ابراهیم (ع) اولاد زیږولی شي، تبردوني ریښې پرې کوی او کومه ونه چې ښه میوه نه ورکوی هغه اور کې سوزوي، دلې وپوښتل مونږ څه وکړو؟ هغه ځواب ورکړ چاسره چې جامې وي هغه چاته دې ورکړي څوک یې چې نلري او څوک چې دوډۍ لري هغه دې هم داسې وکړي»

کله چې ما دا آیتونه ولوستل، راهب د یوې دقیقې لپاره غلی و داسې تابه وي چې چا یې اروا کلکه نیولې وي وروسته یې بیا وخندل او ملنډې یې پیل کړې یوه وویل: «مونږ دا کلام څو، څو ځلې اوریدلی، ضرورت نلرو چې دا کلام د یوه شپون څخه واورو».

ما هغوی ته وویل:

«که تاسې دا کلام لوستلی وي او پرې پوهیدلي یاستې نو بیا ددې کلیو خلک ولې دواورې د یخنې له وجې مرې؟ د لوږې ولې په تنګ دي؟ او تاسې

ولی د هغوی په خیراتونو مزی کوی؟ د هغوی دانګورو شربت ولی څکی او د هغوی د حیواناتو غوښی ولی خوری؟» زما پرشوندو دا خبری جاری وی چی یوه په څپېړه ووهلم، زما خبره ورته له حماقته ډکه ښکاره شوه وروسته یې په لغتو ووهلم، بل یې زما له لاس څخه انجیل واخیست او د ریم مشر راهب ته غږ کړ، هغه سمدستی راورسید او چی له کیسی خبر شو سترګی سری شوی، له زیاتی غصی ولړزید او په لړزیدونکی غږیې وویل:

«دا شریر باغی ونیسی، له راهب خانی یې وباسی تر څو د مرموزو عناصرو غضب ده ته د فرمانبرداری سبق وښیی، بیا خپل لاسونه ښه ووینځی تر څو د کفر له زهرو چی دده کالیو ته یې سرایت کړی بچ شی او که دی بیرته راوګرځید او د توبی چیغی وهلی دروازه مه ورته پرانیزی ځکه که مارپنجری کی بند کړی د هغه کوتره نه جوړیږی او که کوم زهر لرونکی بوټی دانګور بیخ کی خښ کړی د هغه خرما نه پیدا کیږی». راهبانو سمدستی ونیولم، د راهب خانی څخه بهر یې وایستلم او په خندا بیرته دننه شول، د دروازی تر بندولو وړاندی د یوه راهب دا خبره می واوریده چی:

« تر پرونه ته بادشاه وی، غواګانی او خنزیران ستار عیت، خوای اصلاح کوونکیه! نن ته موږ وایستلی اوس خرو او کچروته وښیه چی سوږو کی څه ډول ژوند وکړی».

«خلیل» یو اسویلی وایست او څیره یې د اور په شان سره شوه، لګیدلی اور نور هم ژبغږانده شو او په دردهډ ک غږیې وویل:

«په دې توګه راهبانو د مرګ کومی ته تیل وهلم، لاړم، غبار زما څخه لارورکه کړه، باد کالی راباندی څیری کړل او واورو می پښوته زولنی واچولی تر دی چی د وجود قوت می ختم شو او تر خو ګامو وروسته ولویدم، پوهیدم چی دویرونکی مرګ او تیارو سوږو پرته څه زما آواز نه اوری خو د واوری او باد له شا رنایې، د وریځو د پردی له مینځ څخه شنه آسمان، او ستوریو له شا څخه



SIKARAAM

هغه قوت چې ټول رحمت او شفقت دی زما آواز واورید او نه یې غوښتل مخکې له هغې چې زه د ژوند پاتې اسرار معلوم کړم له دی دنیا سترګی پټی کړم، تاسی یې ماته راولیږلي تر څو ما د دوزخ له لاری راوګرځوی».
ځوان غلی شو او دواړو د هغه خواته په داسی حیرانتیا او شفقت سره ولیدل تا په وی چی د هغه د زړه پر اسرار و وپوهیدی. «راحیل».وویل:
«الله تعالی چی چاته د هدایت او صداقت لار وښیی هغه نه ظلم فنا کولی شی او نه هم تویان، اونه واوره او باران هغه باندی اغیزه کولی شی».
«مریم» اسویلی وایست او وی ویل:
«تویان او واوره ګلان له منځه وړلی شی خو دانه یې نشی ختمولی»
د «خلیل» څیره د هغوی همدردی سره داسی وځلیده لکه څنګه چی د سهار وړانګی فضا منوره کوی بالښت یې ځان ته سم کړ او هغوی یې له سترګو وپوهیدی چی له خوبه ډکی دی، څو دقیقی تیری شوی د «خلیل» سترګی پټی شوی او داسی ویده شو لکه څنګه چی ماشوم د شودو تر رودلو وروسته ویده شی، «راحیل» او «مریم» هم پاڅیدل او دویده کیدو ځایونو ته لاړی،
«راحیل» د «خلیل» خواته ولیدل او وی وویل:
«په دی پټو سترګو کی داسی عجیب قوت دی چی د هغه د زړه د سکون غمازی کوی» «راحیل» زیاته کړه:
«دده په څیره کی ښځو سره د نرمی او نارینه اوسره د قوت توانائی پرته ده»
وروسته خوب دوی هم د خوبونو نړی ته یو وړل، ایره سړه، او د څراغ تیل ختم شوی و کوټه کی چوپتیا خوره شوه خو بهر د باد شور اوریدل کیده چی واوره یې یوی بلی خوا الوزوله.
دځاونیو راهیسی دواوری وریدلو جریان درلود، هر څه واوری پوښلی و «خلیل» دری ځلی کوښښ وکړ چی د سمندر لار ونیسی خو «راحیل» هغه منع کاوه او ورته وی ویل:

«وروره! په داسي توپاني موسم کي مه ځه، موږ سره اوسه، کومه ډوډۍ چې د دوکسانو خيته مړولی شی هغه د دريو لپاره هم کفايت کوی او دا اوربه ستا تر تلو وروسته هم بل وی، وروره! موږ فقيران يو خو د الله تعالی په فضل داسي ژوندی يو لکه نور انسانان چی دی، الله تعالی رزاق دی او زموږ ورځی، شپی تيرېږی»

«مريم» په سترگو کی هغه ته زاری کولی اوچو پواسويلو کی ورسره همدردی، کله چی «خليل» دی کورته راغی هغه وپوهيده، دی انسان کی هغه قوت موجود دی چی ددی زړه ته يې د ژوند او رڼايې سيوری وردننه کړی، په لومړی ځل يې دا حس کړې وه چی د يوی پيغلی زړه دگل په شان غوړولی کوم چی د شبنم قطری ځکی اوبوی زېږوی، ددی پتی جذبی څخه د خوښی بله جذبه نشته چی د بی خبری په عالم کی پيغلی ته پيدا کيږی، زړه يې په جادويي نغمو تسخيروی، ورځی يې د شاعرانو د خوبونو جال کی راگير کړی او شپه يې د پيغمبرانو په شان گرځيږی او د قدرت په دی اسرارو کی تردی وړاندی څه نه وی، د جذباتو او نرمو احساساتو له مخی د لبنان پيغلی تولو قومونو کی ممتازي دی، د لبنان پيغلی هغی چينی په شان دی چی د کانو د کی ځمکی له سينی څخه راوځی، خولا رنشی مونډلی چی تر سمندره ځان ورسوی، د ولاړو اوبو يا جهيل بنه څپلوی چی پرمخ يې د سپوږمی او ستورو وړانگی منعکسيږی «خليل» ته هم معلومه وه چی د «مريم» روح دده پرسر گرځی راگرځی، پوهيدلی و هغه مقدسه شعله چی دده زړه يې کلابند کړی د «مريمی» په زړه کی هم موجونه وهی فکر يې کاوه چی دا دارواو مفاهمت او يووالی دی چی کلی څخه ترتگ وروسته به د بخار په شان سر راپورته کوی، له ځان سره يې خبری پيل کړی :

«ای الله تعالی! دا څه پټ اسرار دی چی له ما سره لوبی کوی او زه تری غافل يم، دا د قدرت څه قوانين دی چی يو ځل مې غم او خپگان سره مخ کړی او بل

ځل خوشحالي او آرامتیا را په برخه کوي، کله د آسمان په لوړو څوکو کې تر نظر راځم او کله د دوزخ په کندو کې لاندي باندي کېږم دا ژوند څه دي چې کله د دوست او ملګرې په شان راسره ښاړه غړې کېږي او کله د ښمن په شان تېړونه راکوي، آیا تر پرونه زه د کلیسا د مجبورو انسانانو څخنې نه وم؟ ایا د دې حقیقت لپاره چې قدرت مې سینه روښانه کړې ما دا عذاب نه دی قبول کړی؟

او دا ویره څه ډول ده؟ددې پیغلې د سترګو راوتلی نور څخه ولې سترګې پټوم؟ که «راحیل» ته معلومه شي چې د راهب خاني څخه ذ راایستل شوی ځوان روح او د هغې د یواځنی لور روح سره یو ځای او یو بل ته نږدې شوي نو بیا به څه وایې؟ او که هغې ته معلومه شي هغه ځوان چې دوی له مرګه ژغورلی له لور سره یې د ملګرتیا لومه اینبې نو بیا به څه وکړې؟ او که بیا د کلي ساده خلک واورې یو ځوان چې راهب خاني کې لوی شو، بیا له هغه ځایه وایستل شو او اوس دلته کلي ته راغلی او د یوې ښایسته پیغلې سره ژوند کوي، هغوی به څه وایي؟ که زه هغوی ته ووایم چې ما له راهب خانې بغاوت کړی، تأسي ته راغلی یم په دې توګه به د هغوی غوږونه بند نشي که شیخ عباس چې غریبو بزګرانو مینځ کې د شاه په شان ژوند کوي زما کیسه واورې څه به وایې؟

او که خلک د کلیسا مسؤل ته دا ټولې خبرې وکړې د کوموله وجې چې زه له راهب خانی راایستلی یم هغه به څه ونکړي؟ «خلیل» دا ورتر څنګ کیناست له ځان سره یې ځیرې کولې خو «مریم» د هغه ځیرې ته لیدل او هغې کې پټې لیکنې د زړه په سترګه لوستې په دوهمه ورځ «خلیل» دورسي تر څنګ دریدلی و، ونې او کاڼي واورې سپین پوښلي و، دا منظره داسې ښکاریده تا یه وې چې مړوته دی کفن وراغوستی، «مریم» راغله، تر شأ یې ودریده، د سرک او «خلیل» خواته یې غلي، غلي لیدل، چې د دواړو سترګې یوه

وجنګيدی «خليل» اوږده ساه واخيسته، مخ يې بلې خواواړاوه، سترګې پټې کړې او داسې ښکاريده لکه چې روح يې له تن څخه وتلی وی.
ناڅاپی د «مريم» غږ د هغه پرغوږو ولګيد:
«چې واوره ولې او لاړې خلاص شی چيرته ځی؟»
«خليل» سترګې پرانيستې، لری يې وليدل او وی ويل:
«تقدير پوهيږی چې هغه ما چيرته ليږی»
«مريم» ولړزيده، اسويلی وايست او وی ويل:
«ولې کلی کې نه پاتې کيږې، تر څو مونږ سره ژوند وکړې، آيا دلته ژوند له پرديسی توب ښه نه دی؟
«خليل» ځواب ورکړ:
«د کلی خلک نه خوښوی چې له راهب خانې ايستل شوی انسان دی دلته واوسيږی دانشی زغملی چې د هغوی په فضا کې ساه واخلم ځکه چې دوی د راهبانو دښمن د الله تعالی د مقدساتو کافر او باغی بولی».
«مريم» غلی شوه او د لږ ځنډ وروسته «خليل» بيا وويل:
«مريمې! دی خلکو له راهبانو زده کړی د هر هغه کس سره دښمنی کوی چې له خپل عقل څخه کاراخلی او يايی تقليد نه کوی، همدارنګه له هغه کس څخه ځان لری ساتی چې ژوند په آزاده توګه تيروی او مريتوب نه خوښوی، که زه دی کلی کې پاتې شم او دوی ته ووايم، ای ورونو! راشی په خپلې خوښې لمونځ وکړو او هغه شان عبادت ونکړو په څه ډول يې چې راهب غواړی، ځکه دا د الله تعالی رضانه ده چې هغه داسی جاهلان معبود وګرځوی کوم چې د الله تعالی پرته د نورو تقليد کوی بيا به دا خلک ما کافر وبولی او وايې به چې دا د هغه حاکميت او واکداری سره دښمنی لری کومه چې الله تعالی دی راهبانو ته وربخښلی او که ما وويل چې ای ورونو! دخپل ضمير غږ واوری، د روح په



SIKARAAM

اشارو پرمخ ځي نو هغوی به وايي چې دا شرير انسان دی او موږ ته د کفر او شرک لاربنيي او له هغو لارو مومنحرفوی چې الله تعالی د ځمکې او آسمان مينځ کې جوړې کړی ».

« خليل » د « مريمې » خواته وليدل، « مريمې » دده خبرې اوريدې، د لږ ځنډ وروسته « خليل » بيا وويل: « مريمې! واوره! په دې کلي کې داسې جادودې کوم چې زه يې تسخير کړی يم الهي طاقتونو زه د راهبانو له ظلم او ستم څخه وژغورلم خو په دی کلي کې مرگ زما له سترگو سره سترگې جنگوی، دې کلي کې يو ښايسته گل گورم چې د ازغو مينځ کې پروت دی دی گل د ځان خواته کش کړی يم او ښه بوی يې زما د روح تل ته ځان رسولی زه دا گل پريږدم؟ او د تبلغ لپاره لرې لاړشم يا دا چې ددې گل سره واوسيږم او د خپلو افکارو او نظريو قبر په خپلو لاسونو د ازغو مينځ کې وکندم »

« مريمې »! دا خبرې واوريدې او داسې ولړزيده لکه د سهار ملايم شمال سره چې گل خو زيږی، د زړه وړانگو يې رخسارونه رڼا کړل او په شرمنده که لهجه يې وويل:

« تا سره زړه کې يو پټ قوت شته چې پخپله عادل او منصف دی، څه چې هغه وايي هماغسې وکړه ».

په همدې شيبه د « مريم » او « خليل » زړونه سره يو ځای شول.

شيخ عباس چې ددې کلي اميرو له راهبانو سره يې زياته مينه کوله، هغه د ده د ښوونو او تقليدونو ساتونکی وړاهب بزگران بې لارې کول او د هغه مريانو يې د کلي د کليسا مشر شيخ ته ورغی، د هغه نوم « الياس » و شيخ ته يې وويل: « مقدسو راهبانو د کليسا څخه يو باغی ځوان راايستلی او س هغه کافر د دواونيو راهيسې کلي ته راغلی او د « شمعان » د کونډې « راحيل » کورکې اوسيږی، غواړو چې زموږ کلی د کفر او الحاد له جراثيمو پاک شي، دا زموږ

فرض دی چی داسی یې له کلی وباسو لکه څنګه چی له راهب خانی ایستل شوی».

شیخ عباس ودرید لکه څنګه چی پرانګ تر حملی وړاندی لږ شاته ځی، د یوی دقیقی لپاره غلی شو او بیا یې له زیاتی غصی غوابونه وچیچل، خپل نوکران او مریان یې په ډډ غږ راوبلل هغوی ورته راحاضر شول او مخامخ ورته ودریدل شیخ وویل:

«د «راحیل» په کور کی یو مجرم ځوان دی، د راهبانو کالی اغوستی، لاړ شی، ویې تړی او دلته یې راوړی، که هغی نیځی څه مداخله وکړه ویې ونیسی، ویښتانو کی راونیسی واوری کی یې راکش کړی او دلته یې راورسوی ځکه د شریر مرسته کونکی هم شریر وی».

مریانو د بادار حکم پرځای کړ، د «راحیل» کورته یې ځانونه ورسول، په دی وخت کی «راحیل»، «مریم» او «خلیل» یوه دسترخوان باندی ډوډی ته ناست و، ناڅاپی دروازو پرانیستل شوه او نوکران ورودننه شول، «راحیل» وویریده، «مریمی» یوه کړیکه وکړه «خلیل» آرام و یو نوکر مخکی راغی د «خلیل» پر اوږه یې لاس کیښود اووی ویل:

«له راهب خانی څخه ایستل شوی ځوان ته یې؟!»

«خلیل» ځواب ورکړ:

«هو! زه یم، څه غواړی؟»

«مونږ ستا لاسونه تړو او د شیخ عباس کورته دی بیایو او که تا انکار وکړ بیا به دی مړی د وزی په شان کش کړو»

«راحیل» پاڅیده، رنګ یې زیړ شو او په لړزیدلی غږ یې وویل:

«ګناه یې څه ده چی شیخ غوښتی؟!»

«مریمی» وویل:

«دي يوائې دي او تاسي دري کسان ، دا ميرانه ده چې غواړي هغه سره لاس گريوان شي؟»

د شيخ يوه مزدور په غصه وويل:

«اې بې عقلې ښځې! غلې شه، دې کلي کې داسې ښځه شته چې د شيخ مقابل کې اعتراض وکړي »

بيا يې پړې راوايست تر څو د «خليل» لاسونه پرې وتړي، «خليل» ودريد، خيره کې دويرې نخښې نه ښکاريدې د شيخ نوکرانو ته يې وويل:

« زه ستاسې دې حالت باندې زوريږم، تاسې د ښمن په لاسونو کې ړنده توره ياستې، هغه ستاسې په لاسونو کمزوري وهي، زه هم تر پرونه ستاسې په شان وم او سبا به تاسې زما په شان وگرځې خو اوس يوي تياري زما د غږ او ستاسو غوږونو ترمنځ پرده جوړه کوي تاسې نه اوريدې شې او نه ليدې شې، راشي زما لاسونه وتړي او څه موچې زړه غواړي هغه وکړي ».

د شيخ نوکران د «خليل» په خبرو حيران شول په نه زړه رامخې ته شول داسې ښکاريده تا به وي چې د «خليل» خبرو هغو باندې جادو کړې وي خو د څو دقيقو وروسته بيرته خپل اولني حالت ته راغلل، د شيخ عباس غږيې غوږونو کې وکړنگيد او وريه زړه يې کړه چې د څه لپاره راغلي ياستي، مخکې راغلل د «خليل» لاسونه يې وتړل او غلي شان بهر راووتل له څيرويې داسې معلوميده چې د ضميرو ښنتيا غلي کړي، «راحيل» او «مريم» هم شاته وروسې راوانې شوې، ورکوتو کليو کې کوچنې خبر هم داور په شان خوريږي، څنگه چې د «شيخ عباس» نوکرانو «خليل» ونيوه دا خبر د کلي خلکو ته ورسيد، ټول له کورونو راووتل او د «شيخ عباس» کور خواته روان شول د هغه د کور پراخ انگړ د ښځو، نارينه و، او مريانو ډک شو «شيخ عباس» يوه لوی تخت باندې ناست و مخامخ ورته نوکران او مريان ولاړو،

مینځ کې «خلیل» چې لاسونه یې تړل شوي و په داسي لوړسر ولاړو لکه د خاورو د امبار وړاندې چې لوی غروي، خو «راحیل» او «مریم» چې تر شایې ولاړې وې ویریدلې، «شیخ عباس» د «خلیل» خواته ولیدل او داسي غږ سره یې تری پوښتنه وکړه لکه کوم ځنګل کې چې حیوان چیغه کړي:

«ستانوم څه دی؟»

«ماته «خلیل» وایی»

«کورنی دی چیرته اوسیږي؟»

«خلیل» د بزګرانو خواته ولیدل چې دده خواته یې په کرکه لیدل او وې ویل:

«دا مظلوم خلک زما کورنی ده او دا سیمه زما هیواد»

«شیخ عباس» وویل:

«ته چې کومو خلکو پورې خپل نسب تړې هغه تا ته جزاد رکوي او کومه سیمه چې خپل هیواد بولې هغه نه غواړي چې ته پکې واوسیږې»

«خلیل» ځواب ورکړ:

«جاهل قومونه خپل شریف زامن نیسي او د بې رحمه ظالمانو منګولو ته یې سپاري، او په ذلت کې ډوب کلي او ښارونه خپلو باغیانو باندې ظلم کوي»

«شیخ عباس» یوه وحشیانه خنداو کړه اووې ویل:

«ته راهب خانې کې شپون نه وې؟ که دا صحیح وي نو بیا دې ولې غداري وکړه او ولې له هغه ځای څخه وایستل شوې؟ ستا دا نظرو چې خلک ځان سره کړې او خلک به دراهبانو په نسبت تا ته میلان پیدا کړي؟»

«خلیل» ځواب ورکړ:

«زه شپون وم قصاب نه، مارمه شنهو ځمکو کې څروله، د کرکیلې ځمکو کې نه، او ماښام به مې چې بیرته راوسته وحشي حیواناتو ته مې تیاروکې نه پریښوده مالونې سره داسي برخورد کاوه که تا له دې انساني رمې سره چې دلته

راتوله ده داسي برخورد کړی وی ددی قوم به دا حال نه وی او نه به دا کم بختان خپلو تیاروکو تنو کی مړه شوی وی »

« شیخ عباس » چی دا واوریدل انګارو ګرځید .... له سترګو یې شغلی په وریدو شوی او په لوړ غږ یې وویل:

« چوپ شه خوړ ژبیه! ددی لپاره مو نه یې راوستلی چی بی هوده خبری دی واورو د محاکمی لپاره مو راوستلی یې، ته د دین او الله تعالی باغی یې، د مسیح (ع) د مقدسو راهبانو او د کلي له‌مشر څخه دی بغاوت کړی او په یاد ولره چی د کلی د سردار په وړاندی ولاړ یې، « الیاس » د کلیسا مشر او ددی کلي مقدس پلارستا په وړاندی دی هغه د کلي د مقدسی کلیسا استازی دی تا توهین کړی، کوم تورونه چی درباندی لګیدلی هغه دروغ ثابت کړه، بخښنه وغواړه، موږ به تاوبخښو، بیرته د غواګانو شپون وګرځه موږ به کلي کی داوسیدو اجازه درکړو »

« خلیل » په بی پروایې ځواب ورکړ:

« مجرم سره مجرم انصاف نشی کولی او نه هم ګنهکار باغی محاکمی ته راوستلی شی »

ځلور خواو ولاړ خلکو ته یې ځیر، ځیرو کتل بیا یې هغوی مخاطب کړل او ورته وی ویل:

« هغه کس، چا چی ستاسی وینه څکلی او ستاسی جسدونو باندی ځان ته کلا آبادہ کړی زما لاسونه تړلی اوزه یې دلته راوستلی یم چی محاکمه می کړی، او تاسی ټول په دی خاطر په منډه راغلی یاستی تر څو زما محاکمه وګوری، د شیخ او د هغه د مکار استازی ملاتړ وکړی خو مخکی تردی چی زما پرخلاف خبره وکړی خبری مې واوری، ما سره همدردی نه، انصاف وکړی ځکه همدردی کمزورو انسانانو سره کیږی او بی ګناه کس انصاف غواړی، غووونه

خلاص کړی او زما خبری په غور واوری او بیا مو چی څه زړه وغواړی د هغه سره سم انصاف وکړی او په یادو لری چی د ی کلیو کی حقیقت د پردو تر شا پټ دی، ای خلکو! زما گناه داده چی ستاسی پربربادی پوهیږم او غواړم تاسی له مریتوب خلاص کړم زما گناه داده چی په زړه کی مې تاسی او ستاسی او لادونو سره مینه او همدردی ده ای خلکو ! زه د تاسی له جملی څخه یم هغه الله تعالی باندی ایمان لرم چی ستاسی د دردناک زړه غږ اوری او ستاسی تېی سینی گوری هغه الله تعالی باندی ایمان لرم چی په دی نړی کی زموږ ستاسی مینځ کی دا خوت تیره اینبودلی، د دی نړی یو لاروی له تاسی پوښتم چی تاسی فصلونه ریبی، له غلو د خپل بادار گودام ډکوی او تاسی ته د بوسو پرته بل څه نه پاتی کیږی، بیا چی منی کی میوه تولوی او د انگورو شیره وباسی ستاسی په قسمت کی د سرکی او لرگی پرته څه نه وی، او د یخنی په موسم کی چی بیا تند باد درسره زیاتی پیل کړی او اورو باندی پوښل شو کوتو هوا درته یخ دوزخ وگرځی ای فقیرانو! دادی ستاسی ژوند، ای تباه شو انسانانو! دادی ستاسی توری شپی چی پرارواومومسلطی شوی دا هغه پټه کړیکه ده چی ما ستاسی د سینو له تله اوریدلی زه وینښ شوم ما له راهبانو بغاوت او د هغوی له تولنی او مننی انکار وکړ زه ستاسی او عدالت په نوم له هغوی جلا شوم هغوی کافر او شریر وبللم او له راهب خانی یې وایستلم دلته راغلم تر څو تاسی له بربادی خلاص کړم، ستاسی تر څنگ ژوند وکړم او ستاسی اوښکی پاکی کړم زما لاسونه تړل شوی او ستاسی قوی دښمن ته مخامخ درول شوی یم کوم چی ستاسی خیراتونو باندی خیټه اچوی ستاسو پزمال امیر گرځیدلی، د شیخ عباس پلار په همدی ورځو کی ستاسو د پلارونو حق نه وخوړلی؟ قانون د تورو په څوکو لیکل کیږی نه دی مو اوریدلی چی راهبانو ستاسو پلرونه او نیکونه مغلوب کړی او د هغوی پر

ځمکو او باغونوې قبضه کړی، هلته چې د کلیسا د پادري له خولې راوتلي خبره دانجیل آیت تصور کیږي آیا تاسې نه پوهیږي چې د دین استازي او دارثي شرف دعویداران ستاسې د ذلت او وینو څکلو باندې بوخت دي د تاسې له مینځ څخه کوم داسې کس شته چې د هغه سر د کلیسا مشر د شیخ مقابل کې نه وي ټیټ کړی، تاسې اوریدلي دي چې الله تعالی آدم (ع) ته ویلې و چې کارکوی او ډوډی لاس ته راوړی، نو بیا شیخ عباس هغه ډوډی ولی خوري چې ستاسو د تندیو خولې پرې توی شوی او هغه شراب ولې څکی کومو کې چې ستاسې اوښکې ګډې دي؟ آیا الله تعالی ده ته څه امتیاز ورکړی، آیا الله تعالی مور د مریتوب ژوند ته رالیږلی یو؟ دی قصر جوړوی خو د تاسې لپاره د ختینو کوتوپر ته داوسیدو ځای نشته الله تعالی تاسې ته دا ځمکه درکړی ترڅو د روزی او ژوند نور ضرورتونو ته وسیله شی نو آیا دا بیا د الله تعالی حکم دی چې هغه ستاسې له لاس څخه روزی واخلی؟

تاسې خپلو زامنو ته د مسیح ناصري د محبت او مینې درس ورکوی بیا ددی لانځکو د ښمنی او کینې فرمان برداری ولې ورښیې او په دی توګه د مسیح (ع) د ښوونو او شریعت مخالفت ولې کوی؟ ای مسیکنانو! څه دی ته مجبور کړی یاستی چې دا د ذلت ژوند وکړی او ولې دی بت ته سر په سجده یې، د چادرواغو او ریا چې ستاسې مشران پرقبرونو درولی، تاسې په خپلې فرمانبرداری د کومې ګران بیه شی ساتنه کوی چې ستاسې اولادونو ته په میراث پاتې شی؟

ستاسې ځانونه د کلیسا د مشر په لاس کې دي، جسمونه مو د شیخ ملکیت دي او زړونه مو د خپګان او غم په تیاروکی ډوب، په ژوند کې د څه خواته اشاره کولې شی چې ستاسې دي؟ ای کمزورو فرمانبردارانو! د کلیسا مشر څوک دی چې تاسې یې دومره احترام کوی او د خپلو ارواو د پټواسرارو

پوهیدونکی یې بولی واوری! تاسی ته وایم په څه چې پوهیږی ولی له ظاهرولو ویریږی؟ هغه خائن دی، عیسویانو د هغوی لاسونو ته مقدس کتاب ورکړی تر څو هغه ستاسو له لاسونو د مالونو اخیستلو وسیله وګرځوی، هغه وحشی لیوه کله چې د میږورمی ته داخلیږی شپون فکر کوی چې میږه ده او په اطمینان سره ویده کیږی خو کله چې تیاره خوره شی نو بیا میږی توټه، توټه کوی، یو حریص انسان دی چې مال اوزر ټولوی او د بنده ګانو وینی داسی څکی لکه څنګه چې د دښتی ریګ د باران څاڅکی جذب کوی، داکودی چې د کونډو او یتیمانو څخه پیسی اخلی، کتاب تری واخلی، څادریې څیری کړی، ډیره پری وشکوی او څه موچې زړه غواړی ورسره ویې کړی او بیا لاس کی پیسی ورکړی هغه موبخښی او په مینه درته خاندی، پر مخونو یې وولی، لاړی ورتو کړی، عقاید یې توهین کړی پر ایمان یې ملنډی ووهی او بیا د شرابو یوه کوزه او میوی یوه ټوکری وروليږی تاسی بخښی او د خدای او د هغه د بنده ګانو په وړاندی به درته، برکت لاس پورته کوی، هغه له تا احسان غواړی او د مال او زرو ټه درڅخه لری که تاسی هغه ته مال ورکړی روښانه ده چې دعا به درته کوی او که څه ورنکړی هغه به تاسی باندی لعنت وایې، هغه د عبادت خانی په دننه کی تاسی ته نصیحت کوی چې فقیرانو او محتاجانو سره مرسته کوی خو د کور شاو خوایې لوړی کریکی کوی، مخامخ یې مفلسان د خیرات لپاره لاسون اوږدوی خو دوی نه ګوری او نه یې اوری، لمونځ خرڅوی او څوک یې چې وانخلی هغه د الله تعالی او نبیانو مقابل کی کافر بولی او له جنت څخه یې محرومو ی ای مسکینانو! دا هغه راهب دی چې ستاسی وینه څکی دا د کلیسا هغه مشروی چې ښی لاس کی یې د صلیب نښان او کیڼ لاس باندی ستاسی زړو نه قبضه کړی هغه شخص دی چې نن شپه غواړی ما محاکمه او ذلیل کړی ځکه چې زما روح د مسیح (ع) له

د ښمنانو بغاوت کړی. . . »

د «خلیل» څیره وځلیده، وپوهید چې د لیدونکو سینو کې اروا راوپښېږي د خپلو خبرو اغیزه یې د لیدونکو څیرو کې لیده، غږیې له مخکې لوړ شو او وی ویل:

«ای ورونو! دا عقیده ده ستاسې پلار چې مینه درسره لري او د نبیانو له لاري د حق لاره درښودلې دا غواړي چې د لوږې مړه شې او یو هم د ژوند لذتونه لاس ته رانوړي، دا مو عقیده ده چې الله تعالی ددې لپاره طاقت درکړی چې یو کمزوری انسان مخکې تیل وهې؟ هیڅکله هم نه، زه ښه پوهیږم چې تاسې پردې خبرو عقیده نلرئ الهي عدل څخه منکرنه یې او د الله تعالی نور دروغ نه گڼئ، کوم چې خلکو ته رڼا یې وربخښي نو بیا څه مو مجبور وي چې یوه شریر انسان سره مرسته وکړي، ای د الله تعالی بنده گانو! څه ډول منې چې د یوه ظالم انسان غلامي وکړي میسح (ع) تاسې د ورور په نوم رابللی یاستې تاسې ولې ځانونه د شیخ عباس خادمان بولې؟ مسیح (ع) ستاسې ارواوې آزادې کړې، د حق لاره یې درښودلې بیا تاسې ولې د یوه ظالم امیر مریان کیږئ، مسیح (ع) سر لوړي کړي یاستې بیا ولې په ځمکه لوېږئ، مسیح (ع) مو زړونو کې نور پیدا کړی بیا ولې تیارو کې ساه اخلئ؟ »

«خلیل» لږ غلی شو، خلکو ته یې څیروکتل او د لږ ځنډ وروسته یې بیا وویل:

«نن شپه چې تاسې کومې خبرې له ما اوریدلې د همدو له وجې زه له راهب خانې ایستل شوی یم او کوم حقیقت چې هغه ( وس ستاسو زړونو کې موجونه وهي هماغه زما متې تړلی اوږوېې د شیخ په وړاندې د رولی یم او س که د کلې شیخ او د کلیسا مشر ما د دار تختې ته وخیجوي پرې خوشحاله یم »

د «خلیل» لوړ غږ خلکو باندې داسې اغیزه وکړه لکه یو ړوند انسان چې

سمدستی بیناشی، «شیخ عباس» او د کلیسا مشر الیاس له زیاتی غصی غاښونه وچیچل او داسی په ارخ شول تابه وی چی د ازغو پر سر پراته دی، کله چی «خلیل» وینا ختمه کړه، لږ شاته شو او د «راحیل» او «مریم» ترڅنګ ودرید، داسی چوپتیا خوره شوه تابه وی چی مرګ پر ټولو څادر غوړولی، «شیخ عباس» ودرید رنګ یې زیړ او څیره یې بدله شوه په لوړ غږ یې خلکو ته وویل:

«ای سپیو! څه دربانده شوی، نه اوری، فلج شوی یاستی، نشی کولی دا کافر ونیسی آیا دی شیطان روح پر تاسی غالبه شوی؟»

توره یې راوایستله او د «خلیل» خواته یې منده کړه خو د خلکو له مینځ څخه یو کس مخکی راغی او وی ویل:

«ای مشره! توره نیام کی کیږده کنه نو د توری بدل به په توره درکړشی» شیخ ولړزید توره یې له لاسه ولویده، چیغه یې کړه او وی ویل:

«آیا یو کمزوری نوکر د خپل بادار مخنوی کولی شی؟»

هغه ځواب ورکړ:

«ایماندار نوکر د ظلم په وخت کی خپل بادار مرسته نه کوی، دی ځوان د حق پر ته بل څه نه دی ویلی او اوریدونکو ته یې هم ریښتیا وویل»

یوه بل کس وویل:

«دی ځوان داسی خبر نه ده کړی چی د جزا مستحق وی»

په همدی وخت کی د «راحیل» غږ اوچت شو:

«ده نه د دین توهین کړی، نه یې خدا (ج) دروغ بللی بیا ته څنګه هغه ته کافر وایې؟ خپلو خبرو کی یې زمونږ ترجمانی کړی د مظلومانو حال یې بیان کړی په دی خاطر څوک چی شرارت کوی هغه د ټولو دښمن دی»

شیخ غاښونه وچیچل او وی ویل:

«ای کونډی! تا هم بغاوت کړی، له یاده دی وتلی چی له نن څخه پنځه کاله وړاندی ستا خاوند بغاوت وکړ انجام یې څه و؟ ما هغه وواژه او تاسره به هم هماغه کاروشی تا خپل بادار ته په توهین سره د مرګ لار غوره کړی»

«راحیل» چی دا واوریدل په غصی شوه ددی راز په پوهیدو ولړزیده د خلکو خواته یې مخ کړ او کړیکه یې کړه:

«اوری ای خلکو! دی قاتل په غصی کی خپل جرم باندی اعتراف وکړ، ای خلکو! ده نه ویل چی میړه دی پټیو کی مړ موندل شوی؟ آیا تاسی نه ویل چی د قاتل پته نه ده لګیدلی؟ خونن تاسی د «شیخ عباس» له خولی واوریدل چی قاتل څوک دی؟ وګوری! خدا (ج) قاتل رسوا کړ، جرم په روښانه کړشو د هغه په څیره کې لیکل شوی»

د «راحیل» د خبرو شیخ عباس ته یو ټکان ورکړ او د خلکو ولولی یې ماغزه د تندی شغلی په شان ووژل، ولړزید، «الیاس» پاڅید شیخ ته یې داډ ورکړ او په لړزیدلی غږ یې نوکرانو ته وویل:

«دا ښځه ونیسی، ستاسی پر بادار یې تور ولګاوه، دا کافر ځوان جیل ته واچوی او څوک چی پرتاسی اعتراض وکړی هغه هم جرم کی شریک بلل کیږی او دده په شان به د مقدسی کلیسا څخه محروم شی».

نوکران له ځایه ونه خوزیدل، د هغه امر یې ونه مانه، «راحیل» او «مریم» د «خلیل» ښی او کین خواته دریدلی و د کلیسا د مشر ږیره ریږدیده او وی ویل: «آیا تاسی خپل بادار سره نمک حرامی کوی؟»

د نوکرانو مسؤل ځواب ورکړ:

«موږ په دی خاطر د شیخ عباس خدمت کاوه چی خیتی مړی کړو د هغه مریان نه یو په دی خبری سره یې خپل څادر او خولی راوخیسته د شیخ عباس خواته یې وروغورځوله او وی ویل:

« نور دا د حقارت کالی نشم په تن کولی، او نه په دی خونړی کورکی عذاب پرڅان منلی شم »

نورو نوکرانو هم د هغه تقلید وکړ او په ځیروکی یې د آزادی نور په ځلیدو شو، د کلیسا مشر « الیاس » کله چی دا حالت ولید پوه شو چی د دوراغو د قدرت طلسم یې مات شو، غلی شان له هغه ځایه ووت او د خلکو ګڼه کوڼه ړنګه شوه، د خلکو له ګڼی ګوڼی یو کس مخکی راغی هغه د « خلیل » لاسونه خلاص کړل او « شیخ عباس » ته یې وویل:

« دی ځوان موږ ته د حق لاروښودله او دی کونډی موږ ته داسی راز افشأ کړ چی د پنځو کالو راهیسی پټ و، موږ دی کورته یوه بی وزلی سره انصاف او یوه مجرم ته د سزا ورکولو لپاره راغلی وخو چی دلته راغلو سترګی مو وغړیدی او الله تعالی موږ ته ستا ګناه او ظلم روښانه کړموږ په دی دعا سره له تا لری کیږو چی الله تعالی دی له تا انتقام واخلی »

د خلکو غالمغال زیات شو، غږونه اوچت شول:

« راځی چی له دی کور څخه لاړشو، له دیوالونو یې د ظلم او ګناه غشی وریږی »

یوه بل کس وویل:

« د عدل او انصاف غوښتنه داده چی سبا مشر راهب ته ورشو، هغه د « شیخ عباس » له جرمونو خبر کړو او تری وغواړو چی انصاف وکړی »

یوه بل کس چیغه کړه:

« موږ ته پکار دی له مشر راهب څخه وغواړو چی هغه « خلیل » د « شیخ عباس » پر ځای وټاکی »

یوه بل وویل:

« موږ باید لوی مشر ته د سیمی د کلیسا د مشر الیاس شکایت وکړو او دا

ورته روښانه کړو چې الياس په څه ډول ګناهونو کې شيخ عباس سره مرسته کړې »

د هرې خوا همدا غږونه و، پر شيخ عباس دويرې وريځې راخورې شوې «خليل» وويل:

«ورونو! بيړه مه کوئ، زه په مينه له تاسې غواړم چې مشر راهب ته مه ورځئ ځکه هغه انصاف نه کوي، نه هم لوی مشر ته د الياس شکايت وکړئ او نه هم دا هيله ښکاره کړئ چې زه ددې کلي مشر وټاکل شم که تاسې له ماسره مينه کوئ، اجازه راکړئ ستاسې مينځ کې ژوند وکړم په غم او خوښۍ کې درسره شريک شم »

«خليل» تردې خبرو وروسته له کوره ووت ټول خلک د هغه شاته روان شول کله چې کليسا ته ورسيدل د کليسا د منار له شا څخه سپوږمۍ سر راوچت کړ، ټوله سيمه ځليده «خليل» د هغو نارينه او ښځو خواته وليدل چې ده ته يې ليدل او په لوړ غږ يې وويل:

«اې آزادي! زه دزړه له تله تا غواړم، په دې تياره چاپيريال کې زموږ غږ واوره، تاته مولاس اوچت کړی، موږ وګوره، زموږ کالي د پلار، نيکه په وينو رنګ شوي، اې آزادي! موږ باندې رحم وکړه او زموږ کړيکه واوره، زړه موستا لار کې قربان کړي، زموږ ورميږونه د يو چا د غلامۍ څخه دبل غلامۍ ته ښکته کيږي واوره اې آزادي! زموږ کړيکې ته غوږ کيږده زړه ته موقوت ورکړه تر څو دښمنانو باندې مو متې زوروري وي »

«خليل» د آسمان خواته په زارۍ و خو بزګرانو ده کې سترګې نيولې وې هغوی دده له غږ څخه خوند اخيست کله چې دعا ختمه شوه د بزګرانو خواته يې وليدل او وې ويل:

« نن ځکه د «شيخ عباس» کورکې راټول شوی وچې د سهار نور وګورو، اوس

ځي خپلو، خپلو ځايونو ته ستانه شي

«خليل» «راحيل» او «مريم» د کور خواته روان شول، خلک خواره شول، يو ساعت وروسته کورونو کي څراغونه مړه شول، کلي کي چوپتيا خوره شوه او د بزګرانو ارواوي د خوبونو نړۍ ته ورسيدې.

ورو، ورو دوه مياشتي تيري شوي «خليل» د کلي خلک د خپلو ارواو له اسرارو او د هغوی له حقوقو خبر کړل، هغوی ته يې د مکارو راهبانو د ژوند نقشه وښودله او د واکدارانو د ظلمونو او خپل سريو کيسي ورته وکړې، بزګرانو د هغه خبرو سره زيات خوشحاليدل او هم يې خپلی کړکيلی ته دوام ورکړ، «شيخ عباس» ناروغی باندی اخته شو، ليوني شو، خپل کور کی به داسي ګرځيده راګرځيده لکه ليوه چي پنجری کی ګرځي، خپل نوکران به يې لوړ غږ باندی رابلل خو د ديوالونو پرته به چا ځواب نه ورکاوه کله چي ژمی راورسيد د «شيخ عباس» ورځي پوره شوی، ځنکدن په مخه کړ او بد حالت کی يې ساه ورکړه، ځينو خلکو ويل چي هغه د ژوند له بدبختيو په تنګ شوی و او ځان يې وواژه، کومی ښځي به چي د هغه ښځي ته د دعا او فاتحی لپاره ورتلی او چي بيرته به راغلی ميړونو ته به يې ويل «شيخ عباس» دويری مړ شوی ځکه چي د «راحيل» د ميړه «شمعان» روح نيمه شپه ورته راتله او هغه به يې په زور هغه ځای ته بوته کوم ځای کی چي پنځه کاله وړاندی وژلی و.

د سپرلی موسم د کلی خلکو ته د مينی هغه پټ راز روښانه کړ چي د «خليل» او د «مريمي» مينځ کی پروت و، هغوی دا نشوی منلی چي «خليل» دی تری لاړشي د هغوی يې زړونو ته يې رڼا وربخښلي وه، کله چي د لو وخت راغی بزګران لاړل پټيو کی غله ټولو له، اوس «شيخ عباس» نه و چي ددوی غله غصب کړی او خپلو ګودامونو ته يوسي، بزګرانو غنم، جوار، شراب او زيتون خپلو کوټو کی ځای پر ځای کړل «خليل» هغوی ته د کار او زحمت درس ورکاوه، د غلي ټولولو، شرابو جوړولو او خوندي کولو کی يې مرسته ورسره

کوله او ځان او هغوی مینځ کی یې کوم امتیاز ته ځای نه ورکاوه.
د هغی زمانی ښځه رانیولی تر ننه د کلی هر کس په خوښی سره کرکیله کوی او د ښونو میوی تولوی، همدا ددوی د کار ثمره ده، د ځمکی مالکان هغه دی چی کښت په کی کوی او انگور د هغو په برخه دی چی کری او ساتنه یې کوی.
نن له دی پیښی نیمه پیړی تیره شوی کله چی کوم پردیسی له دی لاری تیریږی او د ددی کلی سوکاله ژوند گوری حیرانیږی، د کلی پراخی سیمی شنی او ښایسته تر نظر راځی، ختین کورو نه په ښایسته کورونو بدل شوی او شا او خوایې شنه پټی او له میوو ډک ښو نه د ښایسته سپرلی په شان ښکاری که څوک وغواړی چی د «شیخ عباس» سرگذشت باندی ځان پوه کړی نو یو لاریښو د هغه یوی ماتی تیږی ته وروړی چی شا او خوایې دیوالونه رالویدلی او ورته وایې:
«دا د «شیخ عباس» مانی دی او دا دده تاریخ»
او که وپوښتی چی د «خلیل» سرگذشت او کارنامی څه دی نو لاریښود آسمان خواته لاس پورته کړی او وایې:
«زموږ صالح «خلیل» هلته او سیږی خو د هغه کارنامی زموږ نیکونو په زړینو کرښو زموږ د زړونو پر پاڼو لیکلی چی د زمانی یرغلونه او د وخت توپانونه یې نشی له مینځه وړلی».

PROPERTY OF ACKU
8072

## د خلیل جبران شهکار لنډو کیسو اثر کې به:

* د محبوب راستنیدل
* د قبرونو کړیکې
* ګلبدن
* د ناوې پالنګ
* د مړو په کلي کې
* توپان

او

* باغي ارواوې

**په نوم کیسې ولولې**

SIKARAAM